

# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر

ډاکټر محمد عثمان نظامي

سپاره نمبر 11

# بسم الله الرحمن الرحيم

يَعۡتَذِرُونَ إِلَيۡكُمۡ إِذَا رَجَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡۚ قُل لَّا تَعۡتَذِرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكُمۡ قَدۡ نَبَّأَنَا ٱللَّهُ مِنۡ أَخۡبَارِكُمۡۚ وَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٩٤﴾ سَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمۡ إِذَا ٱنقَلَبۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ لِتُعۡرِضُواْ عَنۡهُمۡۖ فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمۡۖ إِنَّهُمۡ رِجۡسٞۖ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٩٥﴾ يَحۡلِفُونَ لَكُمۡ لِتَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡۖ فَإِن تَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَرۡضَىٰ عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٩٦﴾

يَعۡتَذِرُونَ منافقان به عذر كوى إِلَيۡكُمۡ تاسو ته إِذَا كله چې رَجَعۡتُمۡ بيرته راشئ تاسو إِلَيۡهِمۡۚ هغوى ته(د تبوک د غزا څخه) قُل ته(ورته) ووايه لَّا تَعۡتَذِرُواْ چې عذر مه كوئ لَن نُّؤۡمِنَ لَكُمۡ مونږ هيڅكله په تاسو يقين نه كوو قَدۡ بېشكه نَبَّأَنَا مونږ خبر كړي يو ٱللَّهُ الله تعالى مِنۡ أَخۡبَارِكُمۡۚ ستاسو د خبرونو څخه وَ او(اوس هم چانس لرئ،كه توبه وباسئ،او خپل اعمال نيک كړئ،نو) سَيَرَى ګوري ٱللَّهُ الله تعالى عَمَلَكُمۡ عمل ته ستاسو وَرَسُولُهُۥ او د هغه«جل جلاله» پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» هم ثُمَّ تُرَدُّونَ بيا به بيرته وروستل شئ إِلَىٰ هغه(ذات) ته عَٰلِمِ چې عاليم دى ٱلۡغَيۡبِ په پټو وَٱلشَّهَٰدَةِ او ښكاره فَيُنَبِّئُكُم نو هغه جل جلاله به خبر كړي تاسو بِمَا په هغو(عملونو) باندې كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ چې تاسو به كول(په دنيا كې). ﴿٩٤﴾ سَيَحۡلِفُونَ قسمونه به خوري بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې لَكُمۡ تاسو ته إِذَا كله چې ٱنقَلَبۡتُمۡ تاسو بيرته راشئ إِلَيۡهِمۡ دوى ته(د تبوک څخه) لِتُعۡرِضُواْ د دې دپاره چې تاسو مخ واړوئ (چې تاسو تير شئ) عَنۡهُمۡۖ د دوى نه فَأَعۡرِضُواْ نو(په رښتيا هم) مخ واړوئ عَنۡهُمۡۖ د دوى نه إِنَّهُمۡ بېشكه دوى رِجۡسٞۖ ناپاک دي وَمَأۡوَىٰهُمۡ او ځاى د دوى جَهَنَّمُ جهنم دى جَزَآءَۢ (او دا

جهنم د دوی) جزا ده بِمَا په سبب د هغو(اعمالو) كَانُواْ يَكۡسِبُونَ چي
دوی به کول(په دنيا كې،او) ﴿٩٥﴾ يَحۡلِفُونَ دوی به قسمونه خورې لَكُمۡ
تاسو ته لِتَرۡضَوۡاْ د دې دپاره چې راضي شئ تاسو عَنۡهُمۡۖ د دوی نه
فَإِن نو كه چيرته تَرۡضَوۡاْ تاسو راضي(هم) شئ عَنۡهُمۡ د دوی نه
فَإِنَّ ٱللَّهَ ليكن بېشكه الله تعالى لَا يَرۡضَىٰ نه راضي كيږي عَنِ ٱلۡقَوۡمِ
ٱلۡفَٰسِقِينَ د نافرمانه خلكو څخه. ﴿٩٦﴾

ٱلۡأَعۡرَابُ أَشَدُّ كُفۡرٗا وَنِفَاقٗا وَأَجۡدَرُ أَلَّا يَعۡلَمُواْ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦۗ
وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٩٧﴾

ٱلۡأَعۡرَابُ اعراب(كليوال يا بانده چيان يا د اطراف خلک) أَشَدُّ ډېر
سخت دي كُفۡرٗا په كفر وَنِفَاقٗا او منافقت كې وَأَجۡدَرُ او احتمال شته
أَلَّا يَعۡلَمُواْ چې دوی نه پوهيږي حُدُودَ په حدودو مَآ د هغو(احكامو)
أَنزَلَ چې نازل كړي دي ٱللَّهُ الله تعالى عَلَىٰ رَسُولِهِۦۗ په خپل
پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» باندې(ځکه چې كليو او باندو كې د علم او
تعليم كولو امكانات كم وي) وَٱللَّهُ او الله تعالى عَلِيمٌ ډېر پوه حَكِيمٞ
(او) د حكمت خاوند دی ﴿٩٧﴾

وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغۡرَمٗا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ ٱلدَّوَآئِرَۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ
ٱلسَّوۡءِۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿٩٨﴾

وَمِنَ او ځيني ٱلۡأَعۡرَابِ د كليوالو(يا بانده چيانو) څخه مَن هغه
څوک دي يَتَّخِذُ چې ګڼي مَا هغه(مال) يُنفِقُ چې مصرفوي يې(د
الله تعالى په لاركې) مَغۡرَمٗا تاوان(او د زور قلنګ) وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ او
ستاسو په باره كې انتظار كوي(ای مسلمانانو) ٱلدَّوَآئِرَۚ د زماني د
ګردش(چې كه تاسو په كوم غم اخته شئ،نو هغوی به د خپلې غاړې څخه

د دغه نظام د اطاعت غاړه کی لرېِ کړي، کومه چې تاسو په غاړه کې وراچولي ده،لیکن) عَلَيۡهِمۡ په همدوی باندې دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۗ بد ګردش(مسلط او راتلوونکئ) دی (لیکن خراب وخت په خپله په منافقانو باندې مسلط او راتلوونکئ دی) وَٱللَّهُ او الله تعالی سَمِيعٌ ښه اوریدونکئ (او) عَلِيمٞ او پوه دی. ﴿٩٨﴾

وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَٰتٍ عِندَ ٱللَّهِ وَصَلَوَٰتِ ٱلرَّسُولِۚ أَلَآ إِنَّهَا قُرۡبَةٞ لَّهُمۡۚ سَيُدۡخِلُهُمُ ٱللَّهُ فِي رَحۡمَتِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٩٩﴾

وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ او ځینې د کلیوالو(یا بانډه چیانو یا اطرافیانو څخه) مَن هغه خوک دي يُؤۡمِنُ چې ایمان لرېِ بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ او په ورځ د آخرت باندې وَيَتَّخِذُ او ګڼې مَا هغه(مال) يُنفِقُ چې مصرفوي يې(د الله تعالی په لار کې،اسباب او ذریعه د) قُرُبَٰتٍ او (ګڼې يې اسباب) نزدې والي عِندَ ٱللَّهِ د الله تعالی سره وَصَلَوَٰتِ د دعاګانو ٱلرَّسُولِۚ د رسول الله«صلی الله علیه وسلم» أَلَآ خبر دار إِنَّهَا بېشکه دغه(مصرف د الله په لار کې،سبب د) قُرۡبَةٞ نزدې والي دی لَّهُمۡۚ د دوی دپاره (د الله تعالی سره) سَيُدۡخِلُهُمُ زر به داخل کړي دوی ٱللَّهُ الله تعالی فِي رَحۡمَتِهِۦٓۚ په خپل رحمت کې إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالی غَفُورٞ ډېر بخونکئ(او) رَّحِيمٞ مهربان دی. ﴿٩٩﴾

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٠٠﴾

وَٱلسَّٰبِقُونَ او (هغه) مخکيني ٱلۡأَوَّلُونَ اولنيِ(ايمان راوړونکيِ) مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ د مهاجرينو وَٱلۡأَنصَارِ او انصارو څخه وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ٱتَّبَعُوهُم چې پيروي يې کړي د هغوی بِإِحۡسَٰنٍ په نيکی سره رَّضِيَ راضي شوئ دی ٱللَّهُ الله تعالی عَنۡهُمۡ د هغوی څخه وَرَضُواْ او راضي شوي دي هغوی عَنۡهُ د هغه«جل جلاله» څخه وَأَعَدَّ او هغه«جل جلاله»تيار کړي دي لَهُمۡ هغوی ته جَنَّٰتٍ (داسې) جنتونه تَجۡرِي چې بهيږي تَحۡتَهَا لاندې د هغې(جنتونو) ٱلۡأَنۡهَٰرُ نهرونه خَٰلِدِينَ يې به دوی هميشه فِيهَآ په دغه جنتونو کې أَبَدٗاۚ تل تر تله ذَٰلِكَ دا (د الله تعالی رضاء حاصلول او په جنتونو کې تل اوسيدل) ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ډېره لويه کاميابي ده. ﴿١٠٠﴾

وَمِمَّنۡ حَوۡلَكُم مِّنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مُنَٰفِقُونَۖ وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعۡلَمُهُمۡۖ نَحۡنُ نَعۡلَمُهُمۡۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيۡنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٖ ﴿١٠١﴾

وَمِمَّنۡ او ځيني د هغه چا څخه حَوۡلَكُم چې ستاسو چار چاپيره دي مِّنَ ٱلۡأَعۡرَابِ د بانده چيانو(يا کليوالو يا اطرافيانو) څخه مُنَٰفِقُونَۖ منافقان دي وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِ او ځيني د مديني منورې د اوسيدونکو څخه(هم) مَرَدُواْ ټينګ دي عَلَى ٱلنِّفَاقِ په منافقت باندې لَا تَعۡلَمُهُمۡۖ (ای نبي«صلى الله عليه وسلم») ته هغوی نه پيژنې نَحۡنُ نَعۡلَمُهُمۡۚ مونږ هغوی پيژنوو سَنُعَذِّبُهُم مونږ به ډېر زر هغوی ته عذاب ورکړو مَّرَّتَيۡنِ دوه ځله(اول ځل په دنيا کې او دوهم ځل په قبر کې«قرطبي») ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٖ (د دې دوه ځله عذاب څخه) وروسته به بيا ډېر لوی عذاب(د جهنم) ته وروستل شي. ﴿١٠١﴾

وَءَاخَرُونَ ٱعۡتَرَفُواْ بِذُنُوبِهِمۡ خَلَطُواْ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴿١٠٢﴾

وَءَاخَرُونَ او (ځيني) نور (مؤمنان داسې)دي ٱعۡتَرَفُواْ چې دوی اقرار کړئ بِذُنُوبِهِمۡ په خپلو ګناهونو باندې خَلَطُواْ دوی ګډ کړي دي(د دوی) عَمَلٗا صَٰلِحٗا نيک اعمال وَءَاخَرَ سَيِّئًا او نور بد (اعمال د دوی) عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ نزدې ده(اميد دی) چې الله تعالى به په دوی باندې مهربانه شي( توبه به ئې قبوله کي) إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ بېشکه الله تعالى ډېر بخښونکئ (او) مهربان دی.﴿١٠٢﴾

خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾

مخکې آيت کې ذکر شو چې:کومو مؤمنانو چې په خپله ګناه يې اقرار وکړو،او توبه يې وويستله،نو خپل مالونه يې صدقه کړل او نبي عليه السلام ته يې راوړل،چې د دې مالونو په سبب مونږ د تبوک د غزا څخه پاتې شوي يو،نو څکه مونږ دا د الله تعالى په لار کې صدقه کوو،او زمونږ دپاره د الله تعالى څخه بخښنه وغواړه،نبي عليه السلام ورته وفرمايل چې ماته د دې د اخستلو حکم نه دی شوئ،نو دا مبارک آيت نازل شو!

خُذۡ واخله مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ د دوی د مالونو څخه صَدَقَةٗ صدقه تُطَهِّرُهُمۡ چې پاک کړي دوی وَتُزَكِّيهِم او صفا کړي دوی بِهَا په دې(صدقه)باندې وَصَلِّ او دعا وکړه عَلَيۡهِمۡۖ دوی ته إِنَّ بېشکه صَلَوٰتَكَ دعا ستا سَكَنٞ تسکين دی لَّهُمۡۗ د دوی دپاره(نو نبي عليه السلام د هغوی د مال څخه دريمه برخه د صدقې په توګه واخستلو،او باقې يې بيرته ورکړو،او دعائې ورته وکړه) وَٱللَّهُ او الله تعالى سَمِيعٌ عَلِيمٌ ښه اوريدونکئ (او) پوه دی. ﴿١٠٣﴾

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَأۡخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ آيا دوى نه پوهيږي(يعنې توبه ويستونكې) أَنَّ ٱللَّهَ چې بېشكه الله تعالى(هغه ذات دى چې:) هُوَ هغه جل جلاله يَقۡبَلُ قبلوي ٱلتَّوۡبَةَ توبه عَنۡ عِبَادِهِۦ د خپلو بندګانو وَيَأۡخُذُ او قبلوي ٱلصَّدَقَٰتِ صدقې(د بندګانو) وَأَنَّ ٱللَّهَ او بېشكه چې الله تعالى(هغه ذات دى چې:) هُوَ هغه«جل جلاله» ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ښه توبه قبلوونكئ (او) رحيم دى. ﴿١٠٤﴾

وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۖ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٠٥﴾

وَقُلِ او(اى نبي«صلى الله عليه وسلم» توبه ويستونكو ته ) ووايه ٱعۡمَلُواْ چې تاسو خپل اعمال كوئ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۖ او الله تعالى او د هغه«جل جلاله»پيغمبر«صلى الله عليه وسلم»او مؤمنان ستاسو اعمال وينې(چې تاسو څومره عملاً د توبې ويستلو ثبوت وركوئ) وَسَتُرَدُّونَ او ډېر زر به وروستل شئ إِلَىٰ (هغه ذات) ته عَٰلِمِ چې عاليم دى ٱلۡغَيۡبِ په پټو وَٱلشَّهَٰدَةِ او په ښكاره فَيُنَبِّئُكُم نو هغه«جل جلاله» به خبر كړي تاسو بِمَا په هغو(اعمالو)باندې كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ چې تاسو به كول(په دنيا كې) ﴿١٠٥﴾

وَءَاخَرُونَ مُرۡجَوۡنَ لِأَمۡرِ ٱللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمۡ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيۡهِمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠٦﴾

مخكې ذكر شو چې د تبوک د غزا څخه منافقان هم پاتې شو،او ځينې مؤمنان هم پاتې شوي وو،منافقان بيا دوه قِسمه وو،اول هغه منافقان چې

نبي عليه السلام ته يې د دروغو بهانې جوړي کړي او د نبي عليه السلام څخه يې د پاتې کيدلو اجازه اخستې وه،دوهم هغه منافقان چې هيڅ پروا يې ونکړه،او د دروغو د بهانو دپاره هم نبي عليه السلام ته را نغلل،او پرته د نبي عليه السلام د اجازې څخه پاتې شو.مؤمنان هم دوه قِسمه وو،اول هغه مؤمنان وو چې:پخپله ګناه يې اقرار وکړو،او توبه يې وويستله،دوهم هغه مؤمنان وو چې ډېر مخلص وو،او صرف د سستئ په سبب د غزا څخه پاتې شوي وو،نور يې هيڅ عذر نه لرلو،نو کله چې نبي عليه السلام او مجاهدين د تبوک څخه بيرته راغلل،نو دا مخلص پاتې شوى مؤمنان حيران وو،او نه پوهيدل چې څه وکړي،نو د دوى په باره کې نبي عليه السلام د الله تعالى په حکم نورو مسلمانانو ته وفرمايل چې د دوى سره خبرې او راشه درشه مه کوئ يعنې سوچه بايکاټ ورسره وکړئ،نو کله چې داسې وشول،نو په دوى دا لويه دنيا تنګه شوه.نو الله تعالى فرمايي!

وَءَاخَرُونَ او(ځيني) نور خلک دي مُرۡجَوۡنَ لِأَمۡرِ ٱللَّهِ چې (د هغوى د توبې معامله) د الله تعالى د حکم پورې ځنډول شوي ده إِمَّا يُعَذِّبُهُمۡ يا به دوى ته عذاب ورکړي وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيۡهِمۡۗ او يا به يې توبه قبوله کړي(نو د الله تعالى رحمت د هغه«جل جلاله»په غضب باندې غالب شو او د هغوى توبه قبوله شوه،چې ذکر به يې ان شاءالله د دې سورت په «۱۱۸»آيت کې راشي) وَٱللَّهُ او الله تعالى عَلِيمٌ حَكِيمٞ ښه پوه (او)د حکمت خاوند دى ﴿۱۰۶﴾

وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسۡجِدٗا ضِرَارٗا وَكُفۡرٗا وَتَفۡرِيقَۢا بَيۡنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَإِرۡصَادٗا لِّمَنۡ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبۡلُۚ وَلَيَحۡلِفُنَّ إِنۡ أَرَدۡنَآ إِلَّا ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ

لَكَٰذِبُونَ ﴿١٠٧﴾ لَا تَقُمۡ فِيهِ أَبَدٗاۚ لَّمَسۡجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقۡوَىٰ مِنۡ أَوَّلِ يَوۡمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِۚ فِيهِ رِجَالٞ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾

د ابوعامر په نوم يو، راهب چې د نبي علیه السلام سخت دشمن وو،او په هره غزا کې به د مسلمانانو په ضد د کفارو په صفونو کې جنګیدلو،خو کله چې په جزیرةالعرب کې یو محکم او قوی اسلام نظام جوړ شو نو ابو عامر شام ته لاړو،یعنې رومیانو ته یې پناه ورووړه،او د شام څخه یې هم د الله تعالی او د هغه د پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» سره خپلې دښمنۍ ته دوام ورکړو،او د اسلامي تحریک د منځه وړلو کوششونه ئې شروع کړل،غوښتل ئې چې د رومیانو د فوځونو په مرسته په مدینه منوره حمله وکړي،او اسلامي تحریک ختم کړي نو د دې مقصد دپاره ئې د مدینې منورې د منافقینو سره اړیکي ونیولي،او د یو مسجد د جوړولو مشوره یې ورکړه،منافقانو هم د ده په شیطانت د مسجد قبیَ سره په نزدې علاقه کې مسجد ضرار جوړ کړو ،اصلاً دا د اسلامي تحریک په ضد د منافقانو او د اسلام د دښمنامو یوه کمین او مرکز وو.منافقان نبي علیه السلام راغلل او ورته یې وویل چې:موږ خو دا مسجد د مسلمانانو د خیر دپاره جوړ کړئ دی،بل مسجد لږ لرې وو،موږ ټول لمونځونه په جمع سره نشو کولای،نو پخپله محله کې مو مسجد جوړ کړو چې ټول لمونځونه په آسانۍ سره په جمع وکړو،او د نبي علیه السلام څخه یې غوښتنه وکړه،چې هلته ورشي او لمونځ په کې آدا کړي.اوس آیت ته توجه وکړئ!

وَٱلَّذِينَ او هغو خلکو ٱتَّخَذُواْ چې هغوی جوړ کړئ دی مَسۡجِدٗا یو مسجد ضِرَارٗا د ضرر رسولولو دپاره(مسلمانانو ته) وَكُفۡرٗا او د کفر کولو دپاره وَتَفۡرِيقَۢا او د اختلاف(او تفرقې) اچولو دپاره بَيۡنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو په منځ کې وَإِرۡصَادٗا او د کمین(مورچل) د جوړولو دپاره

لِّمَنۡ د هغه چا لپاره حَارَبَ چې هغه جنګ کړئ دی ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ د الله تعالی او د هغه«جل جلاله» د پیغمبر سره مِن قَبۡلُۚ مخکې د دې څخه وَلَيَحۡلِفُنَّ او خامخا به قسمونه خوري دوی(کله چې تا ته راشي او وایې به) إِنۡ أَرَدۡنَآ چې مونږ آراده نه ده کړې إِلَّا ٱلۡحُسۡنَىٰۖ مګر د نیکی(اراده موکړې ده چې مسلمانانو ته خیر وروروسوو) وَٱللَّهُ او الله تعالی يَشۡهَدُ شاهديورکوي إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ چې بیشکه دوی دروغجن دي. ﴿١٠٧﴾

لَا تَقُمۡ (او ای نبي علیه السلام) مه ودرېږه(د لمونځ دپاره،مه کوه لمونځ فِيهِ په دې(مسجد) کې أَبَدٗاۚ هیڅکله لَّمَسۡجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقۡوَىٰ بېشکه هغه مسجد چې د تقوا په بنسټ جوړ شوئ دی مِنۡ أَوَّلِ يَوۡمٍ د اولې ورځې څخه أَحَقُّ د دې وړ دی أَن تَقُومَ فِيهِۚ چې ته ودرېږې(لمونځ ته) په هغې کې(علماء وایې چې د دې نه مسجد قبا مراد دی) فِيهِ په هغې کې رِجَالٞ داسې خلک دي يُحِبُّونَ چې هغوی خوښوي أَن يَتَطَهَّرُواْۚ پاکوالی وَٱللَّهُ او الله تعالی يُحِبُّ خوښوي ٱلۡمُطَّهِّرِينَ پاک (خلک) ﴿١٠٨﴾

أَفَمَنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ تَقۡوَىٰ مِنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٍ خَيۡرٌ أَم مَّنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٖ فَٱنۡهَارَ بِهِۦ فِي نَارِ جَهَنَّمَۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٩﴾

أَفَمَنۡ نو آیا هغه څوک أَسَّسَ چې بنسټ یې ایښئ وي بُنۡيَٰنَهُۥ د خپلې ابادی عَلَىٰ تَقۡوَىٰ په تقوئ باندې مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالی وَرِضۡوَٰنٍ او په رضاء باندې(د الله تعالی،نو آیا دا کس) خَيۡرٌ ډېر بهتر دی؟ أَم یا(که) مَّنۡ هغه کس(ډېر بهتر دی؟) أَسَّسَ چې هغه بنسټ ایښئ وي بُنۡيَٰنَهُۥ د خپلې ابادی عَلَىٰ شَفَا په غاړه د جُرُفٍ هَارٖ د یوې غورزیدونکې کندې باندې فَٱنۡهَارَ بِهِۦ نو هغه(ابادې) د هغه(کس) سره وغورزیږي

فِي نَارِ په اور کې د جَهَنَّمَۗ د جهنم وَٱللَّهُ او الله تعالی لَا يَهۡدِي نه کوي هدايت ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمانو خلکو ته. ﴿١٠٩﴾

لَا يَزَالُ بُنۡيَٰنُهُمُ ٱلَّذِي بَنَوۡاْ رِيبَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١١٠﴾

لَا يَزَالُ هميشه به بُنۡيَٰنُهُمُ ابادي د دوی ٱلَّذِي هغه(ابادي يعني مسجد ضرار) بَنَوۡاْ چې دوی جوړ کړئ دی رِيبَةٗ سبب د شک وي فِي قُلُوبِهِمۡ په زړونو د دوی کې إِلَّآ مگر(هغه وخت به يې شک ختم شي) أَن تَقَطَّعَ چې قطع-قطع شي(چې غوځ-غوځ شي) قُلُوبُهُمۡۗ زړونه د دوی (د مرگ په سبب،ځکه چې علم اليقين به يې په عين اليقين بدل شي او هر څه به په سترگو وگورې) وَٱللَّهُ او الله تعالی عَلِيمٌ عليم (او) د حَكِيمٌ حکمت خاوند دی. ﴿١١٠﴾

۞ إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِۚ فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي بَايَعۡتُم بِهِۦۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١١١﴾

ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلۡعَٰبِدُونَ ٱلۡحَٰمِدُونَ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّٰجِدُونَ ٱلۡأٓمِرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡحَٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٢﴾

۞ إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالی ٱشۡتَرَىٰ اخستي دي مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو څخه أَنفُسَهُمۡ ځانونه د هغوی وَأَمۡوَٰلَهُم او مالونه د هغوی بِأَنَّ په بدل د دې کې چې بېشکه لَهُمُ د دوی دپاره ٱلۡجَنَّةَۚ جنت دی يُقَٰتِلُونَ دوی جنگ کوي فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی په لار کې فَيَقۡتُلُونَ نو دوی وژل(هم) کوې وَيُقۡتَلُونَۖ او دوی وژل کيږي(هم) وَعۡدًا (د

دوی سره د جنت) وعده ده عَلَيۡهِ د هغه«جل جلاله) په ذمه باندې حَقّٗا حقه(کلکه) فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ په تورات کې وَٱلۡإِنجِيلِ او په انجيل کې وَٱلۡقُرۡءَانِۚ او په قرآنکريم کې وَمَنۡ او څوک أَوۡفَىٰ ډېر زيات پوره کوونکئ دی بِعَهۡدِهِۦ د وعدې خپلې مِنَ ٱللَّهِۚ د الله تعالی نه(يعنې دا نو د انسان وعده نه ده چې نن يې کوي او بله ورځ يې ماتوې،دا د کائناتو د خالق وعده ده،څوک چې خالص د الله تعالی په لار کې د الله تعالی د رضاء دپاره جهاد کوي،الله تعالی ورسره د جنت وعده پوره کوي) فَٱسۡتَبۡشِرُواْ نو خوشالي وکړئ تاسو بِبَيۡعِكُمُ په خپله سودا باندې ٱلَّذِي هغه سودا بَايَعۡتُم بِهِۦۚ چې تاسو تړون وکړو په هغې سره(د الله تعالی سره،چې:ځان او مال مو په الله تعالی باندې خرڅ کړو او په مقابيل کې مو د الله تعالی رضاء او جنت خوښ کړو وَذَٰلِكَ او دا(د الله تعالی رضاء او جنت حاصلول) هُوَ همدا ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ډېره لويه کاميابي ده. ﴿١١١﴾

ٱلتَّٰٓئِبُونَ (دا خلک) توبه ويسوونکې دي ٱلۡعَٰبِدُونَ عبادت کوونکې دي ٱلۡحَٰمِدُونَ حمدوثناء ويوونکې دي ٱلسَّٰٓئِحُونَ روژه نيوونکې دي ٱلرَّٰكِعُونَ رکوع کوونکې دي ٱلسَّٰجِدُونَ سجده کوونکې دي ٱلۡأٓمِرُونَ حکم کوونکې دي بِٱلۡمَعۡرُوفِ په نيکو کارونو باندې وَٱلنَّاهُونَ او منع کوونکې دي عَنِ ٱلۡمُنكَرِ د بدو کارونو نه وَٱلۡحَٰفِظُونَ او ساتونکې دي لِحُدُودِ د حکمونو ٱللَّهِۗ د الله تعالی وَبَشِّرِ او زيری ورکړه ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنانو ته ﴿١١٢﴾

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ وَلَوۡ كَانُوٓاْ أُوْلِي قُرۡبَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿١١٣﴾

مَا كَانَ نه دي(روا) لِلنَّبِيِّ پيغمبر ته وَٱلَّذِينَ او هغو(خلکو ته) ءَامَنُوٓاْ چې ايمان يې راوړئ دی أَن چې يَسۡتَغۡفِرُواْ دوی بخښنه

وغواړي لِلۡمُشۡرِكِينَ مشركانو ته وَلَوۡ كَانُوٓاْ او اګر كه وي دوى أُوْلِي قُرۡبَىٰ نزدې خپلوان مِنۢ بَعۡدِ مَا وروسته د هغې تَبَيَّنَ چې ښكاره شوه(چې معلومه شوه) لَهُمۡ دوى ته(يعني مؤمنانو ته) أَنَّهُمۡ چې بېشكه هغوى(يعني مشركان) أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ دوزخيان دي(يعني چې ورته معلومه شي چې مړشوئ كس په كفر او شرک كې مړ شوئ دى،او ايمان يې نه و راوړئ نو د الله تعالى څخه به بخښنه ورته نه غواړي) ﴿١١٣﴾

وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٞ ﴿١١٤﴾

وَمَا كَانَ او نه وه ٱسۡتِغۡفَارُ بخښنه غوښتل إِبۡرَٰهِيمَ د ابراهيم عليه السلام لِأَبِيهِ د خپل پلار دپاره إِلَّا مګر(د ابرهيم عليه السلام بخښنه غوښتنه د خپل پلار دپاره) عَن مَّوۡعِدَةٖ د يوې وعدې په سبب و وَعَدَهَآ چې هغه عليه السلام كړې وه هغه(وعده) إِيَّاهُ د هغه سره (يعني كله چې د ابراهيم عليه السلام پلار هغه عليه السلام د كور څخه وويستلو نو ابرهيم عليه السلام د تللو په وخت كې ورته وويلې چې:زه به د خپل رب څخه ستا دپاره بخښنه وغواړم ) فَلَمَّا خو كله چې تَبَيَّنَ واضح(او ښكاره) شوه لَهُۥٓ هغه ته(يعني ابراهيم عليه السلام ته) أَنَّهُۥ چې هغه(يعني د هغه عليه السلام پلار) عَدُوّٞ لِّلَّهِ د الله تعالى دښمن دى تَبَرَّأَ نو هغه عليه السلام بيزاره شو مِنۡهُ د هغه څخه(يعني د خپل پلار څخه) إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ بېشكه ابراهيم عليه السلام لَأَوَّٰهٌ ډېر نرم دله(د نرم زړه خاوند) حَلِيمٞ د زغم خاوند و. ﴿١١٤﴾

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِلَّ قَوۡمَۢا بَعۡدَ إِذۡ هَدَىٰهُمۡ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾

وَمَا كَانَ او نه دى ٱللَّهُ الله تعالى (داسې ،او دا د الله تعالى كړنلار نه ده) لِيُضِلَّ چې هغه«جل جلاله» ګمراه كړي قَوْمًۢا يو قوم بَعْدَ وروسته إِذْ كله چې هَدَىٰهُمْ هغه «جل جلاله» هدايت وكړي هغوى ته حَتَّىٰ تر څو چې: يُبَيِّنَ واضحه(او روښانه كړي) لَهُم هغوى ته مَّا هغه څه يَتَّقُونَۚ چې هغوى(بايد) ورڅخه ځان وساتي(يعني تر څو چې د يو كار څخه د منع كيدلو په باره كې الله تعالى واضحه حكم نه وي نازل كړئ نو د هغه كار په كولو سره الله تعالى بنده نه نيسي،خو كه د منع كيدلو د حكم د نازليدو نه وروسته بنده هغه كار وكړى نو الله تعالى ورڅخه پوښتنه كوي.دلته هغو مؤمنانو ته بخښنه شوي ده چې د ناخبرئ يعني د دې آيت د نازليدلو څخه مخكې يې د خپلو مشركانو خپلوانو او مور او پلار دپاره د بخښنې دعاګانې كړې دي) إِنَّ ٱللَّهَ بېشكه الله تعالى بِكُلِّ شَيْءٍ په هر شي باندې عَلِيمٌ ښه پوه دى ﴿١١٥﴾

إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۖ يُحْيِۦ وَيُمِيتُۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١١٦﴾

إِنَّ ٱللَّهَ بېشكه الله تعالى(هغه ذات دى چې:) لَهُۥ د هغه دپاره ده مُلْكُ بادشاهى ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلْأَرْضِۖ او د ځمكې يُحْيِۦ هغه «جل جلاله» ژوندي كول كوي وَيُمِيتُۚ او هغه«جل جلاله»مړه كول كوي وَمَا لَكُم او نشته ستاسو دپاره مِّن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالى څخه مِن وَلِيٍّ څوک دوست وَلَا نَصِيرٍ او نه مرسته كوونكئ ﴿١١٦﴾

لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ ٱلْعُسْرَةِ مِنۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْۚ إِنَّهُۥ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٧﴾

لَّقَد بېشکه تَّابَ مهرباني وکړه ٱللَّهُ الله تعالى عَلَى ٱلنَّبِيِّ په نبي«عليه السلام» باندې وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ او په مهاجرينو(باندې،هغوى چې مدينې منورې ته يې هجرت کړئ وو) وَٱلۡأَنصَارِ او(الله تعالى مهرباني وکړه )په انصارو باندې ٱلَّذِينَ هغوى ٱتَّبَعُوهُ چې پيروي(او تابعداري)يې وکړه د هغه عليه السلام فِي سَاعَةِ ٱلۡعُسۡرَةِ په سخت وخت کې مِنۢ بَعۡدِ مَا وروسته د هغې كَادَ چې نژدې شوي وو يَزِيغُ چې کاږه شي قُلُوبُ زړونه فَرِيقٖ د يوې ډلې مِّنۡهُمۡ د هغوى څخه ثُمَّ تَابَ نو هغه«جل جلاله» مهرباني وکړه عَلَيۡهِمۡۚ په هغوى باندې إِنَّهُۥ بېشکه هغه«جل جلاله» بِهِمۡ په هغوى باندې رَءُوفٞ ډېر مهربان رَّحِيمٞ (او) رحم کوونکئ دى ﴿١١٧﴾

وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١١٨﴾

کله چې نبي عليه السلام د تبوک د غزا څخه مدينې منورې ته بيرته تشريف راوړو،نو کوم کسان چې غزا ته نه وو تللي د دوى څخه به منافقانو د ځان د خلاصولو دپاره ډول-ډول د دروغو عذرونه نبي عليه السلام ته جوړول،ليکن په دې کسانو کې ځينې کسان داسې هم وو چې غزا ته خو نه وو تللي مګر سوچه او پاک مسلمانان وو، نبي عليه السلام ته يې په خپله غلطۍ اقرار وکړ او د ځان د خلاصولو دپاره يې د دروغو عذرونه جوړ نه کړل،په دوى کې بيا خينې کسانو ځانونه د مسجد نبوي(صلى الله عليه وسلم) د ستنو پورې وتړل تر څو يې چې الله تعالى توبه قبوله کړي او معاف يې کړي ،الله تعالى دوى معاف کړل او توبه يې قبوله شوه.خو په دوى کې درې کسان بيا داسې وو چې د نبي عليه السلام

په مخکې يې د خپلې غلطۍ اقرار وکړو ليکن ځانونه يې د مسجد د ستنو پورې ونه تړل او خپله فيصله يې الله تعالی ته پريښودله،پيغمبر عليه السلام د الله تعالی په حکم ټول مسلمانان ورسره د خبرو کولو او راکړې او ورکړې څخه منعه کړل حتی چې د ښځو څخه هم جدا شول،دوی ته دا جزا پنځوس(۵۰) ورځې ورکول شوه او د (۵۰)ورځو وروسته يې الله تعالی توبه قبوله کړه.په دې مبارک آيت کې د دې درې کسانو د توبې د قبليدلو ذکر دی.

وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ او هغو درې کسانو ته(هم الله تعالی ببننه وکړه) ٱلَّذِينَ چې د هغوی(د توبې فيصله) خُلِّفُوا۟ وروسته شوې وه(ځنډيدلې وه،دوی ته د مسلمانانو سره د تعلقاتو د قطع کولو جزا ورکول شوه) حَتَّىٰٓ د هغې پورې إِذَا چې کله ضَاقَتْ تنګه شوه عَلَيْهِمُ په هغوی باندې ٱلْأَرْضُ ځمکه بِمَا رَحُبَتْ سره د هغې(يعنې ځمکې) د پراخوالي وَضَاقَتْ او پيټی شو عَلَيْهِمْ په دوی باندې أَنفُسُهُمْ ځانونه د دوی(يعنې دا لويه ځمکه وربانديې تنګه شوه،او د خپلو ځانونو پورې په تنګ شو) وَظَنُّوٓا۟ او يقين يې وکړو أَن چې لَّا نشته دی مَلْجَأَ د خلاصوالي(او پناه) ځای مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالی د عذاب څخه إِلَّآ إِلَيْهِ پرته پخپله د هغه«جل جلاله» د رحمت د لمنې څخه ثُمَّ وروسته(د پنځوس ورځو سزا څخه چې مسلمانو ورسره خبرې او تعلقات ختم کړي وو) تَابَ هغه«جل جلاله» رحم وکړو عَلَيْهِمْ په دوی باندې(توفيق ئې ورکړو) لِيَتُوبُوٓا۟ چې توبه وباسي إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالی(چې دی) هُوَ هغه «جل جلاله» ٱلتَّوَّابُ ډېر ښه توبه قبلوونکئ ٱلرَّحِيمُ (او) رحم کوونکئ دی. ﴿۱۱۸﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَكُونُوا۟ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿۱۱۹﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو خلكو ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړئ دى(اى مؤمنانو)
ٱتَّقُواْ وويرېږئ تاسو ٱللَّهَ د الله تعالى څخه وَكُونُواْ او(ملګري) شئ
مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ د رېښتينو خلكو سره ﴿١١٩﴾

مَا كَانَ لِأَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُواْ عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ وَلَا يَرْغَبُواْ بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِۦۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٌ صَٰلِحٌۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾

مَا كَانَ نه وو جايز(او روا) لِأَهْلِ اوسيدونكو ته ٱلْمَدِينَةِ د مدينې منورې وَمَنْ او هغه چا ته حَوْلَهُم چې د دوى خوا او شا دى(يعني چې د مدينې منورې خوا او شاه اوسيږي) مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ د بانډچيانو(يعني كليوالو،اطرافيانو) څخه أَن چې يَتَخَلَّفُواْ دوى وروسته پاتې شوي وو عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ د پيغمبر عليه السلام څخه(كله چې هغه عليه السلام د تبوک غزا ته تللو) وَلَا يَرْغَبُواْ او دوى بايد غوره(او بهتر) ونه ګڼي بِأَنفُسِهِمْ خپل ځانونه عَن نَّفْسِهِۦ د هغه«صلى الله عليه وسلم» د ځان څخه (يعني د الله تعالى په لار كې د جهاد كولو كوم تكليفونه چې نبي عليه السلام زغمي،دوى خو د هغه عليه اسلام څخه زيات نه دي،دوى يې هم بايد وزغمي) ذَٰلِكَ دا بِأَنَّهُمْ ځكه چې لَا يُصِيبُهُمْ دوى ته نه رسيږي ظَمَأٌ څه تنده وَلَا نَصَبٌ او نه څه ستومتاني وَلَا مَخْمَصَةٌ او نه څه ولږه فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالى په لار كې وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا او نه دوى داسې قدمونه ږدي(د كافرانو په خلاف) يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ چې كافران په غصه كوي وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا او هيڅ شى دوى د دښمن څخه لاس ته نه راوړي(لكه شكست وركول،ژوندي نيول،غنيمتونه نيول و غيره) إِلَّا بلكې(كه دوى ته د الله

تعالی په لار کې څه تنده،ستوانې او ولږه رسیږي،او د کفارو خلاف داسې
قدمونه ږدي چې هغوی غصه کوي او هره لاس ته راوړنه که ورڅخه
کوي،نو) كُتِبَ ليکل کيږي لَهُم دوی ته(د دوی په عمل نامه کې)
بِهِۦ په دې(هر یو کار باندې د الله تعالی په لار کې) عَمَلٌ صَٰلِحٌۚ یو نیک
عمل إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی لَا يُضِيعُ نه ضایع کوي أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ
آجر د نیکانو ﴿١٢٠﴾

وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةٗ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةٗ وَلَا يَقۡطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمۡ لِيَجۡزِيَهُمُ
ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٢١﴾

وَلَا يُنفِقُونَ او دوی نه لګوي(او دوی نه مصرفوي) نَفَقَةٗ هیڅ یوه نفقه
صَغِيرَةٗ وړه(یعني لږه) وَلَا كَبِيرَةٗ او نه غټه(یعني ډېره) وَلَا يَقۡطَعُونَ
او نه قطعه کوي(او نه وهي په سفر سره د الله تعالی په لار کې) وَادِيًا
هیڅ یو وادي(هیڅ یو ناو او میدان) إِلَّا مګر هر څه که لږ وي او که
ډېر چې د الله په لار کې یې مصرفوي او د هر وادي او میدان څخه چې د
الله تعالی په لار کې تیریږي،نو یو عمل(کار) یې هم نه ضایع کیږي بلکې
د هر یو اجر او ثواب!) كُتِبَ ليکل کيږي لَهُمۡ دوی ته(د دوی په
عملنامو کې) لِيَجۡزِيَهُمُ د دې دپاره چې دوی ته جزا(بدله) ورکړي ٱللَّهُ
الله تعالی أَحۡسَنَ ډېره بهتره(ډېره ښایسته) مَا د هغو(اعمالو) كَانُواْ
يَعۡمَلُونَ چې دوی یې کوي. ﴿١٢١﴾

۞ وَمَا كَانَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةٗۚ فَلَوۡلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرۡقَةٖ مِّنۡهُمۡ طَآئِفَةٞ
لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوۡمَهُمۡ إِذَا رَجَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَحۡذَرُونَ ﴿١٢٢﴾

۞ وَمَا كَانَ او نه دي مناسب ٱلۡمُؤۡمِنُونَ مؤمنانو ته لِيَنفِرُواْ چې
ووځي كَآفَّةٗ ټول فَلَوۡ نو ولې لَا نَفَرَ نه وځي مِن كُلِّ د هرې

فِرۡقَةٖ دلې مِّنۡهُمۡ د دوی څخه طَآئِفَةٞ یو څه کسان لِّيَتَفَقَّهُواْ چې دوی پوهه حاصل کړي فِي ٱلدِّينِ په دین کې وَلِيُنذِرُواْ او چې(د دیني پوهې او علم د حاصلولو څخه وروسته) دوی وویروي قَوۡمَهُمۡ خپل قوم إِذَا کله چې رَجَعُوٓاْ دوی بیرته راشي إِلَيۡهِمۡ هغوی ته(یعني کله چې دوی د دین علم حاصل کړي او بیرته خپلو خلکو ته راشي نو خلک به د الله تعالی د دین څخه خبر کړي او د الله تعالی د نافرمانی څخه به یې وویروي) لَعَلَّهُمۡ تر څو چې هغوی يَحۡذَرُونَ (د الله تعالی د نافرمانی او ګناهونو څخه)ځانونه وساتي. ﴿١٢٢﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ وَلۡيَجِدُواْ فِيكُمۡ غِلۡظَةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ای مؤمنانو قَٰتِلُواْ جنګ کوئ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو سره يَلُونَكُم چې نږدې دی تاسو ته(یعني چې ستاسو خوا او شاه کې اوسیږي) مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ د کافرانو څخه وَلۡيَجِدُواْ او باید چې پیدا کړي هغوی(او باید چې ووینې هغوی) فِيكُمۡ په تاسو کې غِلۡظَةٗۚ سختي(او کلکوالی) وَٱعۡلَمُوٓاْ او پوه شئ أَنَّ ٱللَّهَ بېشکه چې الله تعالی مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ د پرهیزګارانو سره دی(او پوه شئ چې الله تعالی د متقیانو ملګری دی) ﴿١٢٣﴾

وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ فَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمۡ زَادَتۡهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنٗاۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَزَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَهُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿١٢٤﴾

وَإِذَا مَآ او کله چې أُنزِلَتۡ سُورَةٞ یو سورة نازلیږي فَمِنۡهُم نو د دوی څخه(یعني د منافقینو څخه) مَّن يَقُولُ ځینې(منافقین په خپل منځ کې) وایي چې: أَيُّكُمۡ زَادَتۡهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنٗاۚ چې دې(سورت) ستاسو څخه د کوم یو

ایمان زیات کړو (د سورةالانفال په دوهم آیت کې ذکر دي چې کله
مؤمنانو ته د الله تعالی آیتونه لوستل کیږي نو ایمان یې زیاتیږي،نو
منافقانو به د ریشخند او استهزا په توګه داسې خبرې کولې چې کله به
تازه وحې راغله نو دوی به په خپلو کې ویلې چې د دې آیاتونو په اوریدلو
د چا ایمان زیات شو؟د دوی په جواب کې فرمایې) فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ نو
کوم خلک چې هغوی واقعې مؤمنان دي فَزَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا نو هغه(یعنې د
قرآن د آیاتونو اوریدل) یقیناً د هغوی ایمان زیاتوي وَهُمۡ او هغوی
يَسۡتَبۡشِرُونَ خوشالیږي(یعنې څوک چې واقعې مؤمن وي یقیناً د الله تعالی
د کلام په اوریدلو یې ایمان زیاتیږي،او خوشالیږي) ﴿١٢٤﴾

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ فَزَادَتۡهُمۡ رِجۡسًا إِلَىٰ رِجۡسِهِمۡ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ
﴿١٢٥﴾

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم او هغه خلک چې د هغوی په زړونو کې مَّرَضٞ
مرض دی(د نفاق او شک) فَزَادَتۡهُمۡ نو هغه(یعنې د قرآن اوریدل)
زیاتوې دوی ته رِجۡسًا إِلَىٰ رِجۡسِهِمۡ چټلي دپاسه چټلي (یعنې
منافقت،شک او د اسلام سره یې عناد او دښمني د پخوا څخه نوره هم
زیاتیږي) وَمَاتُواْ او دوی مړه کیږي وَهُمۡ كَٰفِرُونَ په داسې حال کې
چې دوی کافران وي ﴿١٢٥﴾

أَوَلَا يَرَوۡنَ آیا دوی(یعنې منافقان) نه ګوري أَنَّهُمۡ چې بېشکه دوی
يُفۡتَنُونَ امتحانیږي(ازمایل کیږي) فِي كُلِّ عَامٖ په هر کال کې مَّرَّةً أَوۡ
مَرَّتَيۡنِ یو ځل یا دوه ځله(یعنې داسې امتحان او ازمېښت وربانديې راځي
چې د دوی منافقت خلکو ته رسوا کیږي لیکن!) ثُمَّ بیا(هم) لَا يَتُوبُونَ
دوی توبه نه وباسي وَلَا هُمۡ يَذَّكَّرُونَ او نه دوی نصیحت(او عبرت)
اخلې ﴿١٢٦﴾

وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ نَّظَرَ بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ هَلۡ يَرَىٰكُم مِّنۡ أَحَدٖ ثُمَّ ٱنصَرَفُواْۚ صَرَفَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُم بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ﴿١٢٧﴾

وَإِذَا مَآ او كله چې أُنزِلَتۡ سُورَةٞ يو سورت نازليږي(يعنې كه په يو مجلس كې منافقين موجود وي او د قرآنكريم د آياتونو تلاوت او درس شروع شي نو د منافقينو زړونه تنګيږي،د قرآن درس ته توجه نه كوي بلكې) نَّظَرَ بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ ځيني د دوی ځينو ته ګوري(يعنې د الله كلام ته غوږ نه نيسي، يو بل ته ګوري او په اشارو او ستر ګو كې سره خبرې كوي،او يو بل ته وايي) هَلۡ يَرَىٰكُم مِّنۡ أَحَدٖ آيا څوک مو ګوري؟(يعنې كه څوک مو نه ګوري نو غلي غلي د مجلس څخه ووځئ،د دې دپاره چې مسلمانان يې په منافقت پوه نشي،او د دوی اعتبار په اسلامي ټولنه كې خراب نشي) ثُمَّ ٱنصَرَفُواْۚ بيا(غلي غلي د مجلس څخه وځي صَرَفَ ٱللَّهُ الله تعالى اړولي دي قُلُوبَهُم زړونه د دوی بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ ځكه چې دوی داسې خلک دی لَّا يَفۡقَهُونَ (چې په خپله ګټه او تاوان) نه پوهيږي ﴿١٢٧﴾

لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ﴿١٢٨﴾

لَقَدۡ جَآءَكُمۡ بېشكه راغلئ دی تاسو ته رَسُولٞ يو پيغمبر مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ د ستاسو د جنس څخه عَزِيزٌ عَلَيۡهِ چې ډېر ګران دی په هغه«صلى الله عليه وسلم» باندې مَا عَنِتُّمۡ هغه(كار يا شی) چې تاسو په تكليف(او مشقت) كې اچوي حَرِيصٌ عَلَيۡكُم حريص(ليوال) دی په تاسو باندې(ستاسو د ايمان او هدايت دپاره) بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ په مؤمنانو باندې رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ډېر نرمي كوونكئ،ډېر مهربان دی ﴿١٢٨﴾

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُلۡ حَسۡبِيَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ وَهُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ
﴿١٢٩﴾

﴿ فَإِن تَوَلَّوۡاْ خو كه چيرته دوى(د حق د قبلولو څخه) وګرځي فَقُلۡ نو(اى پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» ته)ووايه حَسۡبِيَ ٱللَّهُ ماته الله تعالى كافي دى لَآ إِلَٰهَ نشته لايق د عبادت إِلَّا هُوَۖ مګر هغه«جل جلاله» د عبادت لايق دى عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ خاص په هغه«جل جلاله» باندې ما توكل كړئ دى وَهُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ او هغه «جل جلاله»د عظيم عرش مالک دى(د الله تعالى د عرش كيفيت او عظمت زمونږ په تصور كې نه شي راتللاى) ﴿١٢٩﴾

بارک الله لى ولكم فى القرآن العظيم ونفعنى و اياكم بالآيات و الذكر الحكيم

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ د دې په معنی او مطلب الله تعالی پوهیږي تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ دا د حکمت څخه د ډک کتاب آیاتونه دي ﴿١﴾ (یعني د قرآنکریم کریم ټول آیاتونه لکه د دنیا د نورو کتابونو پشان د کوم فروفیسر،نابغه او یا د محمد «صلی الله علیه وسلم»پواسطه جوړشوي نه دي،بلکه دا د کائناتو د خالق سوچه او پاکې خبرې دی او په محمد«صلی الله علیه وسلم باندې د وحې پواسطه نازل شوي دي).

أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ رَجُلٖ مِّنۡهُمۡ أَنۡ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنَّ لَهُمۡ قَدَمَ صِدۡقٍ عِندَ رَبِّهِمۡۗ قَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٞ مُّبِينٌ ﴿٢﴾

أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا آیا د انسانانو دپاره دا عجیبه ده(یعنی د تعجب او حیرانتیا خبره ده) أَنۡ أَوۡحَيۡنَآ چې مونږ وحې وکړه إِلَىٰ رَجُلٖ یو سړي ته مِّنۡهُمۡ د دوی څخه أَنۡ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ چې وویروې انسانان (د آخرت او د الله تعالی د عذاب څخه) وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ او زیری ورکړې هغو خلکو ته چې ایمان یې راوړئ دی(د دې خبرې) أَنَّ لَهُمۡ چې بیشکه د دوی دپاره قَدَمَ صِدۡقٍ لوړه مرتبه ده عِندَ رَبِّهِمۡۗ د دوی د رب په وړاندې (نو کله چې پیغمبر علیه السلام انسانان د الله تعالی خوا ته راوبلل او د الله تعالی د عذابونو څخه ویرول او د هغه «جل جلاله په نعمتونو یې انسانانو ته زیری ورکول شروع کړل نو!) قَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ کافرانوو وویل إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٞ مُّبِينٌ چې بیشکه دا(خو) ښکاره جادوګر دی. ﴿٢﴾

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ إِذۡنِهِۦۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ (ای انسانانو) بېشکه رب ستاسو الله تعالی دی(د انسانانو څخه طمعه مه کوئ د دي دپاره چې ستاسو ژوند به ښه کړي،چاپلوسي او طمعه صرف د یو الله تعالی کوئ څکه چې:) ٱلَّذِي الله تعالی هغه ذات دی خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ چې آسمانونه او ځمکه یې (پرته د بل چا د کومک څخه) په شپږ(۶) ورځو کې پیدا کړي دي ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ بیا هغه«جل جلاله) په عرش باندي برقرار شو(د خپل شان مطابق) يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۖ هغه«جل جلاله» د ټولو کارونو تدبیر کوي(یعني پرته د کوم مشاور،وزیر،ملائکې،پیرې او انسان څخه یوازې د ځمکې او آسمانونو ټول مخلوقات پروګرام،تنظیم،کنټرول او چلوي،د کائناتو د ټول نظام تصرف یې په خپل لاس کې دی،په مخلوقاتو کې هیڅ شی فرشتې،پیری،انسان،تیرې و غیره ورسره شریک نشته او نه پرته د ده«جل جلاله»څخه هیڅوک د کائناتو په نظم او کنټرولو کې څه تصرف لرې(په کائناتو کې تصرف خو ډېره لویه خبره ده،حتی) مَا مِن شَفِيعٍ یو شفاعت کوونکئ(هم)نشته إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ إِذۡنِهِۦۚ مګر د هغه «جل جلاله» د اجازې نه وروسته( یعني تر څو چه هغه«جل جلاله»چا ته اجازه ونکړي څوک ورته د یو کار یا د چا د بخلو دپاره شفاعت هم نشي کولای ،نو ای انسانانو) ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ دغه الله«جل جلاله» ستاسو رب دی(چې کائنات یې پیدا کړي هم دي،چلوي یې هم،کنټرولوي یې هم،د وړې زرې څخه د غټو کهکشانونو پورې د ټول مخلوق ضرورت هم پوره کوي،او په مخلوق کې یو شی او هیڅ څوک پرته د هغه جل جلاله د اجازې څخه

شفاعت ورته هم نشي کولای،نو بیا تاسو ولې د هغه په ځای د محتاج
مخلوق عبادت او چاپلوسي کوئ،چې رحم به دربانديږ وکړي،هغوی چې
پخپل ځان رحم نشي کولای په تاسو به څه رحم وکړي،هغوی چې پخپله د
دوزخ خشاک دي تاسو به د دوزخ څخه څه خلاص کړي،هغوی چې
پخپله ستاسو شکرانو او نذرونو ته احتیاج دي او ستاسو په شکرانو او
نذورنو چلیږي،نو تاسو به د احتیاج څخه څه خلاص کړي) فَٱعۡبُدُوهُۚ نو
(ای انسانانو دا د مخلوق چاپلوسي او عبادت پریږدئ او یوازې) د هغه
«جل جلاله» عبادت وکړئ(تاسو خو یو ځل تجربه وکړئ چې څومره
چاپلوسي د الله تعالی د مخلوق کوئ،دومره خوشامندي د الله تعالی
وکړئ،نتیجه به یې وګورئ،داسې خو نه کیږي چې غواړئ یې د مخلوق
څخه او ګیلې د الله تعالی څخه کوئ،د دې دومره دلایلو سره) أَفَلَا
تَذَكَّرُونَ آیا بیا هم تاسو نصیحت نه اخلئ(یعني د دې دومره دلایلو سره
سره تاسو بیا هم نه پوهیږي چې د الله تعالی دربار پریږدئ او د مخلوق
دربار ته ځې ،د مخلوق عبادت کوي،او د مخلوق څخه یې غواړي) ﴿٣﴾

إِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقًّاۚ إِنَّهُۥ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلۡقِسۡطِۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ شَرَابٞ مِّنۡ حَمِيمٖ وَعَذَابٌ
أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡفُرُونَ ﴿٤﴾

ای انسانانو یوازې د الله تعالی عبادت او بندګي کوئ ځکه چې:

إِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗاۖ هغه«جل جلاله»ته ستاسو ټولو ورتلل دي (او په دې
کې هیڅ شک نشته ځکه چې دا د الله تعالی وعده ده او!) وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقًّاۚ د
الله تعالی وعده حقه(او ریښتیني)ده إِنَّهُۥ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ بېشکه هغه«جل
جلاله»مخلوق پیدا کوي(اول ځل په دنیا کې) ثُمَّ يُعِيدُهُۥ (او د مرګ څخه
وروسته ئې د قیامت په ورځ) بیا راژوندي کوي(ای انسانه دا فکر مه کوه

چې مړ به شم په اتومونو به تجزيه شم نو بيا به څنګه ژوندی شم؟نو لکه څنګه ئې چې د اول ځل دپاره چې نوم او نشان دې هم نه و او د همدې خاورو او اتومونو څخه ئې جوړ کړي همداسې به دې د دوهم ځل دپاره هم بیرته جوړ او ژوندی کړي ځکه چې د یو شي جوړول خو اول مشکل وي دوهم ځل خو یې نقشه معلومه وي او جوړول یې هم اسان وي،لیکن الله تعالی ته نه په اول ځل څه مشکل شته او نه په دوهم ځل) لِيَجْزِيَ تر څو چې بدل ورکړي ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هغو خلکو ته چې ایمان یې راوړی دی وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او نیک اعمال یې کړي دي بِٱلْقِسْطِۚ په عدل (او انصاف) سره وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ او هغه خلک چې هغوی کفر کړی دی لَهُمْ شَرَابٌ د دوی دپاره څښاک دی مِّنْ حَمِيمٍ د خوټیدلو اوبو وَعَذَابٌ أَلِيمُۢ او دردناکه عذاب دی بِمَا كَانُواْ يَكْفُرُونَ په سبب د هغه کفر چې دوی یې کوي(په دنیا کې). ﴿٤﴾

هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلْحَقِّۚ يُفَصِّلُ ٱلْأَيَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥﴾

هُوَ هغه«جل جلاله» ٱلَّذِي هغه ذات دی جَعَلَ چې جوړ کړی ئې دی ٱلشَّمْسَ لمر ضِيَآءً ځلیدونکی وَٱلْقَمَرَ او(جوړه کړي ئې ده سپوږمۍ نُورًا روښانه

په قرآنکریم کې د شمس یعنی لمر دپاره ضیاء،سراجا او وهاجا استعمال شوي دي چې د تولو مطلب داسې شی دی چې د خپل ځان څخه رڼا لري یعنی مواد سوځوي او رڼا جوړوي،چې اوس ساینس هم دا ثابته کړي ده چې لمر مواد یعنې هایدروجن سوځوي او خپله رڼا جوړوي،همدارنګه د قمر یا سپوږمۍ دپاره نور او منیر استعمال شوي دي چې مطلب یې داسې شی دی چې خپله رڼا نلري یا یې نه جوړوي،او د رڼا د بلې منبع څخه

خپله رڼا اخلي،اوس ساينس هم ثابته کړي ده چې سپوږمۍ د خپله ځانه رڼا نلرې بلکې د لمر رڼا ته انعکاس ورکوي يعني د لمر څخه خپله رڼا اخلې،بايد ذکر شي چې د داسې معلومات ذکر کول په قرآنکريم کې ۱۴۰۰ کلونه مخکې د دې دليل او ثبوت دی چې قرآنکريم د الله تعالی کلام او پاکې سوچه خبرې دي،ځکه چې د خالق څخه پرته د انسان د پاره د داسې معلومات ورکول په هغه وخت کې ناممکن وو.

وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ او د سپوږمۍ د نرې کيدو او غټيدو پړاونه ئې په منظم ډول ټاکلي دي لِتَعۡلَمُواْ د دې دپاره چې پوه شئ تاسو عَدَدَ ٱلسِّنِينَ په شمار د کلونو وَٱلۡحِسَابَۚ او په حساب(د مياشتو او ورځو،خو) مَا خَلَقَ ٱللَّهُ الله تعالی نه دي پيدا کړي ذَٰلِكَ دغه(ذکر شوي شيان هسې عبث او بې مقصده) إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ مګر د يو مقصد سره يې پيدا کړي دي يُفَصِّلُ هغه «جل جلاله»په تفصيل سره بيانوي ٱلۡأٓيَٰتِ روښانه(او واضحه)دليلونه لِقَوۡمٖ هغو خلکو ته يَعۡلَمُونَ چې پوهيږي. ﴿٥﴾

إِنَّ فِي ٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَّقُونَ ﴿٦﴾

إِنَّ فِي ٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ بېشکه په اختلاف(بدليدلو) کې د شپې او د ورځې(لکه اوږدوالی او لنډوالی،تاريکي او روښنايي) وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ او هغه څه چې الله تعالی پيدا کړي دي فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ په آسمانونو او په ځمکه کې لَأٓيَٰتٖ حتماً واضحه دلايل دي(د الله تعالی د وجود او د وحدانيت) لِّقَوۡمٖ يَتَّقُونَ د متقيانو دپاره ﴿٦﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَٱطۡمَأَنُّواْ بِهَا وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ﴿٧﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا بېشکه هغه څوک چې زمونږ د ملاقات امید نلرې(یعنې په آخرت باور نلرې) وَرَضُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَٱطۡمَأَنُّواْ بِهَا او د دنيا په ژوند باندې خوشاله او وربانديې مطمئين وي(يعنې صرف يوازې د دنيا ژوند حقيقت ګڼې او د آخرت څخه منكر او غافل وي،حال دا چې د دنيا ژوند خو د آخرت د لايتناهي او اوږد ژوند يوه لنډه وقفه ده چې الله تعالى د امتحان دپاره انسان ته وركړې دى) وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ او هغه خلک چې زمونږ د روښانه دلايلو(او نښو)څخه غافل وي(متاسفانه چې كفار خو پرېږده چې اكثره مسلمانان هم د الله تعالى د آياتونو او نښو څخه غافل او بې خبره دي،ځكه چې د الله تعالى آياتونه خو په قرآنكريم كې ذكر دي ليكن اكثره مسلمانان د عمر د آخر پورې په قرآن نه پوهيږي،او نه د داسې خلكو سره ناسته ولاړه كوي چې په قرآن پوهيږي.) ﴿٧﴾

أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٨﴾

أُوْلَٰٓئِكَ دغه(ذكر شوي خلک چې د الله تعالى د آياتونو او آخرت څخه غافل او منكر دي او صرف د دنيا ژوند ته حقيقت وايې ) مَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ د دوى د اوسيدلو ځاى دوزخ دى(په آخرت كې) بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ په سبب د هغو(بدو) اعمالو چې دوى يې كوي(په دنيا كې) ﴿٨﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ يَهۡدِيهِمۡ رَبُّهُم بِإِيمَٰنِهِمۡۖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٩﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بېشکه هغه خلک چې هغوى ايمان راوړېځ دى وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او نيک اعمال يې كړي دي يَهۡدِيهِمۡ رَبُّهُم لار به وښايې دوى ته(د جنت) رب د دوى بِإِيمَٰنِهِمۡۖ په سبب د ايمان د دوى تَجۡرِي مِن

تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ بهيږي به لاندې(د بنګلو)د دوی نهرونه فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ په جنتونو د نعمتونو کې ﴿٩﴾

دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٌۚ وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾

جنتيان چې د جنت نعمتونه وګورې او کوم نعمت ته يې زړه وشي نو!

دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا د دوی بلنه به په دغو(جنتونو)کې دا وي سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ اى الله تعالى ته پاک ئې وَتَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٌۚ او ډالی به د دوی په دغو جنتونو کې سلام وي(یعنی کله چې یو د بل سره ملاقات کوي یو به بل ته سلامونه اچوي) وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ او د دوی د بلنې خاتمه به دا وي أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ چې ټول ښه تعريفونه الله تعالى لره دي چې پالونکی د عالمونو دی(یعني کله چې نعمتونه ورکول شي نو الحمد لله رب العلمين به وايې) . ﴿١٠﴾

۞ وَلَوۡ يُعَجِّلُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ ٱلشَّرَّ ٱسۡتِعۡجَالَهُم بِٱلۡخَيۡرِ لَقُضِيَ إِلَيۡهِمۡ أَجَلُهُمۡۖ فَنَذَرُ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿١١﴾

۞ وَلَوۡ يُعَجِّلُ ٱللَّهُ او که الله تعالى بيړه کوله لِلنَّاسِ انسانانو ته ٱلشَّرَّ د عذاب د ورکولو(یعني ځنګه چې انسان ګناه کوله او الله تعالى سمدستي عذاب ورکولو،یا چا ښيرا کولې او الله تعالى سمدستي قبلولې ، لکه ځنګه چې:) ٱسۡتِعۡجَالَهُم بِٱلۡخَيۡرِ دوی(یعنې انسانان)بيړه کوي د خير(مثلاً که د خير دپاره دعا وکړي لکه د قحطی په وخت کې د باران دپاره دعا وکړي او الله تعالى يې زر قبوله کړي او باران وشي يا د کوم مرض او افت د دفع کولو دپاره انسان دعا وکړي او الله تعاالى ئې دفع کړي،نو که همدارنګه یو انسان چاته ښيرا کولې او الله تعالى سمدستي قبلولې يا چا

ګناه کوله او الله تعالی سمدستي رانیولو او عذاب ئې ورکولو،نو) لَقُضِيَ خامخا به پوره شوي وه إِلَيۡهِمۡ د دوی دپاره أَجَلُهُمۡۖ نیته(د مرګ) د دوی(یعنې مړه شوي به وو او د دوی د کړو وړو فرصت به یو وخت پای ته رسول شوئ و،خو د الله تعالی عادت داسې نه دی چې انسان ګناه وکړي او هغه جل جلاله سمدستي عذاب ورکړي،او یا څوک چا ته ښیرا وکړي او الله تعالی هماغسې وکړي څنګه چې ښیراکوونکی غواړي بلکې الله تعالی د خپل حکمت او ارادې په اساس خپلو بندګانو ته د توبې مهلت ورکوي،او الله تعالی د خپلو بندګانو سره د خپل عدالت او انصاف په اساس معامله کوي نه د خلکو د ښیراوو او غوښتنو په اساس مثلاً که یو سړی د یو نیک پادشاه دوست هم وي او ورته ووایې چې پادشاه سلامت پلانکی مړ کړه نو آیا پاد شاه به پخپل عدالت او انصاف سره هغه مړ کوي او که د دوست په خبره،ښکاره خبره ده چې پادشاه به خپل عدالت او انصاف کوي ،نو همدارنګه الله تعالی هم د خپل مشیت،حکمت،عدل او انصاف په اساس د خپلو بندګانو د تکلیف،مرګ او دوزخ فیصلې کوي نه د خلکو د ښیراوو په اساس،باید ووایو چې ښیرا کول د الله تعالی بې ادبي کول دي ځکه که یو سړی ووایې چې یا الله فلانکی هلاک کړه نو که چیرته هغه د هلاکت لایق نه وي نو ایا ښیرا کوونکي ته الله تعالی ظالم ښکارې؟(العیاذبا لله) .ځکه الله تعالی فرمایې!) فَنَذَرُ نو پریږدو مونږ.(نو مهلت ورکوو مونږ) ٱلَّذِينَ هغو(خلکو ته) لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا چې زمونږ د ملاقات امید نلرې(یعنې په آخرت باور نلرې) فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ د هغوی په سرکشۍ کې چې سرګردانه وي﴿۱۱﴾

وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوۡ قَاعِدًا أَوۡ قَآئِمًا فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمۡ يَدۡعُنَآ إِلَىٰ ضُرّٖ مَّسَّهُۥۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلۡمُسۡرِفِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٢﴾

وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ او كله چې انسان ته يو تكليف ورسيږي (نو زه ور په ياد شم او د هغې تكليف د لرې كولو دپاره) دَعَانَا زمونږ څخه دعا غواړي لِجَنۢبِهِۦٓ په ملاسته باندې أَوۡ قَاعِدًا يا په ناسته باندې أَوۡ قَآئِمًا يا په ولاړه باندې(يعني په هر حال كې كه ناست وي كه ولاړ وي او كه ملاست وي مونږ ته ژاړي او زارى كوي) فَلَمَّا خو كله چې كَشَفۡنَا مونږ لرې كړو عَنۡهُ د هغه څخه ضُرَّهُۥ تكليف د هغه مَرَّ كَأَن داسې روان شي لكه(يعني داسې مونږ او مونږ ته شكر كول هير كړي لكه چې!) لَّمۡ يَدۡعُنَآ هغه(بالكل) زمونږ څخه دعا(او غوښتنه)نه وي كړي إِلَىٰ ضُرّٖ مَّسَّهُۥۚ ده ته د ورسيدلي تكليف(او مصيبت د لرې كولو)دپاره (يعني په مصيبت او تكليف كې الله تعالى ته زارى او فرياد كوي چې يا الله دا تكليف را څخه لرې كړه،خو كله چې الله تعالى مصيبت او تكليف ورڅخه لرې كړي نو بيا يې الله تعالى هم هير شي او هغه جل جلاله ته يې شكر ويستل يې هم هير شي،او بيرته د الله تعالى څخه سركشي او ګناهونه داسې شروع كړي لكه الله تعالى ته چې نه ښكاري(العياذبالله) كَذَٰلِكَ همدارنګه زُيِّنَ ښايسته شوي دي لِلۡمُسۡرِفِينَ د تيرې كوونكو دپاره مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ هغه عملونه چې دوى يې كوي ﴿١٢﴾

وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا ٱلۡقُرُونَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَمَّا ظَلَمُواْ وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٣﴾

وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا او بېشكه هلاک كړي دي مونږ ٱلۡقُرُونَ ډېر نسلونه(او قومونه) مِن قَبۡلِكُمۡ ستاسو څخه د مخه لَمَّا ظَلَمُواْ كله چې دوى د ظلم

چلند غوره کړو وَجَآءَتۡهُمۡ او راغلي وو دوی ته رُسُلُهُم پیغمبران د دوی بِٱلۡبَيِّنَٰتِ د روښانه معجزو(او دلایلو)سره (لیکن د ښکاره معجزو او دلایلو سره-سره) وَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْۚ دوی داسې(خلک) نه وو چې ایمان راوړي(او شرک او کفر پرېږدي،نو د الله تعالی په امتحان کې ناکام شو او الله تعالی هلاک او تباه کړل،) كَذَٰلِكَ همدارنګه (لکه چې تیر شوي قومونه مونږ هلاک کړل،د هغوی غوندې!) نَجۡزِي جزا ورکوو مونږ ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ظالمانو خلکو ته(یعني ظالمان دي په دې نه غره کیږي چې دولت دی،طاقت دی،څه چې غواړو هغه په کمزورو او بې دفاع خلکو کولای شو،حقیقت دا دی چې دا خو د کائناتو د خالق امتحان دی،که په امتحان کې ناکام شوئ نوبیا به مو د دنیا د نقشې څخه داسې ورک کړي لکه فرعون،هامان،شداد ، نمرود وغیره چې نه به مو نوم پاتې شي او نه نشان) ﴿١٣﴾

ثُمَّ جَعَلۡنَٰكُمۡ خَلَٰٓئِفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لِنَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ﴿١٤﴾

ثُمَّ بیا جَعَلۡنَٰكُمۡ خَلَٰٓئِفَ مونږ تاسو ځای ناستي کړئ فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې مِنۢ بَعۡدِهِمۡ وروسته د هغوی(یعني د پخوانیو قومونو د هلاکت)څخه لِنَنظُرَ د دې دپاره چې:مونږ وګورو(چې اوس) كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ تاسو څه قسم عمل کوئ(یعني پخوانیو خلکو خو امتحان ورکړو څوک ناکام او څوک کامیاب شو،خو اوس ستاسو نمبر دی چې څه قسم امتحان ورکوئ،کامیابیږئ او که ناکامیږئ؟حقیقت دا دی دا دنیا د امتحان کوټه ده هر څوک راځي،امتحان ورکوي او تش لاسونه تري وځي هیڅوک ورڅخه هیڅ شی نشي وړلای،څومره کم عقل او بې فکره دي هغه خلک چې د امتحان د کوټې په میزونو او چوکیو سره نښتې دي یو وایې دا ځما دي،او بل وایې زما دي او یو بل وژني.) ﴿١٤﴾

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا ٱئۡتِ بِقُرۡءَانٍ غَيۡرِ
هَٰذَآ أَوۡ بَدِّلۡهُۚ قُلۡ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلۡقَآيِٕ نَفۡسِيٓۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ
إِلَيَّۖ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿١٥﴾

وَإِذَا او كله چې تُتۡلَىٰ لوستل كيږي(او رول كيږي) عَلَيۡهِمۡ دوى ته(يعني كفارو ته) ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٖ زمونږ واضحه او روښانه آياتونه(او دلايل ،او پكې د دوى د ناوړه رواجونو،شرک او بت پرستۍ غندنه شوي وي نو!) قَالَ وايي ٱلَّذِينَ هغه خلک(د دوى ځيني كوم چې:) لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا زمونږ د ملاقات اميد نلري(يعني په آخرت باور نلري،نو اى محمد«صلى الله عليه وسلم» دوى تا ته وايي چې:) ٱئۡتِ بِقُرۡءَانٍ غَيۡرِ هَٰذَآ چې د دې قرآن څخه پرته بل قرآن راوړه(چې د بتانو،شرک او زمونږ د رواجونو سپكاوى او توهين پكې نه وي شوئ) أَوۡ بَدِّلۡهُۚ او يا (دا آياتونه په داسې آياتونو چې زمونږ د خواهشاتو سره برابر وي) تبديل او ترميم كړه (لكه چې اوس هم كفار او ځيني سيكولر مسلمانان په مناظرو كې په اسلامي داعيانو داسې نيوكې او اعتراضونه كوي چې د قرآن دا آيت او دا آيت د حقوق بشر خلاف دى او و غيره وغيره.....) قُلۡ ته(ورته)ووايه مَا يَكُونُ لِيٓ زما سره نه ښايي(هيڅ ممكن نه ده) أَنۡ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلۡقَآيِٕ نَفۡسِيٓۖ چې د خپله ځانه په الهي آيتونو كې تبديلي(يعني كمۍ او زياتۍ)وكړم إِنۡ أَتَّبِعُ زه پيروي نه كوم إِلَّا پرته مَا د هغه څه يُوحَىٰٓ إِلَيَّۖ چې ماته وحې كيږي(يعني اى نبي عليه السلام ورته ووايه چې زه صرف د الله تعالى د قانون پيروي كوم،او زه دا اختيار نلرم چې د چا د زړه د خوشالولو دپاره د الله تعالى په قانون كې كمۍ او زياتى وكړم،او دا حكم د قيامت پورې ټول امت ته دى،نو كه محمد«صلى الله عليه وسلم»ته د الله تعالى په قانون كې د تبديلۍ اجازه نه وه،نو بيا تا ته

چا دا اختیار درکړۍ دی چې د قرآن د قصاص قانون دې پریښۍ دی،او د جرګو او طاغوت په قانون فیصلې کوي ......و غیره وغیره او نور الله تعالی نبي علیه السلام ته فرمایي چې: په آخرت باندې باور نلرونکو خلکو ته ووایه چې:) إِنِّيٓ أَخَافُ بېشکه زه ویریږم إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي که چیرته د خپل رب نافرماني وکړم عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ د لویې ورځې د عذاب څخه(یعنې که زه د الله تعالی حکمونه ستاسو په خوښه بدل کړم نو د الله تعالی د عذاب څخه ویریږم.نو که نبي علیه السلام د الله تعالی د عذاب څخه ویریږي نو دا ته څوک یې او د الله تعالی د خوا څخه کوم د خلاصې او برأت ټکټ لرې چې:حرام حلالوي،ناروا روا کوي او د الله تعالی قانون شاته اچوي او د خپلې خیټې او د طاغوت په قانون فیصلې کوي،ډېر زر به د خاورو په بالښت سر کیږدې،عقل به دې سر ته راشي خو ډېر به ناوخته وي.) ﴿١٥﴾

قُل لَّوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوۡتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَدۡرَىٰكُم بِهِۦۖ فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرٗا مِّن قَبۡلِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٦﴾

فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿١٧﴾

قُل (ای نبي علیه السلام ورته) ووایه لَّوۡ شَآءَ ٱللَّهُ که چیرته الله تعالی غوښتلۍ (نو) مَا تَلَوۡتُهُۥ ما به نه وو لوستۍ دغه(قران) عَلَيۡكُمۡ تاسو ته وَلَآ أَدۡرَىٰكُم بِهِۦۖ او نه به هغه«جل جلاله» پوه کړي وۍ تاسو په دې(قرآن.یعنې دا خو د الله تعالی ډېر لوی احسان دی په تاسو چې: تاسو ته یې قرآن عظیم الشان زما پواسطه راولیږلو،او بیا تاسو خو ما ښه پیژنۍ،زما پلار نیکه،قوم ټول تاسو ته معلوم دي) فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرٗا او بېشکه ما په تاسو کې ډېر عمر تیر کړۍ دی مِّن قَبۡلِهِۦٓۚ مخکې د

دي(قرآن د نزول) څخه(یعني د نبوت او قرآنکریم د نازلیدو څخه مخکې تاسو ما ښه پیژنئ،څلویښت کلونه ما ستاسو په منځ کې تیر کړي دي،تاسو ته معلومه ده چې زه شاعر نه یم ،کاهن او جادوګر نه یم او نه مې د دې شیانو سره څه دلچسپي او مینه وه او نه مې کله د شاعرۍ او جادو د زده کولو کوشش او پرکټس کړئ دی، د چا سره مې لیک او لوست نه دی کړئ،او تاسو د دې ټولو خبرو شاهدان یاستئ ،هم تاسو ما ته د آمین او رښتیني لقب راکړئ دی،خو اوس چې زه الله تعالی د پیغمبر په حیث انتخاب کړم نو تاسو ډول-ډول تهمتونه راباندې لګوئ لکه جادوګر،شاعر وغیره،او وایئ چې قرآن ما د ځان څخه لیکلئ دی.فکر وکړئ،آیا دا امکان لرې چې څوک دې په یوه ورځ کې شاعر شي یا دې جادوګر شي او یا دې داسې په جګه سویه ادیب شي چې د قرآن عظیم الشان غوندې فصیح کتاب دې د خپله ځانه ولیکي؟نو په دې ټولو حقایقو باندې د پوهیدلو سره-سره بیا هم تاسو په ما تهمتونه لګوئ،آیا تاسو د تعصب په اور کې عقل بالکل د لاسه ورکړئ دی؟ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ نو آیا تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟ ﴿١٦﴾

فَمَنۡ نو څوک أَظۡلَمُ ډیر لوی ظالم دی مِمَّنِ د هغه چا څخه ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا چې په الله تعالی باندې دروغ تړي(یعني چې په الله تعالی باندې دروغ وایې،نو که چیرته ما قرآن د خپله ځانه جوړ کړئ وي او نسبت ئې الله تعالی ته کوم،او تاسو ته وایم چې دا د الله تعالی کلام دی،نو زما څخه لوی ظالم نشته.او) أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ یا(د هغه چا څخه لوی ظالم نشته) چې د الله تعالی واقعي آیتونه دروغ ګڼي(یعني که زه تاسو ته د الله تعالی حقیقي کلام او پیغام درسوم او د دومره دلایلو او ثبوتونو سره-

سره يې تاسو دروغ ګڼئ نوبيا ستاسو څخه لوی ظالمان نشته) إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ بېشکه چې مجرمان هيڅکله نشي کاميابيدلای. ﴿١٧﴾

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿١٨﴾

وَ او(دغه خلک چې د الله تعالی آيتونه دروغ ګڼي) يَعۡبُدُونَ عبادت کوي دوی مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالی څخه مَا د هغه (شي او هغه چا) لَا يَضُرُّهُمۡ چې نه دوی ته ضرر رسولای شي وَلَا يَنفَعُهُمۡ او نه دوی ته فايده ورسولای شي وَيَقُولُونَ او دوی وايي چې هَٰٓؤُلَآءِ دغه (بتان،او پيران) شُفَعَٰٓؤُنَا زمونږ شفاعت کوونکي دي عِندَ ٱللَّهِۚ د الله تعالی په وړاندې قُلۡ (ای پيغمبر«صلی الله عليه وسلم» ورته) ووايه أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا آيا تاسو الله تعالی د هغې خبرې څخه خبروئ لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ چې هغه«جل جلاله» ئې نه په آسمانونو کې پيژني وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ او نه په ځمکه کې(يعني داسې شی يا کس د الله تعالی په علم کې نشته چې د هغه«جل جلاله » د اجازې څخه پرته د الله تعالی په حضور کې د چا شفاعت وکړي،يعني الله تعالی ته ووايې چې:يا الله دا سړی زه ډېر ښه پيژنم،ډېر نيک دی،جنت ته يې ولېږه يعني زه يې ستا څخه ښه پيژنم (العياذبالله) او کوم شی چې د الله تعالی په علم کې نه وي د هغه شي بالکل وجود نه وي) سُبۡحَٰنَهُۥ هغه«جل جلاله» پاک دی وَتَعَٰلَىٰ او ډېر لوړ دی عَمَّا د هغه(شيانو او شريکانو) څخه يُشۡرِكُونَ چې دوی(يعني مشرکان)يې ورسره شريکوي ﴿١٨﴾

وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخۡتَلَفُواْۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡ فِيمَا فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿١٩﴾

وَ او (په شروع کې) مَا كَانَ ٱلنَّاسُ نه وو انسانان(فرقې-فرقې)) إِلَّآ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ بلکې یو واحد امت وو(یعني په ابتداء کې ټول انسانان د فطرت په دین یعني د اسلام په دین باندې وو،ټول موحدین وو،لیکن) فَٱخۡتَلَفُواْۚ بیا وروسته دوی اختلاف وکړو(یعني د توحید او د فطرت دین یې پریښودو،او مختلفې عقیدې او مسلکونه یې جوړ کړه ،د بتانو عبادت یې شروع کړو او د الله تعالی سره یې شرک شروع کړو) وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ او که ستا د رب د لوري دا خبره د مخکې څخه نه وه فیصله شوي(چې د حجت د پوره کولو څخه مخکې عذاب نه راځي،او د خلکو تر منځ د اختلافاتو وروستی فیصله به د قیامت په ورځ کیږي،نو اوس به په همدې دنیا کې) لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡ فِيمَا فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ خامخا د دوی تر منځ په هغه څه کې فیصله شوي وه چې:دوی په هغې کې اختلاف کوي.(یعني الله تعالی حقیقت د انسان د حواسو څخه پټ ساتلی او د هغه عقل،پوهه،وجدان او ضمیر یې په امتحان کې اچولې دي،نتایج او د نتایجو په اساس فیصله به د قیامت په ورځ کیږي.) ﴿١٩﴾

وَيَقُولُونَ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۖ فَقُلۡ إِنَّمَا ٱلۡغَيۡبُ لِلَّهِ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾

وَيَقُولُونَ او دوی(مشرکان)وایې چې: لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ولې نه نازلیږي په هغه(صلی الله علیه وسلم) باندې ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۖ یوه معجزه د هغه علیه السلام د رب«جل جلاله» د طرف څخه(زمونږ په خوښه چې یا د مکې غرونه د سرو زرو شي یا مړي راژوندې کړي یا د آسمانه یو بنایسته کور ورته راکوز شي) فَقُلۡ نو ته ورته ووایه إِنَّمَا بېشکه حقیقت دا دی ٱلۡغَيۡبُ لِلَّهِ چې د غیبو علم خاص الله تعالی لره دی

فَٱنتَظِرُوٓاْ نو تاسو انتظار کوئ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ بېشکه زه هم ستاسو سره د انتظارکوونکو څخه یم. ﴿۲۰﴾

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ ءَايَاتِنَاۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ ﴿۲۱﴾

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ او کله چې مونږ انسانانو ته د ورسیدلي تکلیف څخه وروسته رحمت او خوشالي ورکړو(یعني چې تکلیف او مصیبت ترې لرې کړو او خوشالي او هوسایې ورباندې راولو،نو په ځای د دې چې شکر وباسي برعکس!) إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ ءَايَاتِنَاۚ سمدلاسه زمونږ د آیاتونو(د تکذیبولو دپاره ډول-ډول) چلونه (او دسیسې)شروع کوي(لکه د مکې اوسیدنکو چې د اوه(۷)کلنی قحطۍ او وچکالۍ څخه وروسته د رسول الله«صلی الله علیه وسلم»څخه د دعا غوښتنه وکړه،خو کله چې وربانديې د رحمتونو بارانونه شروع او قحطي او وچکالي ورکه شوه،نو دوی بیرته خپلو فتنو او شرارتونو ته مخه کړه) قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ ورته ووایه چې:الله تعالی(د فتنو او شرارتونو جوړونکو ته) په سزا او مجازات ورکولو کې ډېر تیز دی. إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ بېشکه زمونږ استازې(چې د اعمالو لیکوونکي فرېښتې دي) ستاسو ټولې دسیسې او ناوړه اعمال(ستاسو په عملنامو کې)لیکې. ﴿۲۱﴾

هُوَ ٱلَّذِي يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَرَيۡنَ بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ وَفَرِحُواْ بِهَا جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَظَنُّوٓاْ

أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٢٢﴾

هُوَ هغه«جل جلاله» ٱلَّذِي هغه ذات دی يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۖ چې تاسو په وچه او په بحر کې ګرځوي(او د سفر ټول وسایل او شرایط درته برابروي) حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ تر دې چې تاسو په کیشتۍ(بحري جهاز) کې کښینئ وَجَرَيۡنَ بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ وَفَرِحُواْ بِهَا او هغه(جهاز د ښې او مساعدې هوا)او نرم او ملایم باد په لړیدو(یا چلیدو سره د هدف په لور)روانه او ټول مسافرپه کې خوشاله وي جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ خو ناڅاپه سخت (طوفاني)باد راوالوزي وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ او د هرې خوا څخه پرې د اوبو څپې راپورته شي وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ او سپاره مسافر ټول په دې باور شي چې:(د خطرناکو موجونو) د محاصرې لاندې راګیر دي(او د نجات او خلاصي لاره نه لرې،نو د مرګ او تباهۍ په دغه اضطراري حالت کې) دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ خپل ایمان او عبادت یوازې د الله تعالی دپاره ځانګړې(خالص) کوي او ورته دعا کوي چې: لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ که د دې (تباه کوونکي مصیبت څخه)مونږ وژغورې(نجات او خلاصی راکړې،نو!) لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ مونږ به حتماً ستا شکر کوونکي بندګان شو. ﴿٢٢﴾

فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمۡ إِذَا هُمۡ يَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغۡيُكُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۖ مَّتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٢٣﴾

فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمۡ خو کله چې(الله تعالی) نجات(او خلاصی)ورکړي إِذَا هُمۡ يَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ سمدستي په ناحقه توګه په ځمکه کې سرکشي(شرک،ظلم او فساد)شروع کوي يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ای انسانانو إِنَّمَا

بېشکه حقيقت دا دی بَغۡيُكُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۖ چې ستاسو سرکشي او بغاوت
يوازې ستاسو په زيان(او په تاوان) دی مَّتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ (څو د شمار
په ورځو) د دې فاني دنيا خوندونه او لذتونه واخلئ ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ
خو بيا مو راتلل زمونږ حضور ته دي فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ نو
دروبه ښيو هغه عملونه چې تاسو يې (په دنيا کې) کوئ ﴿٢٣﴾

إِنَّمَا مَثَلُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ مِمَّا يَأۡكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلۡأَنۡعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلۡأَرۡضُ زُخۡرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتۡ وَظَنَّ أَهۡلُهَآ أَنَّهُمۡ قَٰدِرُونَ عَلَيۡهَآ أَتَىٰهَآ أَمۡرُنَا لَيۡلًا أَوۡ نَهَارٗا فَجَعَلۡنَٰهَا حَصِيدٗا كَأَن لَّمۡ تَغۡنَ بِٱلۡأَمۡسِۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

إِنَّمَا مَثَلُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا بېشکه د دنيا د ژوند مثال كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ
په شان د هغو اوبو دی چې مونږ يې د آسمان څخه نازلوو(ورو)
فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ بيا په دې سره د ځمکې څخه شنه نباتات
راوځي(يعني اوبه د خاوري سره ګډيږی او په ځمکه کې د ډول-ډول
نباتاتو لکه غلو او دانو،ګلانو او ميوو د زرغونيدلو يا شنه کيدلو سبب
کيږي) مِمَّا يَأۡكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلۡأَنۡعَٰمُ چې دا(نباتات)انسانان هم خوري او
حيوانات يې هم خوري حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلۡأَرۡضُ زُخۡرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتۡ تر
دې چې ځمکه ښه تازه،ښيرازه او ښايسته شي(يعني داسې ډول- ډول
ګلان ښه فصلونه او ميوې په کې وشي چې ځمکه پرې ښايسته
ښکاريږي) وَظَنَّ أَهۡلُهَآ أَنَّهُمۡ قَٰدِرُونَ عَلَيۡهَآ او د ځمکې خاوندان ګمان
وکړي چې دوی کولای شي(چې ښه ډېر حاصلات ترې اخستلای شي)
أَتَىٰهَآ أَمۡرُنَا لَيۡلًا أَوۡ نَهَارٗا چې ناڅاپه د شپې يا د ورځې زمونږ يو
حکم(لکه سخت باد،واوره،ږلی وغيره راشي) فَجَعَلۡنَٰهَا حَصِيدٗا نو مونږ
وګرځوو هغه(فصل يا باغ داسې) ريبل شوئ كَأَن لَّمۡ تَغۡنَ بِٱلۡأَمۡسِ لکه

پرون چې هلته هیڅ نه وو كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْأَيَٰتِ همدارنګه په تفصیل سره بیانوو مونږ خپل آیتونه لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ هغو خلکو ته چې غور او فکر کوي. ﴿٢٤﴾

یعنې روح هم د آسمان(یعنې علوي عالمه)راځي،او په ځمکه کې د خاورو د جسد سره یو ځای کیږي،چې د دې دواړو د ګډون او یو ځای کیدلو څخه انسان منځ ته راځي،چې نوموړی انسان بیا په انسانې او حیوانې دواړو کارونو کې مشغولیږي،هنر او کمال ته ورسیږي،د ښځې ،اولادونو او کور خاوند شي،په ټولنه کې یو خاص او ځانګړی مقام او ځای،اړیکي او ارتباطات پیدا کړي،د خلکو او متعلقینو اعتماد او اطمنان پرې پیدا شي،خو یو ناڅاپه یا د شپې په خوب کې یا د ورځې د بیدارۍ په حالت کې د الله تعالی حمکم یعنې مرګ ورته راشي،او د دې فانې دنیا څخه یې نوم او نښان داسې ورک شي لکه چې نه د سره دنیا ته راغلئ و،نه یې په کې ژوند کړئ و او نه په کې ودان شوئ و.

وَٱللَّهُ يَدْعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ وَيَهْدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسْتَقِيمٖ ﴿٢٥﴾ ۞

وَٱللَّهُ يَدْعُوٓاْ او الله تعالی بلنه(دعوت) ورکوي(خپلو بندګانو ته) إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ د آمن(او سلامتیا) کور(یعنې جنت) ته وَيَهْدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسْتَقِيمٖ او هر چا ته چې د الله تعالی اراده وشي د هدایت په مستقیمه لار یې روانوي.(یعنې په چا باندې چې د الله تعالی عدالت او انصاف د جنت فیصله وکړي نو الله تعالی ورته د جنت لاره ښایي او داروالسلام ته یې رسوي) ﴿٢٥﴾ ۞

لِّلَّذِينَ أَحْسَنُواْ ٱلْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوهَهُمْ قَتَرٞ وَلَا ذِلَّةٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٦﴾

لِّلَّذِينَ هغو خلکو ته أَحۡسَنُواْ چې نیک عملونه يې کړي دي ٱلۡحُسۡنَىٰ نیک مکافات(یعني جنت)دی وَزِيَادَةٞۖ او لا د دې څخه هم زیات آجر(یعني د الله تعالی رضاء او ملاقات)دی وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوهَهُمۡ قَتَرٞ وَلَا ذِلَّةٌۚ (د جنتیانو مخونه به نوراني وي) او د ذلت او خوارۍ د ګرد او غبار څخه به کاملاً پاک وي. أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ دغه خلک(په حقه) جنتیان دي هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ چې د تل دپاره به دوی په جنت کې اوسیږي. ﴿٢٦﴾

وَٱلَّذِينَ كَسَبُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةِۭ بِمِثۡلِهَا وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۖ كَأَنَّمَآ أُغۡشِيَتۡ وُجُوهُهُمۡ قِطَعٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مُظۡلِمًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧﴾ وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ مَكَانَكُمۡ أَنتُمۡ وَشُرَكَآؤُكُمۡۚ فَزَيَّلۡنَا بَيۡنَهُمۡۖ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم مَّا كُنتُمۡ إِيَّانَا تَعۡبُدُونَ ﴿٢٨﴾

وَٱلَّذِينَ كَسَبُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةِۭ بِمِثۡلِهَا وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۖ كَأَنَّمَآ أُغۡشِيَتۡ وُجُوهُهُمۡ قِطَعٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مُظۡلِمًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧﴾

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک كَسَبُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ چې بد کارونه (لکه شرک و غیره)يې کړي وي(نو) جَزَآءُ سَيِّئَةِۭ بِمِثۡلِهَا بدل یا جزا د بد کار د هغې(بد کار)په شان ده(یعني د نیکۍ بدل یا جزا څو چنده ورکول کیږي خو د بدۍ یا ګناه بدل یا جزا مساوي او برابره ورکول کیږي یعنې زیاته نه ورکول کیږي.) وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ او خوره به وي په دوی(یعني په بدکارو او ګنهګارانو باندې) ذلت او رسوايې. مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۖ او نه به وي د دوی(یعني د مشرکانو ګنهګارانو) دپاره د الله تعالی (د عذاب)څخه څوک بچ کوونکی (داسې به تور وي) كَأَنَّمَآ أُغۡشِيَتۡ وُجُوهُهُمۡ قِطَعٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مُظۡلِمًاۚ لکه په مخونو باندې يې چې د توري شپې

پردې غوړېدلې وي أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ دغه(ذکر شوي مشريکان او بدکاره) خلک دوزخيان دي هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ چې تل به په دغه(دوزخ) کې اوسيږي ﴿٢٧﴾

وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ مَكَانَكُمۡ أَنتُمۡ وَشُرَكَآؤُكُمۡۚ فَزَيَّلۡنَا بَيۡنَهُمۡۖ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم مَّا كُنتُمۡ إِيَّانَا تَعۡبُدُونَ ﴿٢٨﴾

وَيَوۡمَ او په هغه ورځ(يعنې د قيامت په ورځ) نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا چې مونږ هغوی ټول راټول کړو ثُمَّ نَقُولُ بيا به مونږ ووايو لِلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ هغو خلکو ته چې د الله تعالی سره يې شرک کړئ دی مَكَانَكُمۡ أَنتُمۡ وَشُرَكَآؤُكُمۡۚ چې تاسو او ستاسو شريکان يا معبودان(يعنې هغه چې تاسو د الله تعالی سره شريک کړي دي،او پرته د الله تعالی څخه مو ورڅخه خير او شر غوښتلو او د شفاعت طمعه مو ورڅخه کوله) په خپلو-خپلو ځايونو باندې ودريږئ فَزَيَّلۡنَا بَيۡنَهُمۡۖ نو مونږ به د دوی تر منځ ارتباطات(او تعلقات)قطع کړو(يعنې مشرکانو چې کومه خيالي دوستې د خپلو شريکانو يا معبودانو سره لرله او په دې طمع وو چې ګڼې دا د نيکانو د مجسمو نيکان او د قبرونو والا اولياوالله به د دوی شفاعت وکړي،الله تعالی به د دوی په منځ کې دا اړيکې او دوستې او د شفاعت طمع قطعه کړي) وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم او وبه وايې د دوی(يعنې د مشرکانو)شريکان يا معبودان(يعنې هغه خلک چې مشرکانو د الله تعالی په صفتونو کې شريک کړي) مَّا كُنتُمۡ إِيَّانَا تَعۡبُدُونَ تاسو خو زمونږ عبادت نه دی کړئ(يعنې د کومو نيکانو خلکو مجسمې يا بتان چې جوړ شوي دي او خلک يې عبادت کوي او يا هغه اولياوالله چې په قبرونو کې دي او خلک يې عبادت کوي،نو اولياوالله او نيکان خلک د مشرکانو د عبادت څخه خبر هم نه وي بلکې د دوی د شرک څخه به بيزاره وي ځکه چې

اولیاوالله او نیکانو خو خپل ټول عمر د الله تعالی په عبادت کې تیر کړئ دی. ) (۲۸)

فَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ إِن كُنَّا عَنۡ عِبَادَتِكُمۡ لَغَٰفِلِينَ ﴿۲۹﴾

او شریکان به مشرکانو ته نور وایې چې:

فَكَفَىٰ بِٱللَّهِ نو الله تعالی کافي دی(الله تعالی بس دی) شَهِيدًۢا شاهد(ګواه) بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ زمونږ او ستاسو په منځ کې إِن كُنَّا عَنۡ عِبَادَتِكُمۡ لَغَٰفِلِينَ چی:بېشکه مونږ ستاسو د عبادت څخه بي خبره وو(یعني که فرضاً تاسو زمونږ عبادت کړئ هم وي،که تاسو زمونږ څخه مال،اولاد،خیر او شر غوښتئ هم وي خو مونږ خبر نه یو) ﴿۲۹﴾

هُنَالِكَ تَبۡلُواْ كُلُّ نَفۡسٖ مَّآ أَسۡلَفَتۡۚ وَرُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۖ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿۳۰﴾

هُنَالِكَ تَبۡلُواْ كُلُّ نَفۡسٖ هلته به(د قیامت په ورځ) هر څوک وګوري مَّآ أَسۡلَفَتۡۚ هغه(عملونه چې د دنیا څخه یې آخرت ته د ځان څخه) مخکې لیږلي وو(او دا د عملونو لیدل د قیامت په ورځ کوم د عقل خلاف او د تعجب کار نه دی،ځکه چې دا کار خو اوس په دنیا کې هم کیږي،مثلاً په کور کې سي سي ټي وي کیمره لږیدلي ده،د شپې په دولس بجو غل کور ته راننوځي،بیا د کوټې دروازه خلاصوي،دکور مالک وژني بیا د الماری قلف ماتوي، ټولې پیسې د الماری څخه اخلي او د کور څخه وځي،کیمره د ټولې صحنې ریکارډینګ کوي،یعني د غل راتلل،کوټې ته ننوتل،قتل کول،د الماری قلف ماتول،پیسې اخستل او وخت ټول ریکارډ کوي.پولیس راځي،کیمره چک کوي،غل او قاتل نیسي او په پولیس سټیشن کې ورته کیمره چالانوي،نو آیا غل د خپل فیلم د لیدلو څخه ورسته د منکریدلو

چانس لرې؟هیڅکله نه.دا خو د دنیا د کمرو مثال و،چیرته شته او چیرته نشته.خو د الله تعالی کیمرې هرځای او یو کار هم د هغوی د ریکار کولو څخه نه بچ کیږي،او د قیامت په ورځ به هر چا ته خپل-خپل فیلم چلانیږي،او هیڅوک منکریدلای نشي بلکې هر سړی به اقرار کوي) وَرُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ او(بیا به) الله تعالی ته وروستل شي مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّۖ چې حقیقې مالک(او معبود)یې دی(یعني د اعمالو د لیدلو او په خپلوګناهونو باندې د اقرار کولو څخه وروسته به د الله تعالی د پولیسو پواسطه د الله تعالی حضور ته وروستل شی،او د الله تعالی عدالت او انصاف به وربانديې فیصله وکړي.چون دوی په دنیا کې غولیدلي وو او ځینې شیان او انسانان یې د الله تعالی په صفتونو کې شریک کړي وو،او ځینې انسانانو خو د دنیا د عزت،دولت او شهرت دپاره خلکو ته د شفاعت وعدې ورکړي وي،نو دوی به د حشر په میدان کې یو خوا بل خوا د هغوی پسې ګوري.الله تعالی فرمايي:) وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ او هغه ټول د دروغو(خدایان او شریکان) چې دوی جوړ کړي وو،ورڅخه به ورک شي(یعني دا د شفاعت امید به یې هم قطع شي نو فکر وکړئ چې څه حال به یې وي) ﴿٣٠﴾

قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾

قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ (مشرکانو ته) ووایه څوک تاسو ته د آسمان او د ځمکې څخه رزق(روزي)درکوي(اوس ساینس هم دا ثابته کړې ده چې:روزمره رزق الله تعالی د آسمان او ځمکې دواړو څخه ورکوي،داسې چې: الله تعالی د شنو نباتاتو په پاڼو کې داسې کارخانې

جوړي کړي دي چې انرژۍ يعنې طاقت د لمر د رڼا څخه،يو ګاز چې نوم يې کاربن ډای اوکسايډ دی،د هوا څخه،او اوبه،معدني مواد او منرالونه د ځمکې د خوا څخه نوموړو کارخانو ته وروړل کيږي،پوهيږو چې لمر هم په آسمان کې دی او هوا هم په آسمان کې ده.نو کله چې د لمر څخه انرژۍ او د هوا څخه د کاربن ډای اوکسايډ ګاز او د ځمکې څخه اوبه او معدني مواد نوموړو کارخانو ته ننوزي،نو د کاربن ډای اوکساد د ګاز او اوبو څخه خپل ځانته يعنې نبات ته خوراک يعنې ګلوکوز او زمونږ د تنفس دپاره اوکسيجن جوړي،نبات د نوموړی خوراک يعنې ګلوکوز د استعمال پواسطه د انسانانو او حيواناتو دپاره ډول-ډول ميوي،غلې دانې، واښه او لرګي جوړوي.او پوهيږو چې په دنيا کې ژوند پرته د اوکسجن ،خوراکي موادو او لرګيو څخه ناممکن دی،کوم چې روزمره د آسماني او ځمکني موادو د يو ځای کيدلو څخه په شنو نباتاتو کې جوړيږي.«والله اعلم»او فرمايې! ورته ووايه،پوښتنه ترې وکړه) أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ يا د اوريدلو د قوت او د ليدلو د قوت مالک څوک دی؟ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ او څوک ژوندی د مړي څخه راباسي؟ او څوک مړی د ژوندي څخه راوباسي؟( الله تعالی د مړو اتومونو او ماليکولونو څخه ژوندی نطفې يا ګاميټونه جوړوي،او د نارينه او ښځينه ګاميټونو نه ژوندۍ هګۍ يا زايګوټ جوړوي،او د زايګوټ څخه ژوندی موجود جوړوي.او ژوندي موجود ته مرګ ورکوي،او په مړو اتومونو او ماليکولونو يې تجزيه کوي.) وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ او څوک د کائيناتو ټولې چارې اداره کوي؟(مثلاً ځمکه په فضاء کې د سپوږمۍ،لمر او نورو سيارو سره په يوه مناسبه فاصله کې ساتل،ځمکه په يو ثابت سرعت سره د خپل محور او لمر په خوا او شاه ګرځول ځکه چې د سرعت د زياتيدو او کميدو په صورت کې به د ورځو او کلونو نظام

ګډوډ شي،د لمر او ځمکې تر منځ فاصله په مناسبه اندازه ساتل(ځکه چې د زیاتیدو او کمیدو په دواړو صورتونو کې ژوند د منځه ځي،د کائیناتو په یو ثابت او مناسب سرعت سره لویدل ځکه چې د سرعت د زیاتیدو او کمیدو په دواړو صورتونو کې کائینات ختمیږي،د لمر پواسطه په یوه ثابته او مناسبه اندازه د انرجې جوړول ځکه چې د مناسبې اندازې څخه د زیاتیدو او کمیدو په دواړو صورتونو کې په ځمکه کې ژوند د منځه ځي او نور ډیر بې حسابه مثالونه) فَسَيَقُولُونَ نو وبه وایي چې ٱللَّهُۚ الله تعالی دی(یعنې د مکې مشرکینو دا منله چې یوازې الله تعالی د کائناتو خالق هم دی او د کائناتو د نظام تدبیر کوونکۍ او چلوونکۍ هم دی) فَقُلۡ نو ته(ورته) ووایه أَفَلَا تَتَّقُونَ نو آیا بیا د الله تعالی څخه نه ویریږۍ(یعنې چې الله تعالی خپل خالق،مالک او رازق منۍ،او دا هم منۍ چې د کائیناتو دا ټول نظام یوازې الله تعالی چلوي،نو بیا تاسو د الله څخه نه ویریږۍ چې شرک ورسره کوۍ؟) ﴿٣١﴾

فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَاذَا بَعۡدَ ٱلۡحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ﴿٣٢﴾

فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ نو دغه الله تعالی(چې:ټول مخلوق ته رزق ورکوي،مړه ژوندي کوي او ژوندي مړه کوي او دکائیناتو نظام کنټرول او چلوي،نو همدا الله تعالی!) رَبُّكُمُ ٱلۡحَقُّۖ ستاسو ریښتینی(او حق) رب دی(یعنې ټول ضرورتونه مو یوازې همدا الله تعالی برابروي چې د ذکر شوو صفتونو خاوند دی،نو باید چې تاسو عبادت او بندګي هم یوازې د همدې صفتونو لرونکي الله تعالی وکړۍ او نور مخلوق ورسره په صفتونو کې شریک نکړۍ،او که د الله تعالی درګاه او حق پرېږدۍ او پرته د هغه جل جلاله څخه د بل چا درګاه ته ورشۍ) فَمَاذَا بَعۡدَ ٱلۡحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُۖ نو د حق نه وروسته څه کیدلای شي پرته د ګمراهۍ څخه(یعنې په عقیدوي مسئلو کې

چې یوې خوا ته حق وي بل خوا ته به خامخا باطل وي،دواړه حق یا دواړه باطل نشي کیدلای،نو څوک چې وایي دواړه حق دي دوی جاهلان دي) فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ نو تاسو کوم خوا روان یاستئ. ﴿٣٢﴾

كَذَٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ فَسَقُوٓاْ أَنَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٣﴾

كَذَٰلِكَ همدارنګه حَقَّتۡ ریښتیا شوه كَلِمَتُ رَبِّكَ خبره د رب ستا عَلَى ٱلَّذِينَ فَسَقُوٓاْ د هغو خلکو په حقله چې نافرمانه دي أَنَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ (دا خبره) چې دوی ایمان نه راوړي(یعنې دا منې چې کائنات الله تعالی پیداکړي دي،ژوند او مرګ هغه جل جلاله ورکوي،ټول مخلوق ته رزق ورکوي،کائنات کنټرول او چلوي،خو د دې سره سره بیا هم ورسره شریکان نیسي او په قرآنکریم ایمان نه راوړي) ﴿٣٣﴾

قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۚ قُلِ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴿٣٤﴾

قُلۡ (ورته)ووایه هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن آیا ستاسو په شریکانو(یعنې غلطو معبودانو)کې کوم یو داسې شته يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ چې مخلوق په اول ځل پیدا کړي؟(یعنې څوک په اول ځل پیدا کړي؟او د فناه کیدلو څخه وروسته یې) ثُمَّ يُعِيدُهُۥۚ بیا پیدا کړي(یعنې د مرګ څخه وروسته یې بیا راژوندی کړي؟معلومه خبره ده چې پرته د الله تعالی څخه هیڅوک هم دا کار نشي کولای،نو!) قُلِ (ورته)ووایه ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ چې یوازې الله تعالی د اول ځل دپاره مخلوق پیدا کوي(او د فناه او مرګ څخه وروسته یې) ثُمَّ يُعِيدُهُۥۖ بیا دوباره ژوندې کوي فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ نو تاسو څنګه(د حق څخه بل خوا ته)ګرځئ ﴿٣٤﴾

قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّۚ قُلِ ٱللَّهُ يَهۡدِي لِلۡحَقِّۗ أَفَمَن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّيٓ إِلَّآ أَن يُهۡدَىٰۖ فَمَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ﴿٣٥﴾

قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن (ورته)ووایه چې آیا ستاسو په شریکانو(یعنې غلطو معبودانو)کې داسې کوم یو شته دی يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّۚ چې د حق طرف ته رهنمایې کوي؟ قُلِ (ورته)ووایه چې: ٱللَّهُ يَهۡدِي لِلۡحَقِّۗ الله تعالی د حق طرف ته رهنمایې کوي أَفَمَن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ نو آیا هغه څوک چې د حق طرف ته رهنمایې کوي أَحَقُّ ډېر حقدار دی أَن يُتَّبَعَ چې پیروي یې وشي أَمَّن لَّا يَهِدِّيٓ یا هغه څوک(ډېر حقدار دی چې پیروي یې وشي) چې په خپله لاره نه شي پیداکولای إِلَّآ أَن يُهۡدَىٰۖ مګر دا چې ورته لاره وښودله شي(یعنې هغوی چې په خپله ګمراه دي او لاره ترې ورکه او د هدایت محتاج دي،نو دوی به چا ته څه لاره وښایې،بلکې نور خلک چې د دوی پیروي کوي هغوی هم ګمراه کوي) فَمَا لَكُمۡ نو په تاسو څه شوي دي كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ دا تاسو څنګه فیصلې کوئ ﴿٣٥﴾

وَمَا يَتَّبِعُ أَكۡثَرُهُمۡ إِلَّا ظَنًّاۚ إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا يَفۡعَلُونَ ﴿٣٦﴾

وَمَا يَتَّبِعُ أَكۡثَرُهُمۡ إِلَّا ظَنًّاۚ په دوی کې اکثره خلک(په عقیدوي مسئلو کې) د ګمان او اټکل پیروي کوي إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ شَيۡـًٔاۚ خو ګمان او اټکل هیڅکله د حقیقت او واقیعت ځای نشي نیولای إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا يَفۡعَلُونَ بېشکه الله تعالی د دوی په اعمالو ډېر ښه پوهیږي. ﴿٣٦﴾

وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ أَن يُفۡتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٣٧﴾

وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ او دا قرآن پرته د الله تعالی څخه د کوم انسان د طرف څخه نه دی جوړ شوی وَلَٰكِن تَصْدِيقَ ٱلَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ ليکن دا خو د هغو کتابونو تصديق کوونکئ دی کوم چې د ده(يعني قرآن) څخه مخکې وو(لکه تورات او انجيل،يعني په قرآن کې خو کوم نوی دين نه دی راغلئ بلکې دا خو د اسلام د دين آخرنی کتاب دی، کوم دين چې د آدم عليه السلام څخه راروان دی او محمد«صلی الله عليه وسلم» د اسلام د دين وروستنی پيغمبر دی) وَتَفْصِيلَ ٱلْكِتَٰبِ او د ټولو آسماني کتابونو تشرح(او تفصيل) دی. لَا رَيْبَ فِيهِ په دې کې هيڅ شک نشته (چې دا قرآن) مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ د کائناتو د رب د طرف څخه(راليږل شوئ)دی ﴿۳۷﴾

أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّثْلِهِۦ وَٱدْعُوا۟ مَنِ ٱسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿۳۸﴾

أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ آيا دوی(يعني کفار) وايي چې دا(قرآن محمد«صلی الله عليه وسلم په خپله) جوړ کړئ دی؟ قُلْ ته (ورته)ووايه(که تاسو وايئ چې قرآن د انسان کلام دی او انسان يعني محمد«صلی الله عليه وسلم» تصنيف او جوړ کړئ دی،نو بيا خو تاسو هم انسانان يئ،محمد«صلی الله عليه وسلم خو ۴۰ کلونه په تاسو کې ژوند کړئ دی، ډېر ښه يې پيژنئ چې نه دروغجن دی، نه يې ليک او لوست کړئ دی ،نه شاعر دی او نه جادوګر،خو په تاسو کې خو جادوګر،شاعران او اديبان هم شته دی نو!) فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّثْلِهِۦ تاسو (هم) د قرآن په شان يو سورت جوړ کړئ (دا د قيامت پورې انسانانو ته د قرآنکريم چلينج دی،که د چا په زړه کې د قرآنکريم په باره کې څه ښيری او شک وي چې ګڼي دا د انسان کلام دی،او محمد صلی الله عليه وسلم ليکلئ دی، نو دوی خو هم انسانان دي،

صرف د قرآن د یو سورت په شان دې دوی هم یو سورت جوړ کړي چې د قرآن د سورت مقابله وکړي،او د قرآنکریم دا چلینج یوازې د مکې د مشرکانو او د هغې وخت د خلکو دپاره نه ؤو،بلکې د قیامت پورې د ټولو انسانانو دپاره دی،منکرینو هم څه دمه نه ده کړي،بلکې د پیغمبر علیه سلام د زمانې نه تر اوسه پورې یې نه ستړي کیدونکې کوششونه کړي او کوي یې،بي حسابه دولتونه یې مصرف کړي او مصرفوي یې،تر څو چې د قرآن دا چلینج مات کړي،او کله چې هم په هره زمانه کې چا د قرآن د دې چلنج مقابله کړي خلکو وربانديې خندلي او ناکام شوي دي.مثلاً مسلمه کذاب د الفیل د سورت په مقابل کې داسې شی جوړ کړو(الفیل«فیل» (۱)،و ما اَدْرَاکَ مَاالفِیل (۲)«او ته څه پوهیږې د فیل په باره کې» ،لَهُ ذَنْب وَبِیل «ډاروونکي لکۍ لرې» (۳) لَهُ خُرْطُوم طَوِیل (۴) «او اوږد خرطوم لرې»......نو مسلمانان خو پرېږده چې خپلو خلکو هم وربانديې وخندل،مثالونه ډېر زیات دي خو د وخت د کمې په سبب یې لیکل مناسب نه دي،خو الحمدلله نه چا د پیغمبر علیه سلام د زمانې څخه تر اوسه پورې دا چلنج مات کړئ دی او نه به یې د قیامت پورې څوک مات کړي.د تعجب او حیرانتیا خبره ده،چې څوک دا وایې چې قرآنکریم نعوذبالله نبي علیه سلام لیکلئ دی،او د بنده خبرې دي، نو ولي دا فکر نه کوي چې:علم،هنر او ادب خو اوس په ۲۲ پیړۍ کې د ۱۴۰۰ کلونو مخکني علم،هنر او ادب په نسبت ډېر مخکې او ترقي کړي ده،ځکه چې ۱۴۰۰ کلونه پخوا نه مکتب ؤ،نه مدرسه او نه پوهنتون،نو په داسې شرایطو او حالاتو کې څنګه ممکنه وه چې: نبي علیه سلام چې لیک او لوست ئې هم نه ؤو کړئ،هغه صلي الله علیه وسلم دې داسې کتاب ولیکي چې نه په هغې وخت کې د فصاحت او بلاغت په ساحه کې نه د سیاست،نه د تاریخ،نه قانون او نه د ساینس په ساحو کې ئې چا مقابیله

کړي ده،او نه په دې ۱۴۰۰ کلونو کې چا کړي ده او نه ئې د اوس وخت ادیبان،سیاست مداران،تاریخ پوهان،قانون پوهان او ساینسدانان مقابله کولای شي او نه به ئې د قیامت پورې څوک وکړي،که دا ټول ادیبان،سایسدانان،فیلسوفان او د مختلفو مسلکونو علماء یوځای شي،په شریکه به هم د قرآن په شان کتاب جوړ نه کړي،حتی چې د قرآن د یو وړوکي سورت په شان سورت به هم جوړ نه کړي،او دا څه ټوقي نه دي،د قرآن نه منکرانو خصوصاً یهودانو ډېر زیات کوششونه کړیدي،او اوس یې هم کوي،دولتونه مصرفوي ،چې د قرآن دا چلینج مات کړي او نعوذبالله قرآن غلط ثابت کړي،مګر نه چا دا کار کړئ دی او نه به یې د قیامت پورې څوک وکړي.نو دا څنګه عقل او انصاف دی چې هغه کار چې د ۲۲ پیړۍ د پي ایچ ډي او دوکتورا والا ادیبان،ساینسدانان،فیلسوفان،سیاست مداران او د مختلفو مسلکونو علماء په ګډه نشي کولای ،نو د دي کافرانو عقلونه دا څنګه منې چې هغه کار دې محمد صلی الله علیه وسلم ۱۴۰۰ کلونه پخوا کړئ وي په داسې حال کې چې خط ئې هم د چا سره نه ؤو کړئ،خو د دي کافرآنو د دې بي منطقه خبرې مطلب چې قرآنکریم نعوذبالله نبي علیه سلام لیکلئ دی،نو د دې مطلب خو دا کیږي چې:نبي علیه سلام د ۲۲ پیړۍ د انسانانو او په خاص ډول د مختلفو مسلکونو د ټولو علماوو څخه ډېر زیات پوهیدو یعنی په ادبیاتو هغه(صلی الله علیه وسلم) د اوسنیو او ټولو انسانانو څخه ښه پوهیدو،په کیمیا هغه پوهیدو،په فزیک هغه پوهیدو،د کائناتو دلویدلو،دلمر،سپوږمۍ او ځمکې د حرکتونو څخه هغه خبرؤو،بلک هول او بیګ بینګ هغه صلی الله علیه وسلم ته معلوم ؤ، په بیالوژي هغه پوهیدو،نطفي یعنی سپرم ، اوم او د مور په رحم کې د ماشوم جوړول هغه ته معلوم ؤ،په سیاست ،تاریخ ،قانون او فلسفه هغه صلی الله علیه

وسلم پوهیدو او بیا ئې د دې ټولو علومو پواسطه قرآنکریم لیکلئ دی. نو د دې ټولو منکرانو نه هیله ده چې:لکه څنګه چې د کائناتو د نورو شیانو په باره کې تحقیقات کوئ یو کرت خو په دې باره کې هم د تعصب نه پاک تحقیق وکړئ چې:محمد صلی الله علیه وسلم دا دومره علوم چیرته او په کوم پوهنتون کې زده کړي ؤ،څکه چې دا ستاسو د آینده مسئله ده،او که هر ملحد ساینسدان یا هر منکر دا تحقیق وکړي چې د محمد صلی الله علیه وسلم د علم د حاصلولو منبع معلومه او پیدا کړي ان شاءالله چې نیغ به خپل خالق ته ورسیږي. او ځینې کافران بیا وایې چې نبي علیه سلام خو ډیر پوه او د دنیا ذهین انسان ؤ،نو د دې حضراتو ښخه پوښتنه دا ده چې ته هغه مبارک(صلی الله علیه وسلم) د دنیا د ټولو انسانانو ښخه پوه او ذهین انسان منې،او دا هم منې چه د هغه(صلی الله علیه وسلم)خبرې د کاڼې کرښې دي څوک یې ماتولئ نشي او نه څوک د هغه د خبرو په شان جوړولای شي، نو بیا د دې پوه او ذهین انسان خبره ولې نه منې ،هغه صلی الله علیه وسلم خو فرمايي چې:قرآن څما خبرې نه دي دا څما کلام نه دی ،زه د الله بنده او رسول یم،زه د الله تعالی نبي یم،قرآنکریم د الله تعالی کلام او پاکې خبرې دي او په ما باندې الله تعالی نازل کړئ دی،او باید ووایو چې قرآنکرم د نبي علیه سلام د قیامت پورې تل پاتې معجزه ده) وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ او پرته د الله تعالی ښخه نور چې هر څوک راغوښتلای شئ،د مرستې دپاره یې راوغواړئ(چې د قرآن پشان د یو سورت په جوړولو کې درسره مرسته وکړي) إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ که چیرته تاسو رښتینې یاستئ.﴿۳۸﴾

بَلۡ كَذَّبُواْ بِمَا لَمۡ يُحِيطُواْ بِعِلۡمِهِۦ وَلَمَّا يَأۡتِهِمۡ تَأۡوِيلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٩﴾

او د کافرانو تکذیب او انکار د قرآنکریم څخه د علم او پوهې په سبب نه دی.

بَلۡ كَذَّبُواْ بِمَا لَمۡ يُحِيطُواْ بِعِلۡمِهِۦ بلکې دوی د قرآنکریم څخه انکار او تکذیب د ناپوهۍ او بي خبرۍ په سبب کوي(یعنی د دوی د تکذیب او انکار سبب د دوی جهالت دی،نه دا چې ګوندې دوی په قرآنکریم پوهیږي،او کوم علمي اعتراض لري) وَلَمَّا يَأۡتِهِمۡ تَأۡوِيلُهُۥۚ او نه تر اوسه پورې دوی ته حقیقت (او واقیعت)روښانه شوئ دی(نو دا آیت د دې دلیل دی چې په قرآنکریم باندې پوهیدل او پکې فکر او غور کول واجب دي«القرطبي») كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ همدارنګه د دوی څخه مخکینیو خلکو هم (د رسولانو څخه)انکار او د هغوی تکذیب کړئ وو فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ نو وګوره چې د ظالمانو څه انجام شو. ﴿٣٩﴾

وَمِنۡهُم مَّن يُؤۡمِنُ بِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن لَّا يُؤۡمِنُ بِهِۦۚ وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٤٠﴾

وَمِنۡهُم او ځینې د دوی څخه مَّن هغه څوک دي(چې د عقل څخه کار اخلي،په قرآن باندې ځانونه پوه کوي،فکر او غور په کې کوي،او!) يُؤۡمِنُ بِهِۦ ایمان وربانديې راوړي وَمِنۡهُم مَّن او ځینې د دوی څخه هغه څوک دي(چې د عقل څخه کار نه اخلي،نه په قرآن ځانونه پوه کوي،او نه فکر او غور پکې کوي،یعني خبر نه وي چې په کې زمونږ ګټه ده که تاوان،بس په پټو سترګو د نورو دنیا پرستانو پیروي کوي،او)

لَّا يُؤۡمِنُ بِهِۦۚ په قرآن باندې ایمان نه راوړي وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُفۡسِدِينَ او ستا رب ښه پوه دی په فساد کوونکو باندې ﴿٤٠﴾

وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّي عَمَلِي وَلَكُمۡ عَمَلُكُمۡۖ أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعۡمَلُ وَأَنَا۠ بَرِيٓءٞ مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٤١﴾

وَإِن كَذَّبُوكَ او که چیرته دوی تا دروغجن ګڼي فَقُل نو ته(ورته) ووایه لِّي عَمَلِي چې زما دپاره زما خپل عمل دی وَلَكُمۡ عَمَلُكُمۡۖ او ستاسو دپاره ستاسو خپل عمل دی أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعۡمَلُ زه چې څه عمل کوم د هغه د مسئولیت څخه تاسو خلاص یاستئ وَأَنَا۠ بَرِيٓءٞ مِّمَّا تَعۡمَلُونَ او تاسو چې څه عمل کوئ د هغه د مسئولیت څخه زه خلاص یم(یعني ستاسو خپل مسئولیت دی او زما خپل،البته د الله تعالی پیغام تاسو ته دررسول زما مسئولیت و،ما دروورسولو،نور ستاسو کار دی چې منئ یې که نه؟ایمان راوړئ او که نه؟ما خپل فرض آدا کړل.) ﴿٤١﴾ وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُونَ إِلَيۡكَۚ أَفَأَنتَ تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ وَلَوۡ كَانُواْ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٤٢﴾

وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُونَ إِلَيۡكَۚ او د دوی څخه ځینې هغه څوک دي چې ستا خبرې اورې(لیکن د زړه څخه یې د زړه په غوږونو نه اورې، د زړه غوږونه یې کاڼه دي،ستا په خبرو باندې فکر او غور نکوي ځکه چې خپل عقل نه استعمالوی،او په پټو سترګو د نورو پیروي کوي) أَفَأَنتَ تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ نو آیا ته(داسې)کڼو ته(حق)اورولای شې وَلَوۡ كَانُواْ لَا يَعۡقِلُونَ که چیرته دوی د عقل څخه کار وانخلي(یعني تر څو چې خپل عقل استعمال نکړي،او ستا په خبرو باندې غور او فکر ونکړي،تر هغې پورې د دوی په حق پوهول او زړونه یې حق ته راړول آسان کار نه دی.) ﴿٤٢﴾

وَمِنۡهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيۡكَۚ أَفَأَنتَ تَهۡدِي ٱلۡعُمۡيَ وَلَوۡ كَانُواْ لَا يُبۡصِرُونَ ﴿٤٣﴾

وَمِنۡهُم مَّن او ځینې د دوی څخه هغه څوک دي يَنظُرُ إِلَيۡكَۚ چې تا ته ګورې(لیکن د زړه څخه د زړه په سترګو درته نه ګورې،ځکه چې د زړه سترګې يې د حق د لیدلو دپاره ړندې دي) أَفَأَنتَ تَهۡدِي ٱلۡعُمۡيَ نو آیا ته (داسې) ړندو ته هدایت(او سمه لار) وربنودلای شې؟ وَلَوۡ كَانُواْ لَا يُبۡصِرُونَ که چیرته دوی د بصیرت څخه کار وانخلي(یعنې ترڅو چې دوی تا ته د زړه په سترګو کتل او توجه ونکړي،او ستا په خبرو کې فکر او غور ونکړي،نو داسې خلکو ته هدایت او لاره ښودل آسان نه دي.) ﴿٤٣﴾

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ ٱلنَّاسَ شَيۡـٔٗا وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٤٤﴾

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ ٱلنَّاسَ شَيۡـٔٗا بیشکه الله تعالی په انسانانو هیڅ ظلم نکوي وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ لیکن انسانان پخپله په خپلو ځانونو ظلم کوي(یعنې الله تعالی انسانانو ته د جنت او دوزخ لارې د پیغمبرانو علیهم السلام پواسطه واضحه ښودلې دي،او د دې دواړو لارو د انتخابولو دپاره یې اختیار، عقل ،علم او د علم د حاصلولو استعداد او اسباب ورکړي دي،خو انسانان پخپله خپل عقل او علم نه استعمالوي،او اختیار غلط استعمالوي،د جنت لار پریږدي او د دوزخ لار انتخابوي) ﴿٤٤﴾

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ كَأَن لَّمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّنَ ٱلنَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيۡنَهُمۡۚ قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ﴿٤٥﴾

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ او په هغه ورځ چې هغه«جل جلاله» دوی راجمع کړي.(یعنې د قیامت په ورځ چې الله تعالی انسانان د قبرونو څخه راپاڅوي او د حشر په میدان کې ټول راجمع کړي،نو دوی به داسې

احساس او ګمان کوي!) كَأَن لَّمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّنَ ٱلنَّهَارِ لکه چې دوی نه دي اوسیدلي (په دنیا کې) مګر د ورځې یوساعت(یعني داسې ګمان به کوي چې په دنیا کې یې د یو ساعت یا د ورځې د یوې حصې څخه زیات وخت نه دی تیر کړی،او!) يَتَعَارَفُونَ بَيۡنَهُمۡۚ دوی به په خپلو منځونو کې(یو بل)پیژني(یعني داسې به یو بل پیژني لکه په دنیا کې چې یوبل پیژني) قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ بېشکه هغه خلک تاوانیان شول چې د الله تعالی د ملاقات تکذیب یې کړی وو وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ او په سمه لار روان نه وو. ﴿٤٥﴾

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ ٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ ﴿٤٦﴾

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ او که مونږ تا ته وښایو یو څه د هغه(عذاب) چې مونږ ئې د دوی سره وعده کوو أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ یا(دوی ته د عذاب د ورکولو څخه مخکې) مونږ تا وفات کړو(یعني په دنیا کې د هغوی عذاب ونه ګورې) فَإِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ نو د دوی راتلل مونږ ته دي(یعني مرګ یې زمونږ د عذاب څخه نشي خلاصولای،بلکې بیرته راژوندې کیږي،او زمونږ حضور ته د حساب او فیصلې دپاره راوستل کیږي) ثُمَّ ٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ بیا نو الله تعالی په هغو عملونو ښه خبر دی چې دوی یې کوي(یعني د قیامت په ورځ به عذاب ورکړي،چې ته به ئې هم په خپلو سترګو ووینې) ﴿٤٦﴾

وَلِكُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولٞۖ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمۡ قُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٤٧﴾

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ ۖ او د هر امت دپاره يو پيغمبر دی(د قيامت په ورځ به كفار د پيغمبرانو د راتلو څخه انكار وكړي،نو هر امت ته به خپل پيغمبر راشي) فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمْ نو كله يې چې پيغمبر راشي(ورته به وايي چې:ېېشكه مونږ د الله تعالی پيغام دررسولای و،نو د پيغمبرانو د شاهدۍ وركولو څخه وروسته به!) قُضِيَ بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ د دوی په منځ كې به په عدل او انصاف سره فيصله وشي وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ او په دوی به ظلم نه كيږي. ﴿٤٧﴾

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ او هغوی(يعني كفار) وايي چې كله به دا(د عذاب)وعده پوره كيږي إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ كه تاسو ريښتيني ياستئ ﴿٤٨﴾ (يعني تاسو چې مونږ د كوم عذاب څخه ويروئ نو كه ستاسو خبره ريښيا وي نو ولې په مونږ نه راځي،اصلاً دوی دا خبره د استهزا په قسم كوي)

قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾

دوی چې ستا څخه د عذاب غوښتنه كوي!

قُل (ورته) ووايه (چې) لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرًّا وَلَا نَفْعًا زه د خپل ځان دپاره د ضرر او د خير(رسولو)اختيار نلرم إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ مګر هغه چې الله تعالی غواړي(يعني كه تاسو د قرآنكريم د صداقت او منلو دپاره ماته د عذاب راوستل شرط ږدئ،نو عذاب راوستل او لرې كول زما كار نه دی،زما كار تاسو ته د الله تعالی پيغام رسول دي،او د عقل،فكر او سليم فطرف استعمالول،او د پيغام منل او نه منل ستاسو كار دی،او كه په هر

مطلب د قرآن د منلو دپاره ستاسو شرط د عذاب راوستل وي،نو) لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ (د الله تعالی په علم کې) د هر يو امت دپاره يو ټاکل شوی وخت دی(په هغوی باندې د عذاب د راتللو دپاره) إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ هر کله چې د هغوی ټاکل شوی وخت راشي فَلَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ نو نه به دوی يو ساعت وروسته کيدلای شي او نه به يو ساعت مخکې کيدلای شي (د خپل ټاکلي وخت څخه،يعنې داسې نه ده چې څوک وايي که اسلام او قرآن حق وي او نبي عليه السلام په حقه پيغمبر وي،نو چې مونږ يې نه منو نو په مونږ عذاب ولې نه راځي؟حقيقت دا دی چې الله تعالی خپل کارونه پخپله خوښه کوي،د الله تعالی په هر کار کې حکمت وي،بنده ته د توبې دپاره وخت او مهلت ورکوي،او په خپل وخت سره عذاب ورکوي.) ﴿٤٩﴾

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٥٠﴾

قُلْ أَرَءَيْتُمْ (دوی ته) ووايه آيا تاسو(په دې)غور کړئ دی إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوْ نَهَارًا که چيرته په تاسو د الله تعالی عذاب د شپې يا د ورځې راشي(نو) مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ ٱلْمُجْرِمُونَ هغه څه شی دی چې مجرمان(د هغې په ډاډ) د عذاب په راتللو تادي(عجله) کوي( چې ګڼې د الله تعالی د عذاب څخه به يې بچ کړي.يعنې چې تاسو د مسخرو په توګه وايئ چې مونږ په ناحقه يو نو راوله په مونږ باندې عذاب،ولې نه راځي؟او بيا د ريشخند په ډول پوښتنه کوئ چې:کله به دا د عذاب وعده پوره کيږي،نو آيا تاسو په دې خبره هم کله فکر کړئ دی،که چيرته هغه عذاب چې تاسو يې غواړئ،يو ناڅاپه درباندې يا د شپې په خوب کې او يا په وينه د ورځې په رڼا کې راشي،نو آيا د هغه څخه د حفاظت او بچ

کیدلو دپاره مو څه بندوبست کړئ دی؟د څه شي په ډاډ دومره زړور یاستئ چې داسې سرکشه او نافرمانه خبرې کوئ ) ﴿٥٠﴾

أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓۚ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ كُنتُم بِهِۦ تَسۡتَعۡجِلُونَ ﴿٥١﴾

أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓۚ آیا کله چې عذاب واقع شي نو بیا به وربانديِ ایمان راوړئ؟(او ورته به وویل شي) ءَآلۡـَٰٔنَ آیا اوس(ایمان راوړئ او ځان ژغورل غواړئ؟خو دا ایمان راوړل مو قبول نه دي،اوس ډېر ناوخته دی) وَقَدۡ كُنتُم بِهِۦ تَسۡتَعۡجِلُونَ په داسې حال کې چې تاسو پخپله د دې عذاب د ژر راتللو غوښتنه کوله(او د الله تعالی د دین پورې مو مسخرې کولې). ﴿٥١﴾

ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡخُلۡدِ هَلۡ تُجۡزَوۡنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ﴿٥٢﴾

ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ بیا به هغو خلکو ته وویل شي چې ظلم یې کړئ دی ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡخُلۡدِ چې د دائمي عذاب خوند وڅکئ(اوس) هَلۡ تُجۡزَوۡنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ تاسو ته د هغو عملونو جزا درکول کیږي چې:(دنیا کې) مو کول. ﴿٥٢﴾

۞ وَيَسۡتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَۖ قُلۡ إِي وَرَبِّيٓ إِنَّهُۥ لَحَقّٞۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٥٣﴾

۞ وَيَسۡتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَۖ او دوی ستا څخه پوښتنه کوي چې آیا واقعاً دا رېښتیا دي؟(کومې خبرې چې ته یې کوې د قیامت،حساب او کتاب،دوزخ او عذاب) قُلۡ إِي وَرَبِّيٓ ته(ورته)ووایه هو! زما دې په خپل رب قسم وي إِنَّهُۥ لَحَقّٞۖ چې پرته د شک څخه دا(ټولې خبرې)بالکل رېښتیا دي. وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ او تاسو (د الله تعالی عاجزکوونکې نه یئ(یعنې تاسو

الله تعالی نشئ عاجزولای چې یا یې د قیامت او د عذاب د راتلو مخه ونیسئ او یا یې د عذاب څخه وتښتئ) ﴿٥٣﴾

وَلَوۡ أَنَّ لِكُلِّ نَفۡسٖ ظَلَمَتۡ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ لَٱفۡتَدَتۡ بِهِۦۗ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۖ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٥٤﴾

کله چې خلک د قیامت هیبت او عذاب وګوري!

وَلَوۡ أَنَّ لِكُلِّ نَفۡسٖ ظَلَمَتۡ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ که چیرته هر څوک چې ظلم یې کړی وي،که د ټولې دنیا مال(او دولت)ولرې(نو د عذاب په لیدلو سره به دا ټول مال) لَٱفۡتَدَتۡ بِهِۦۗ خامخا په فدیه کې ورکړي د هغه(عذاب څخه د بچ کیدلو دپاره.خو که فرضاً څوک د ټولې دنیا په اندازه دولت او مال هم ولرې او فدیه یې هم کړي،لیکن نه به یې فدیه قبوله شي او نه به د عذاب څخه خلاص شي) وَأَسَرُّواْ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۖ او کله چې دا خلک عذاب وګورې نو په زړه کې به پټ پښیمانه شي(په ایمان نه راوړلو او خپلو ګناهونو باندې،یعنې د هغو خلکو څخه د شرمیدلو په سبب چې په ړندو سترګو یې د دوی پیروي کوله،نو د هغوی د شرم څخه به خپله پښیمانتیا په زړه کې پټه کړي،لیکن کله چې اور ته ورواچول شي،په اور کې به په خولو باندې هم اقرار وکړي) وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِ او د دوی په منځ کې به په انصاف سره فیصله وشي وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ او په دوی به ظلم نه کیږي(په فیصله کولو او عذاب ورکولو کې) ﴿٥٤﴾

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٥٥﴾

أَلَآ خبردار (ای انسانانو پوه شئ چې:) إِنَّ بېشکه لِلَّهِ صرف د الله تعالی دي مَا هغه څه (چې) فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ په آسمانونو کې دي وَٱلۡأَرۡضِۗ او په ځمکه (کې دي) أَلَآ خبردار(ای انسانانو پوه شئ) إِنَّ بېشکه (چې) وَعۡدَ وعده ٱللَّهِ د الله تعالی حَقّٞ رېښتيا ده وَلَٰكِنَّ لیکن أَكۡثَرَهُمۡ اکثره د دوی(یعني اکثره د انسانانو څخه) لَا يَعۡلَمُونَ نه پوهيږي ﴿٥٥﴾

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ خبردار(ای انسانانو په دې پوه شئ چې!) بېشکه هر څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي ټول صرف د الله تعالی دي(یعني د ځمکې او آسمانونو خاوند او پادشاه صرف یوازې الله تعالی دی،نه ئې په ملکیت کې څوک شريک شته او نه ئې په پادشاهۍ کې کوم مشاور او وزير شته،کائنات پخپله تنظیموي او پخپله ئې چلوي، د هیڅ چا کومک ته ضرورت نلري.او ) أَلَآ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ خبردار(ای انسانانو په دې پوه شئ چې:) پرته د شک څخه د الله تعالی وعده رېښتيا ده(د مرګ څخه وروسته ژوندي کېدل رېښتيا دي،د قیامت په ورځ د قبرونو څخه راجګيدل رېښتيا دي،د حشرمیدان ته د حساب او کتاب دپاره تلل رېښتيا دي،جنت او دوزخ حق او رېښتيا دي) وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ لیکن اکثره د انسانانو څخه نه پوهيږي. ﴿٥٥﴾

هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٥٦﴾

هُوَ يُحۡيِۦ هغه«جل جلاله» ژوندي کول کوي وَيُمِيتُ او هغه جل جلاله مړه کول کوي(یعني مرګ او ژوند صرف د الله تعالی په لاس کې دی،او پرته د هغه «جل جلاله څخه که د کائناتو ټول قوتونه

ملائیکې،پیریان او انسانان سره یو ځای شي نه څوک ژوندی کولای شي او نه څوک مړ کولای شي.) وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ او خاص هغه«جل جلاله»ته به وروستل کیږئ(د حساب او د جنت او دوزخ د فیصلې دپاره) ﴿٥٦﴾

د تعجب خبره ده! چې خالق الله دی،پادشاه الله دی،مالک الله دی،رزق الله ورکوي،ژوند او مرګ الله ورکوي،اولادونه الله ورکوي،ټول ضرورتونه یې الله پوره کوي،لیکن عبادت د غیرالله یعني د الله تعالی د مخلوق کوي،د مخلوق څخه ویریږي خو د الله څخه نه ویریږي،د مخلوق څخه یې حیا کیږي او د الله څخه یې حیا نه کیږي،د مخلوق قانون منې او عمل هم وربانديې کوي لیکن اکثره انسانان خو اول د الله قانون نه منې او کوم انسانان چې د الله قانون منې هم،مګر عمل وربانديې نه کوي،لیکن ډېر کم عمل والا وي.د دنیا د پاچا روب او دبدبه یې په زړونو کې شته د پولیسو څخه یې ویرېږي او د قانون څخه یې خلاف کار نه کوي،لیکن د کائناتو د پاچا روب او دبدبه یې په زړونو کې نشته،د پولیسو د نیولو څخه یې نه ویریږي،او ټوله شپه او ورځ د هغه«جل جلاله» د قانون خلاف کارونه کوي............ و غیره وغیره.خو بیا دې څوک دا هم نه هیروي،چې پس د مرګه ژوندون حق او ریښتیا دی،قیامت حق دی.حساب حق دی،د کائناتو پاچا ته ورتلل، حاضریدل او حساب د اعمالو حق دی،جنت او دوزخ حق دی،لیکن جنت ته به صرف هغه څوک ځي چې د الله تعالی پاچاهۍ او قانون منې او عمل وربادې کوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم مَّوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَشِفَآءٞ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٥٧﴾

يَٰٓأَيُّهَا اى ٱلنَّاسُ انسانانو قَدۡ بېشكه جَآءَتۡكُم راغلئ دى تاسو ته
مَّوۡعِظَةٞ نصيحت(قرآنكريم) مِّن رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب د طرف څخه
وَشِفَآءٞ او شفاء(علاج،دوا) لِّمَا هغو(ناروغيو) ته فِي ٱلصُّدُورِ
چې په سينو كې دي وَهُدٗى او هدايت وَرَحۡمَةٞ او رحمت
لِّلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنانو ته ﴿٥٧﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم مَّوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ اى انسانانو! بېشكه تاسو ته
د خپل رب د طرف څخه نصيحت(يعني قرآنكريم)راغلئ دى
وَشِفَآءٞ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ چې د هغو(اخلاقي او عقيدوي ناروغيو)
دپاره شفا(او علاج) دى چې په سينو(يعني زړونو)كې دي(لكه
منافقت،شک،شرک وغيره) وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ او هدايت او
رحمت دى د مؤمنانو دپاره. ﴿٥٧﴾

قُلۡ بِفَضۡلِ ٱللَّهِ وَبِرَحۡمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُواْ هُوَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ﴿٥٨﴾

قُلۡ ته ووايه بِفَضۡلِ په فضل سره ٱللَّهِ د الله «جل جلاله»
وَبِرَحۡمَتِهِۦ او په رحمت سره د هغه«جل جلاله»(د انسانانو دپاره
قرآن نازل شوئ دى) فَبِذَٰلِكَ نو په دې باندې فَلۡيَفۡرَحُواْ بايد دوى
خوشالي وكړي هُوَ دا خَيۡرٞ ډېر بهتر دى مِّمَّا د هغه څه نه
يَجۡمَعُونَ چې دوى يې جمع كوي ﴿٥٨﴾

قُلۡ بِفَضۡلِ ٱللَّهِ وَبِرَحۡمَتِهِۦ ته(انسانانو ته) ووايه (قرآنکريم)د الله تعالی په فضل او رحمت سره(نازل شوئ دی د دوی د هدايت او لارښودني دپاره) فَبِذَٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُواْ نو په دې باندې بايد دوی خوشالي وکړي هُوَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ځکه چې دا(د قرآن دولت) ورته د هغو ټولو (مالونو او دولتونو) څخه بهتر دی چې دوی يې جمع کوي. ﴿٥٨﴾

قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزۡقٖ فَجَعَلۡتُم مِّنۡهُ حَرَامٗا وَحَلَٰلٗا قُلۡ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمۡۖ أَمۡ عَلَى ٱللَّهِ تَفۡتَرُونَ ﴿٥٩﴾

قُلۡ ته(ورته) ووايه أَرَءَيۡتُم آيا تاسو غور کړئ دی؟ مَّآ هغه څه چې أَنزَلَ نازل کړي دي ٱللَّهُ الله تعالی لَكُم ستاسو دپاره مِّن رِّزۡقٖ د رزق فَجَعَلۡتُم نو کړو تاسو مِّنۡهُ بعضي د هغه(رزق څخه حَرَامٗا حرام وَحَلَٰلٗا او(بعضي د هغه څخه) حلال قُلۡ ته(ورته) ووايه ءَآللَّهُ آيا الله تعالی أَذِنَ حکم کړئ لَكُمۡۖ تاسو ته أَمۡ يا که عَلَى په ٱللَّهِ الله تعالی تَفۡتَرُونَ تاسو دروغ تړئ؟ ﴿٥٩﴾

قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزۡقٖ فَجَعَلۡتُم مِّنۡهُ حَرَامٗا وَحَلَٰلٗا (دوی ته) ووايه! آيا تاسو کله غور کړئ دی؟چې کوم رزق چې تاسو ته الله تعالی نازل کړئ دی،او تاسو د خپل ځانه د هغه رزق څخه ځيني حراموئ او ځيني حلالوئ(لکه چې د نبي عليه السلام په زمانه کې هم مشرکانو ډېر حلال شيان په ځانونو حرام کړي وو،او ډېر حرام يې ځانونو ته حلال کړي وو،او په اوسنی زمانه کې هم ډېرو خلکو حلال شيان په ځانونو حرام کړي دي،مثلاً ډېرو خلکو د غواګانو غوښې په ځانونو حرامي کړي دي،او د خنزير يا خوګانو غوښې يې ځانونو ته حلالي کړي دي.نو) قُلۡ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمۡۖ أَمۡ عَلَى ٱللَّهِ تَفۡتَرُونَ د دوی

څخه پوښتنه وکړه چې:آيا الله تعالی تاسو ته د دې حکم کړې دی؟(چې دا حلال دي او دا حرام دي،او)يا که تاسو په الله تعالی باندې دروغ تپئ(يعني حرامول او حلالول پخپله د ځانه کوئ او نسبت يې الله تعالی ته کوئ.) ﴿٥٩﴾

وَمَا ظَنُّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُونَ ﴿٦٠﴾

وَ او مَا څه ظَنُّ ګُمان دی ٱلَّذِينَ د هغو خلکو يَفۡتَرُونَ چې تړي دوی عَلَى په ٱللَّهِ الله تعالی ٱلۡكَذِبَ دروغ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ د قيامت د ورځې(په باره کې چې:څه به ورسره وشي) إِنَّ بېشکه ٱللَّهَ الله تعالی لَذُو يقيناً خاوند فَضۡلٍ د فضل دی عَلَى په ٱلنَّاسِ انسانانو وَلَٰكِنَّ ليکن أَكۡثَرَهُمۡ اکثره د دوی لَا يَشۡكُرُونَ شکر نه کوي(شکر نه وباسي) ﴿٦٠﴾

وَمَا ظَنُّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ او هغه خلک چې د الله تعالی پورې دروغ تړي(او د دروغو خبرې الله تعالی ته منسوبوي،نو دا خلک) د قيامت د ورځې په باره کې څه ګمان کوي(چې څه به ورسره کيږي؟آيا فکر کوي چې حساب کتاب نشته يا به جزا ورنکول شي) إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ بېشکه الله تعالی په انسانانو باندې د فضل او احسان لورونکی دی(د توبې دپاره ډېر مهلت ورکوي....) وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُونَ ليکن اکثره د دوی شکر نه وباسي(ناشکره دي) ﴿٦٠﴾

وَمَا تَكُونُ فِي شَأۡنٍ وَمَا تَتۡلُواْ مِنۡهُ مِن قُرۡءَانٍ وَلَا تَعۡمَلُونَ مِنۡ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيۡكُمۡ شُهُودًا إِذۡ تُفِيضُونَ فِيهِۚ وَمَا يَعۡزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثۡقَالِ ذَرَّةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصۡغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرَ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٦١﴾

وَ او مَا نه تَكُونُ یې ته فِي شَأۡنٍ په کوم حال(او کار) کې وَ او مَا نه تَتۡلُواْ لولې ته مِنۡهُ د دې نه مِن قُرۡءَانٍ څه قرآن وَ او لَا نه تَعۡمَلُونَ کوئ تاسو مِنۡ عَمَلٍ کوم کار إِلَّا مګر( که په هر حالت او هر کار کې یاستئ،دا ګمان مه کوئ چې بل څوک راسره نشته،او څوک مو نه ګورې،بلکې په هر حال او هر کار کې!) كُنَّا یوو مونږ عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې شُهُودًا حاضر(او ناظر،مونږ درسره یو،او درته ګورو) إِذۡ کله چې تُفِيضُونَ تاسو مشغول یئ فِيهِۚ په هغه(کار)کې وَ او مَا نه يَعۡزُبُ پټیدلای شي عَن رَّبِّكَ ستا د رب نه مِن مِّثۡقَالِ په اندازه ذَرَّةٍ د یو اتوم(یوې زرې)شی فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې وَ او لَا نه فِي ٱلسَّمَآءِ په آسمان کې وَ او لَآ نه أَصۡغَرَ وړوکی (کوچنی) مِن ذَٰلِكَ د دې نه(یعني نه کوچنی د یواتوم نه یا د یوې زرې نه لکه نیوټرون او پروټون) وَ او لَآ نه أَكۡبَرَ غټ (د یو اتوم یا یوې زرې نه) إِلَّا مګر(ټول) فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ په یو روښانه کتاب کې دي(مګر ټول په لوح محفوظ کې لیکل شوي دي،مګر ټول د الله تعالی په علم کې دي) ﴿٦١﴾ (نوټ:د «منه»څخه مراد د الله تعالی کتاب دی.علامه طبری)

وَمَا تَكُونُ فِي شَأۡنٍ وَمَا تَتۡلُواْ مِنۡهُ مِن قُرۡءَانٍ ته چې په هر حال(او کار)کې یې،یا د قرآن څخه څه لولې(تلاوت کوې) وَلَا تَعۡمَلُونَ مِنۡ عَمَلٍ او یا تاسو خلک چې کوم کار کوئ إِلَّا لیکن(داسې فکر مه کوئ چې بل څوک راسره نشته،او څوک مو نه ګورې،بلکې په هر

حال او هر کار کې!) كُنَّا عَلَيۡكُمۡ شُهُودًا مونږ په تاسو باندې
حاضر(او ناظر یو،درسره یوو،درته ګورو،زمونږ د نظر څخه یوه
لحظه هم پناه نه یې) إِذۡ تُفِيضُونَ فِيهِۚ كله چې تاسو په هغه(کار)کې
مشغول(او مصروف) یاستئ) وَمَا يَعۡزُبُ عَن رَّبِّكَ او ستا د رب
څخه پټیدلای نشي مِن مِّثۡقَالِ ذَرَّةٖ په اندازه د یو اتوم(یوې زرې)
فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ نه په ځمکه کې او نه په آسمان کې وَلَآ
أَصۡغَرَ مِن ذَٰلِكَ او نه د اتوم(یا زرې)څخه وړوکی(یا کوچنی شی
لکه اکترون،پروتون،نیوترون،کوارک وغیره) وَلَآ أَكۡبَرَ او نه (د
اتوم یا زرې څخه) غټ شیان(ستا د رب څخه په ځمکه او آسمانونو
کې پټیدلای) إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ مګر(ټول) په یو روښانه کتاب کې
دي(یعني ټول په لوح محفوظ کې لیکل شوي دي،او د الله تعالی په
علم کې دي) ﴿٦١﴾

په دې مبارک آیت کې یو ډېر لوی حقیقت او په شلمه پیړۍ کې د
قرآنکریم علمي معجزې ته اشاره ده.هر ساینسدان او د ساینس شاګرد
په دې پوهیږي چې د شلمې پیړۍ څخه مخکې ټول ساینس پوهان په
دې عقیده وو چې:زره یا اتوم نور نه تجزیه کیږي(یعنې نه
تقسیمیږي) دا په دې معنی چې د زرې یا اتوم څخه نور وړوکی او
کوچنی شی نشته دی،لیکن په شلمه پیړۍ کې ساینس پوهانو دا
کشفیات او لاس ته راوړني وکړي چې اتوم یا زره هم په نورو
کوچنیو اجزاوو لکه الکترون،پروتون،نیوترون،کوارک
او........تجزیه او تقسیمیږي،دا په دې معنی چې د اتوم یا زرې څخه
نور واړه شیان هم شته دی لکه چې ذکر شول!الکترون،پروتون و
غیره،نو سوال پیدا کیږي چې انسانان خصوصاً ساینس پوهان ولې دا
دومره لوی حقیقت نادیده نیسي،او سترګې وربانديې پټوي،ولې
غور،فکر او تحقیق نه کوي چې هغه حقیقت چې ساینس پوهان
وربانديې د شلمې پیړۍ پورې نه پوهیدل «یعنې په دې حقیقت

چې:اتوم یا زره تجزیه کیږي یا په بل عبارت د اتوم څخه واړه شیان هم شته دی»،نو بیا ۱۴۰۰ کلونه د مخه په قرآنکریم کې دا خبره د کومې منبع او د چا د خوانه لیکل شویده چې د اتوم څخه واړه شیان هم شته دی، یعني زره یا اتوم قابل د تجزیې او تقسیم دی،نو که چیرته ساینس پوهان په کائناتو کې د نورو تحقیقاتو سره-سره په دې موضوع هم تحقیق وکړي،او په قرآن کې د دې معلومات د ذکرکولو منبع پیدا کړي،ان شاءالله چې خپل خالق او رب به پیدا کړي.باید ذکر شي چې ۱۴۰۰ کلونه د مخه د داسې معلومات ذکر کول پرته د کائناتو د خالق څخه د بل چا دپاره ناممکن او محال وو،نو دا د دې ثبوت دی چې قرآنکریم د الله تعالی سوچه کلام او خبرې دي.

أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٦٢﴾

أَلَآ خبردار إِنَّ ببشکه أَوۡلِيَآءَ دوستان ٱللَّهِ د الله تعالی لَا نشته دی خَوۡفٌ هیڅ ویره عَلَيۡهِمۡ په هغوی باندې وَ او لَا نه به هُمۡ هغوی يَحۡزَنُونَ غمژن کیږي. ﴿٦٢﴾

أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ خبردار! ببشکه چې د الله تعالی په دوستانو نه ویره شته دی،او نه به دوی خفه کیږي ﴿٦٢﴾

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَ كَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾

ٱلَّذِينَ (د الله تعالی دوستان) هغه دي ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړی
وَ او كَانُواْ يَتَّقُونَ ویریږي دوی(د الله تعالی نه) ﴿٦٣﴾

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ (د الله تعالی دوستان) هغه خلک دي چې
ایمان یې راوړی او(په خپلو ټولو کارونو کې الله تعالی حاضر او
ناظر ګڼي او د عذاب ځخه یې)ویریږي. ﴿٦٣﴾

لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْأٓخِرَةِۚ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ
ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٤﴾

لَهُمُ دوی دپاره ٱلْبُشْرَىٰ خوشخبري ده فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا د دنیا په
ژوند کې وَفِي ٱلْأٓخِرَةِۚ او په آخرت کې لَا تَبْدِيلَ تغیر (تبدیلي)
نشته لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ د الله تعالی په خبرو کې ذَٰلِكَ دا(خوشخبري)
هُوَ دغه ٱلْفَوْزُ کامیابي ده ٱلْعَظِيمُ ډیره لویه ﴿٦٤﴾

لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْأٓخِرَةِۚ په دنیایې ژوند او آخرت
دواړو کې د الله تعالی د دوستانو دپاره خوشخبري (او زیری) دی(د
مرګ او د قیامت په ورځ د قبرونو ځخه د راجګیدلو په وخت کې به
د جنت خوشخبري ورکول کیږي. «معارف القرآن») لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ د
الله تعالی په خبرو(او وعدو کې)کې هیڅ تغیر(او تبدیلي) نشته دی

ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ دغه(په دنيا او آخرت کې د الله تعالی دوستانو ته د جنت زيری او خوشخبري ورکول) ډېره لويه کاميابې ده. ﴿٦٤﴾

وَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ إِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًاۚ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦٥﴾

وَ او لَا يَحۡزُنكَ غمژن دې نکړي تا قَوۡلُهُمۡ خبرې د دوی إِنَّ بېشکه ٱلۡعِزَّةَ عزت لِلَّهِ جَمِيعًاۚ ټول د الله تعالی په اختيار کې دی هُوَ هغه«جل جلاله» ٱلسَّمِيعُ اوريدونکئ(او) ٱلۡعَلِيمُ او پوه دی ﴿٦٥﴾

وَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡ او د دوی خبرې دې تا غمجن نکړي(يعني د کفارو په استهزاوالا خبرو مه خفه کيږه،که دوی هر څومره دروغ ووايي او په تا قِسم-قِسم نومونه کيږدي او ستا د بې عزتئ کولو کوششونه وکړي،مګر دوی ستا هيڅ عزت نه شي کمولای ځکه چې:) إِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًاۚ بېشکه ټول عزت صرف د الله تعالی په اختيار کې دی (او) هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ هغه«جل جلاله» اوريدونکئ او پوه دی(د دوی هره خبره اوري او هر څه يې چې په زړونو کې دي په هغې پټو خبرو يې پوهيږي) ﴿٦٥﴾

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَمَا يَتَّبِعُ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُرَكَآءَۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ﴿٦٦﴾

أَلَآ خبردار(خبرشئ) إِنَّ بېشکه لِلَّهِ د الله تعالی دي(د الله تعالی بندګان دي،د الله تعالی په اختيار کې دي) مَن څوک فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ چې په آسمانونو کې دي وَمَن او څوک فِي ٱلۡأَرۡضِۗ چې په ځمکه کې دي(ملائيکې،انسانان او پيريان) وَمَا يَتَّبِعُ پيروي نه کوي ٱلَّذِينَ هغه خلک يَدۡعُونَ چې دوی اواز کوي(د کومک دپاره) مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالی څخه شُرَكَآءَۚ (د الله تعالی سره د باطلو او په خپلو لاسونو جوړو شوو) شريکانو ته(لکه بتانو او نيکانو بندګانو ته،خو حقيقت دا دی چې:) إِن يَتَّبِعُونَ دوی پيروي نه کوي(دوی عبادت نه کوي دوی کومک نه غواړي د بتانو او نيکانو بندګانو څخه) إِلَّا ٱلظَّنَّ مګر د ګومان(پيروي کوي،دګومان پسې روان دي،يعنې دوی ګمان کوي چې دا بتان او د الله تعالی نيک بندګان به زمونږ ضرورتونه او مشکلات حلولای شي،زمونږ شفاعت به کولای شي،ليکن دوی د قرآن او د سنتو څخه هيڅ ثبوت نلري،خير او شر صرف د الله تعالی په لاس کې دی او شفاعت هم د الله تعالی په اذن سره کيږي) وَإِنۡ هُمۡ او نه دي دوی(په حقه) إِلَّا يَخۡرُصُونَ مګر(د دروغو)اټکلونه کوي(يعنې د غير الله عبادت به کوي خو که ته ترې پوښتنه وکړې چې په دې کې څه فايده شته؟نو درته به وايې هو! دا فايده دا فايده او.....دا فايده،خو که بيا ترې پوښتنه وکړې چې دا چا ويلي دی؟آيا تا په خپله په خپلو سترګو څه ليدلي دي؟ بيا به ورسره جواب نه وي،صرف د دروغو بې تاريخه او بې ثبوته نقلونه به يو د بل د خولې څخه کوي ليکن يو نقل به هم حقيت نلري.) ﴿٦٦﴾

هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ﴿٦٧﴾

هُوَ هغه(جل جلاله) ٱلَّذِي هغه ذات دی جَعَلَ چي پيدا کړي ئې ده لَكُمُ تاسو ته ٱلَّيۡلَ شپه لِتَسۡكُنُواْ د دې دپاره چې تاسو سکون حاصل کړئ(ارام وکړئ) فِيهِ په هغې کې وَ او(پيداکړي ئې ده) ٱلنَّهَارَ ورځ مُبۡصِرًاۚ روښانه إِنَّ بېشکه فِي ذَٰلِكَ په دې(پيدا کولو د شپې او ورځ کې) لَأٓيَٰتٖ يقيناً نښې(د الله تعالی د قدرت دي) لِّقَوۡمٖ د هغو خلکو دپاره يَسۡمَعُونَ (چې خبره) اورې (او غور کوي) ﴿٦٧﴾

هُوَ ٱلَّذِي الله تعالی هغه ذات دی جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ چې ستاسو دپاره ئې شپه د دې دپاره پيدا کړي ده چې په کې سکون(او ارام) حاصل کړئ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ او ورځ ئې روښانه(پيداکړي ده،چې کار اوبار او د ژوند چاري پکې پر مخ بوځئ،او) إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ او په دې کې هيڅ شک نشته چې د شپې او ورځې په پيدا کيدلو کې خامخا د الله تعالی د قدرت نښانې او دلايل دي (خو)د هغو خلکو دپاره چې خبرې ته غوږ نيسي(او غور او فکر ورباندې کوي. ﴿٦٧﴾

که واقعاً پرته د تعصب څخه غور وکړو!
د انسان د طبيعت او فطرت مطابق د شپو او ورځو پيدا کيدل،او په منظم ډول په مختلفو موسمونو کې په ثابتو او معلومو وختونو کې شپه په ورځ او ورځ په شپه بدليدل،او بيا د ورځې او شپې د جوړولو دپاره د ځمکې د دې دومره لويې کُرې،د لمر مخې ته په منظم او ثابت ډول په خپل محور ګرځيدل،چې کومه برخه يې د لمر مخ ته تيريږي هلته ورځ کيدل،او کومه برخه يې چې د لمر څخه فناه کيږي هلته شپه کيدل او ......نو دا ټول انسان دې ته متوجه کوي چې د دې

هر څه شاته داسې هستي موجود ده چې لایتنهاهي علم او لایتناهي قدرت لري،د انسانانو د فطرت او ضرورتونو څخه خبر ،او د هغوی د ضرورت مطابق د ورځو او شپو د ډیزاینولو او جوړولو قدرت لري،د ځمکې کُرې ته د لمر مخې ته د ګرځیدلو د انرجې د ورکولو او د هغې د منظم او ثابت سرعت د ساتلو او کنټرولولو صلاحیت لري.چې دا هستي د کائناتو خالق الله تعالی دی.که بیا هم څوک خصوصاً دهریان د الله تعالی په ذات شک کوي،نو بیا دې د دې جواب ووایې چې:آیا دا دومره منظم او ډیزاین شوی نظام څنګه منځ ته راغلی؟ایا ډیزاین پرته د ډیزاینر څخه کیږي؟په ټولو کائناتو کې حتی یوه زره هم داسې نشته چې ډیزاین په کې نه وي.آیا ورځې او شپې پخپله ځانونه اوږدوي او لنډوي؟آیا د ځمکې کره پخپله په خپل محور باندې د ګرځیدلو دپاره انرجې ځان ته برابروي؟آیا په ثابت ډول خپل سرعت یعني زر مایلز په ساعت کې په خپله کنټرولوي؟آیا.............حقیقت دا دی چې د الله تعالی د ذات څخه نه انکار کیږي او نه یې څوک کولای شي،پرته د هغو جاهلانو څخه چې نه په قرآن پوهیږي او نه په ساینس.

قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ هُوَ ٱلۡغَنِيُّۖ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنۡ عِندَكُم مِّن سُلۡطَٰنِۭ بِهَٰذَآۚ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٦٨﴾

قَالُواْ هغوی(یعني کفار) وایې چې: ٱتَّخَذَ نیولئ دی ٱللَّهُ الله تعالی وَلَدٗاۗ ځوی(یعني الله تعالی ځان ته ځوی نیولئ دی) سُبۡحَٰنَهُۥۖ پاک دی هغه«جل جلاله» هُوَ هغه«جل جلاله» ٱلۡغَنِيُّۖ غني(بې نیازه،بې پروا) دی لَهُۥ د هغه«جل جلاله» دي مَا هغه څه چې: فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ په آسمانونو کې دي وَمَا او هغه څه چې: فِي ٱلۡأَرۡضِۚ په ځمکه کې دي إِنۡ نشته عِندَكُم ستاسو سره مِّن

سُلۡطَٰنِۭ هيڅ دليل(او ثبوت) بِهَٰذَآۚ په دې (خبره)باندې(چې الله تعالى
ځوک په ځوی ولی نیولئ دی) أَتَقُولُونَ آيا وايئ تاسو عَلَى ٱللَّهِ په
الله تعالى باندې مَا هغه څه لَا تَعۡلَمُونَ چې تاسو نه پوهيږئ(په
هغې) ﴿٦٨﴾

قَالُواْ دوی(يعني کافران) وايي ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ چې الله
تعالى(ځانته)ځوی نیولئ دی سُبۡحَٰنَهُۥۖ پاک دی الله تعالى(د ټولو
عیبونو څخه خصوصاً د داسې خبرو څخه چې کافران د هغه«جل
جلاله» دپاره ځوی منسوبوي،ځکه چې) هُوَ ٱلۡغَنِيُّۖ هغه«جل جلاله
غني دی(بې نیازه،بې پروا دی او هيڅ احتياج او ضرورت نلرې چې
ځوک په ځوی ولی(ځوی توب) ځانته ونيسي،او بل دا چې:) لَهُۥ مَا
فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ هر څه چې په آسمانونو او په ځمکه کې
دي ټول د الله تعالى دي(ټول د الله تعالى ملکيت او بندګان دي،نو آيا
دا عقل مني چې هغه«جل جلاله» دی خپل يو غلام په ځوی ولی
ونيسي،او پخپله پادشاهی کې دې د ځان سره شريک کړي؟ او بل دا
چې ای کفارو تاسو چې په الله تعالى دا تهمت وايئ نو!) إِنۡ عِندَكُم
مِّن سُلۡطَٰنِۭ بِهَٰذَآۚ ستاسو سره په دې باندې هيڅ کوم(علمي او
عقلي)دليل نشته(چې الله تعالى ځوک په ځوی توب نيولئ دی نو!)
أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ آيا تاسو الله تعالى ته هغه شی
منسوبوئ چې د هغه په اړه تاسو نه پوهيږئ(نه کوم علمي سند لرئ
او نه کوم عقلي دليل) ﴿٦٨﴾

قُلۡ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُونَ ﴿٦٩﴾

ای نبي«صلی الله علیه وسلم» دې کافرانو ته چې د الله دپاره ځوی منسوبوي دوی ته!

قُلۡ وواېه إِنَّ بېشکه ٱلَّذِينَ هغه خلک يَفۡتَرُونَ چې تړي هغوی عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې ٱلۡكَذِبَ دروغ لَا يُفۡلِحُونَ هغوی نشي کامیابیدلای ﴿٦٩﴾

قُلۡ (ای نبي «صلی الله علی والسلام»کافرانو ته) وواېه إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ بېشکه هغه خلک چې په الله تعالی باندې دروغ تړي(یعنې وايي چې د الله تعالی ځوی یا لور یا ښځه شته،نو) لَا يُفۡلِحُونَ دوی هیڅکله نه کامیابیږي ﴿٦٩﴾

مَتَٰعٞ فِي ٱلدُّنۡيَا ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ ٱلۡعَذَابَ ٱلشَّدِيدَ بِمَا كَانُواْ يَكۡفُرُونَ ﴿٧٠﴾

هغه خلک چې وايي چې:الله تعالی څوک په ځويتوب نيولئ دی،نو د دوی دپاره!

مَتَٰعٞ څه فایده فِي ٱلدُّنۡيَا په دنیا کې شته دی(لیکن هر څومره چې ژوندی وی خو آخر يې هم) ثُمَّ بیا إِلَيۡنَا مونږ ته مَرۡجِعُهُمۡ بیرته راتلل دي ثُمَّ نُذِيقُهُمُ بیا به مونږ په دوی وڅکوو خوند د ٱلۡعَذَابَ عذاب ٱلشَّدِيدَ ډېر سخت بِمَا په سبب د هغه( کفر) كَانُواْ يَكۡفُرُونَ چې دوی به کولو(په دنیا کې) ﴿٧٠﴾

هغه خلک چې وايي چې:الله تعالی څوک په ځویتوب نیولئ دی،نو د دوی دپاره!

مَتَٰعٞ فِي ٱلدُّنۡيَا په دنيا کې يو څه فايده شته(په مؤقتي ډول په دنيا کې يو څه مزې او چړچې کوي،ليکن هرڅومره چې ژوندی وي خو اخر يې هم) ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ بيا دوباره زمونږ حضور ته راتلل دي ثُمَّ نُذِيقُهُمُ ٱلۡعَذَابَ ٱلشَّدِيدَ بيا به مونږ وربانديې د ډېر سخت عذاب خوند وڅکوو(ډېر سخت عذاب به ورکړو) بِمَا كَانُواْ يَكۡفُرُونَ په سبب د هغه کفر او سرکشۍ چې دوی کوله(په دنيا کې) ﴿٧٠﴾

۞ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةٗ ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ ﴿٧١﴾

۞ وَٱتۡلُ او بيان کړه عَلَيۡهِمۡ هغوی(يعني کافرانو) ته نَبَأَ نُوحٍ قيصه د نوح«عليه السلام» إِذۡ کله چې قَالَ هغه«عليه السلام» وويلي لِقَوۡمِهِۦ خپل قوم ته يَٰقَوۡمِ ای زما قومه إِن که چیرته كَانَ يې كَبُرَ دروند(او سخت) عَلَيۡكُم تاسو ته مَّقَامِي اوسيدل زما(ستاسو سره) وَتَذۡكِيرِي او زما نصيحت کول (تاسو ته) بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی په آياتونو سره (او غواړئ چې زما څخه د ځان د خلاصولو دپاره ما ته ضرر راورسوئ او زما د مرګ پروګرام جوړ کړئ) فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ نو زما توکل په الله تعالی دی فَأَجۡمِعُوٓاْ نو يو ځای کړئ أَمۡرَكُمۡ خپل تدبيرونه وَشُرَكَآءَكُمۡ او ستاسو د شريکانو(تدبيرونه،او د الله تعالی څخه پرته تاسو ټول په شريکه زما په ضد چې څه تدبير جوړولای شئ،ښکاره يې جوړ يې کړئ،ځکه چې:) ثُمَّ وروسته بيا لَا يَكُنۡ نه وي أَمۡرُكُمۡ تدبير ستاسو(زما په

ضد) عَلَيۡكُمۡ تاسو ته غُمَّةٗ پټ(او مبهم،یعني ټول کافران باید په دې خبره پوه وي چې دوی د الله تعالی د پیغمبر په خلاف څه-څه جرمونه کوي.نو که ستاسو دا اراده وي چې د الله تعالی پیغمبر ته ضرر ورسوئ نو!) ثُمَّ بیا ٱقۡضُوٓاْ راورسوئ ضرر إِلَيَّ ما ته وَلَا تُنظِرُونِ او مهلت(او وخت) مه راکوئ(یعني که تاسو یې منئ او که نه،که خوښه مو ده او که نه، خو زه د الله تعالی پیغام درسوم،نه ستاسو پروا لرم او نه ستاسو د شریکانو،زما د مرګ او د ژوند فیصله د الله تعالی په لاس کې ده نه ستاسو په لاس کې.یعني د نوح علیه السلام دا یقین و چې نه دوی څه کولای شي او نه د دوی باطل معبودان.) ﴿٧١﴾

۞ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ او کافرانو ته د نوح «علیه السلام» قیصه بیان کړه إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ کله چې هغه «علیه السلام» خپل قوم ته وویل چې: يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ای زما قومه! که چیرته ستاسو سره زما اوسیدل او د الله تعالی د آیاتونو پواسطه تاسو ته زما نصیحت کول،په تاسو درانه(او سخت)وي(او ماته د ضرر رسولو یا زما د مرګ پروګرام جوړوئ) فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ نو زما په الله تعالی توکل دی فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ او تاسو او ستاسو شریکان خپل تدبیرونه سره یو ځای کړئ (او د الله تعالی څخه پرته تاسو ټول په شریکه زما په ضد چې څه تدبیر جوړولای شئ،ښکاره یې جوړ کړئ،ځکه چې:) ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةٗ بیا وروسته ستاسو تدبیر(او فیصله زما په خلاف) تاسو ته پټه(او مبهمه نه وي، یعني ټول کافران باید په دې خبره پوه وي چې دوی د الله تعالی د پیغمبر په خلاف څه-څه جرمونه کوي.نو که ستاسو دا اراده وي چې د الله تعالی پیغمبر ته ضرر ورسوئ نو!) ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ إِلَيَّ نو بیا ما ته ضرر راورسوئ وَلَا تُنظِرُونِ او مهلت(او وخت) مه راکوئ (یعني که تاسو یې منئ او که نه،که

خوښه مو ده او که نه، خو زه د الله تعالی پیغام درسوم،نه ستاسو پروا لرم او نه ستاسو د شریکانو،زما د مرګ او د ژوند فیصله د الله تعالی په لاس کې ده نه ستاسو په لاس کې.یعني د نوح علیه السلام دا یقین و چې نه دوی څه کولای شي او نه د دوی باطل معبودان.) ﴿٧١﴾

فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَمَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٧٢﴾

فَإِن نو که چیرته تَوَلَّيۡتُمۡ تاسو وګرځئ(مخ واړوئ د نصیحت د اوریدلو او منلو څخه،نو تاوان یې تاسو ته دی) فَمَا سَأَلۡتُكُم او زه نه غواړم ستاسو څخه مِّنۡ أَجۡرٍۖ څه اجر(مزدوري تاسو ته د نصیحت او تبلیغ کولو) إِنۡ أَجۡرِيَ نه دی آجر زما إِلَّا مګر عَلَى ٱللَّهِۖ په الله تعالی باندې دی وَ او أُمِرۡتُ ماته حکم شوئ دی أَنۡ چې أَكُونَ زه شم مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ د مسلمانانو څخه(د فرمان منونکو څخه) ﴿٧٢﴾

فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ او که چیرته تاسو وګرځئ(او که چیرته مخ واړوئ د نصیحت د اوریدلو او منلو څخه،ستاسو خپل تاوان دی) فَمَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٍۖ او زه خو ستاسو څخه څه اجر(او مزدوري)نه غواړم(تاسو ته د نصیحت او تبلیغ کولو،یعني داسې نه وایم چې زما ملګرې به کم شي،او چې ملګرې مې کم شي نو تنخواه به مې کمه شي.) إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ زما اجر په الله تعالی باندې دی وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ او ماته حکم شوئ دی چې د حکم منونکو نه شم ﴿٧٢﴾

فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلْفُلْكِ وَجَعَلْنَٰهُمْ خَلَٰٓئِفَ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾

کله چې نوح علیه السلام خپل قوم ته اخطار ورکړو،نو هغوی په عوض د دې چې نصیحت قبول کړي او ایمان راوړي!

فَكَذَّبُوهُ نو دوی(یعنې د نوح علیه السلام قوم) د هغه تکذیب وکړو(یعنې دروغژن یې وګڼلو) فَنَجَّيْنَٰهُ نو مونږ هغه علیه السلام ته نجات(خلاصی)ورکړو وَمَن او هغه چا ته (مو نجات ورکړو) مَّعَهُۥ چې د هغه علیه السلام سره وو فِي ٱلْفُلْكِ په کشتۍ کې وَجَعَلْنَٰهُمْ او مونږ جوړ کړل هغوی خَلَٰٓئِفَ خلیفګان(جانشین په ځمکه کې) وَأَغْرَقْنَا او غرق کړل مونږ ٱلَّذِينَ هغه خلک كَذَّبُوا۟ چې دروغ یې ویلي وو بِـَٔايَٰتِنَآ زمونږ په آیتونو باندې فَٱنظُرْ نو ته وګوره كَيْفَ كَانَ چې څنګه شو عَٰقِبَةُ انجام ٱلْمُنذَرِينَ د ویرول شوو(خلکو چې ایمان یې رانوړو.) ﴿٧٣﴾

کله چې نوح علیه السلام خپل قوم ته اخطار ورکړو،نو هغوی په عوض د دې چې نصیحت قبول کړي او ایمان راوړي!

فَكَذَّبُوهُ نو د هغه علیه السلام تکذیب یې وکړو(یعنې دروغجن یې وګڼلو ) فَنَجَّيْنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلْفُلْكِ وَجَعَلْنَٰهُمْ خَلَٰٓئِفَ نو مونږ هغه علیه السلام او په کشتۍ د هغه سره ملګرو ته نجات ورکړو،او (د ځمکې)خلیفګان مو جوړ کړل(یعنې د ځمکې خلافت مورکړو، جانشین موکړل) وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ او هغه خلک مونږ غرق کړل(د اوبو په طوفان سره) چا چې زمونږ د آیتونو تکذیب کړئ وو فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُنذَرِينَ نو وګوره چې د هغو خلکو انجام څنګه شو څوک چې ویرول شوي وو(د الله تعالی د عذاب

ښځه.یعنی نوح علیه السلام ورته د الله تعالی پیغام رسولئ و،او د الله تعالی د عذاب ښځه يې ویرولي و،لیکن دوی ایمان رانوړو،او د پیغمبر او د الله تعالی د آیتونو تکذیب يې وکړو) ﴿۷۳﴾

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ رُسُلًا إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ بِهِۦ مِن قَبۡلُۚ كَذَٰلِكَ نَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿۷۴﴾

ثُمَّ بیا بَعَثۡنَا ولیږل مونږ. مِنۢ بَعۡدِهِۦ وروسته د هغه(یعني نوح علیه السلام)ښځه رُسُلًا پیغمبران إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ د هغوی قومونو ته فَجَآءُو او راغلي وو دوی(یعني پیغمبران) هُم هغوی ته(یعني د هغوی قومونو ته) بِٱلۡبَيِّنَٰتِ د روښانه دلایلو(او معجزو)سره فَمَا كَانُواْ لیکن (د روښانه دلیلونو،معجزو او ثبوتونو سره سره دوی د خپل ضد په سبب تیار نه شو) لِيُؤۡمِنُواْ چې ایمان يې راوړئ وو بِمَا په هغه څه باندې كَذَّبُواْ چې دروغ ویلي وو دوی بِهِۦ په هغه باندې مِن قَبۡلُۚ مخکې د (روښانه دلایلو او معجزو ښځه) كَذَٰلِكَ همدا رنګه نَطۡبَعُ مونږ مهر لګوو عَلَىٰ قُلُوبِ په زړونو باندې ٱلۡمُعۡتَدِينَ د حد ښځه د تیریدونکو. ﴿۷۴﴾

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ رُسُلًا بیا وروسته د نوح علیه السلام ښځه مونږ. ولیږل نور پیغمبران(لکه هود علیه السلام، صالح علیه السلام،ابرهیم علیه السلام،یوسف علیه السلام.....) إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ خپلو قومونو ته فَجَآءُوهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ او دوی(یعني پیغمبران) راغلي وو هغوی ته(یعني خپلو قومونو ته)د روښانه دلایلو(او معجزو)سره فَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ بِهِۦ مِن قَبۡلُۚ لیکن(د روښانه دلایلو،معجزو او ثبوتونو سره-سره بیا هم دوی د خپل ضد او جهل په سبب دې ته تیار نه شو)چې په هغه څه يې ایمان راوړئ وو چې دوی مخکې د( دلایلو او معجزو

د ليدلو څخه) د هغه تکذيب کړئ وو(يعني د پيغمبرانو کوم دعوت
چې په اول ځل دوی د شک په اساس نه وو منلئ او رد کړئ يې
وو،وروسته د واضحه ثبوتونو او معجزو د ليدلو څخه يې بيا هم د
دوی د ضد،تکبر او جهل په سبب ونه منلو، ،يعني اول خو يې شک
کولو ځکه يې ايمان نه راوړو ليکن وروسته د واضحه ثبونو څخه
ورته معلومه شوه چې پيغمران په حقه او ريښتيني دي خو بيا يې د
ضد او کبر په سبب ايمان نه راوړلو) كَذَٰلِكَ نَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ
ٱلۡمُعۡتَدِينَ دارنګه مونږ د حد څخه د تيريدونکو په زړونو مهرونه
لږووو(يعني چې يو ځل د حق دعوت ورکول شي او د روښانه دلايلو
او ثبوتونو سره-سره ايمان رانوړي ،نو د الله تعالی قانون يې په زړه
کې يو تور داغ جوړ کړي،او که په دوهم ځل بيا دعوت ورکول
شي،بيا هم ايمان رانوړي او ګناهونو ته دوام ورکړي نو بل تور داغ
جوړ شي،او که په همدې ډول دوام وکړي بلآخره يو وخت ټول زړه
د تورو داغونو څخه ډک شي يعني ټول زړه تور شي او سخت
شي،او دومره کلک او سخت شي چې نور وربانذې نصيحت او د حق
دعوت اثر نکوي،د زړه دا حالت په قرآن کې په لس لقبونو ياد شوئ
دی چې د دې جملې څخه يو لقب ختم(يعني مهر)دی،بايد واضح او
ذکر شي چې: د دوامداره ګناهونو او کفر په سبب په زړه مهر
لږيږي،نه دا چې بنده ځکه ګناه او کفر کوي چې د هغه په زړه مهر
لږيدلئ دی.) ﴿٧٤﴾

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ بِـَٔايَٰتِنَا
فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ﴿٧٥﴾

ثُمَّ بیا بَعَثۡنَا مونږ ولیږل مِنۢ بَعۡدِ وروسته د هِم هغوی(یعنې
وروسته په مخکې آیت کې د ذکر شوو پیغمبرانو څخه) مُّوسَىٰ
موسی علیه السلام وَهَٰرُونَ او هارون علیه السلام إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ
فرعون ته وَمَلَإِيْهِۦ او د هغه(د قوم)سردارانو ته بِـَٔايَٰتِنَا زمونږ د
روښانه معجزو(او دلایلو) سره فَٱسۡتَكۡبَرُواْ نو هغوی کبر وکړو
وَكَانُواْ او وو هغوی قَوۡمًا قوم(خلک) مُّجۡرِمِينَ مجرمان ﴿٧٥﴾

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم بیا وروسته د هغوی څخه(یعنې په مخکیني آیت
کې د ذکر شوو پیغمبرانو څخه) مونږ ولیږل مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ
فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ موسی او هارون علیهما السلام فرعون او د هغه د
قوم سردارانو ته بِـَٔايَٰتِنَا زمونږ د روښانه معجزو (او دلایلو)سره
فَٱسۡتَكۡبَرُواْ (لیکن فرعون او د هغه سردارانو د حکومت،دولت او
اقتدار په نشه کې د الله تعالی بندګي قبوله نکړه) نو کبر (او لویې)یې
وکړه وَكَانُواْ قَوۡمًا مُّجۡرِمِينَ او دوی(یعنې فرعونیان) مجرمان خلک
وو) ﴿٧٥﴾

فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰذَا لَسِحۡرٞ مُّبِينٞ ﴿٧٦﴾

کله چې موسی علیه السلام او هارون علیه السلام فرعون او د هغه
سردارانو ته، د الله تعالی د طرف څخه د دین د دعوت دپاره د روښانه
معجزو سره ورغلل یعنې د ید بیضاء معجزه چې لاس به یې د تخرګ
څخه راوویستلو،تک سپین به ځلیدلو او د امسا معجزه،چې امسا(عصا) به
یې په میدان کې واچوله،اژدها به ترې جوړه شوه،هرڅه به یې

وخوړل،خو چې لاس به يې وروړو نو بيرته به امسا شوه،نو كله چې فرعون او د هغه سردارانو د موسی علیه السلام په لاس د الله تعالی معجزې وليدلي نو ويې ويل چه دا ښكاره جادو دى،يعني موسی او هارون عليهما السلام ته يې د جادوګرو او معجزو ته يې د جادو اثر وويلې.

فَلَمَّا نو كله چې جَآءَ راغئ هُمُ هغوى ته(يعني فرعون او د هغه سردارانو ته) ٱلْحَقُّ حق مِنْ عِندِنَا زمونږ د طرف څخه قَالُوٓاْ هغوى(يعني فرعون او د هغه سردارانو) وويل چې: إِنَّ پرته د شک څخه هَٰذَا دا لَسِحْرٌ خامخا سحر دى(جادو دى) مُّبِينٌ ښكاره ﴿٧٦﴾

فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ مِنْ عِندِنَا نو كله چې هغوى(يعني فرعون او د هغه سردارانو) ته زمونږ د طرف څخه حق راغئ(يعني موسی عليه السلام ورته د الله تعالی د حق دين او واضحه معجزو سره راغئ،خو كله يې چې معجزې او د موسی عليه السلام تاثيرې خبرې وليدلي نو!) قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِينٌ ويې ويل چې دا خو پرته د شک څخه ښكاره سحر(جادو) دى. ﴿٧٦﴾

قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْۖ أَسِحْرٌ هَٰذَا وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ ﴿٧٧﴾

كله چې فرعون او د هغه سردارانو موسی عليه السلام ته جادوګر او د الله تعالی معجزو ته يې د جادو اثر وويلې،نو!

قَالَ مُوسَىٰٓ موسی علیه السلام(ورته) وویلې أَتَقُولُونَ آیا وایئ تاسو
لِلۡحَقِّ حق ته لَمَّا کله چې جَآءَكُمۡۖ هغه راغئ تاسو ته أَسِحۡرٌ آیا
سحر دی هَٰذَا دا وَلَا يُفۡلِحُ او نه کامیابیږي ٱلسَّٰحِرُونَ
جادوګر﴿٧٧﴾

کله چې فرعون او د هغه سردارانو موسی علیه السلام ته جادوګر او د الله تعالی معجزو ته د جادو اثر وویلې،نو!

قَالَ مُوسَىٰٓ موسی علیه السلام ورته وویلې أَتَقُولُونَ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمۡۖ
أَسِحۡرٌ هَٰذَا آیا تاسو د حق په باره کې چې کله تاسو ته راغئ،آیا دا
وایئ چې دا جادو دی؟ وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ او جادوګر نشي
کامیابیدلای ﴿٧٧﴾

قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِتَلۡفِتَنَا عَمَّا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي
ٱلۡأَرۡضِ وَمَا نَحۡنُ لَكُمَا بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٧٨﴾

قَالُوٓاْ هغوی(یعني فرعون او د هغه سردارانو موسی علیه السلام ته)
وویلې أَجِئۡتَنَا آیا راغلئ یې ته مونږ ته لِتَلۡفِتَنَا د دې دپاره چې
واړوې مونږ عَمَّا د هغې(لارې)څخه وَجَدۡنَا چې لیدلې دي
مونږ(چې موندلې دي مونږ) عَلَيۡهِ په هغې(لار)باندې ءَابَآءَنَا
پلرونه او نیکونه خپل وَتَكُونَ او شي لَكُمَا تاسو دواړو ته
ٱلۡكِبۡرِيَآءُ سرداري(او پادشاهي د مصر) فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې
وَمَا نَحۡنُ او نه یو مونږ لَكُمَا ستاسو دواړو بِمُؤۡمِنِينَ منوونکې
﴿٧٨﴾

قَالُوٓاْ هغوی(یعني فرعون او سردارانو یې موسی علیه السلام ته)وویلې أَجِئۡتَنَا لِتَلۡفِتَنَا عَمَّا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَا آیا ته د دې دپاره مونږ ته راغلئ یې چې:مونږ د هغې(لارې)څخه واړوې په کومه چې مونږ خپل پلرونه او نیکونه موندلي دي(لیدلي دي) وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلۡأَرۡضِ او (د مصر)په ځمکه کې سردارې او بادشاهې ستاسو دواړو شي(یعني دا ستاسو سیاسې چل دی چې د مصر د حکومت د نیولو دپاره مو جوړ کړئ دی) وَمَا نَحۡنُ لَكُمَا بِمُؤۡمِنِينَ او مونږ هیڅکله ستاسو منونکې نه یو(یعني نه تاسو نبیان یئ،او نه مونږ دربانديې ایمان راوړو،دا خو هسې تاسو د مصر د بادشاهی د نیولو دپاره یو چل جوړ کړئ دی) ﴿٧٨﴾

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿٧٩﴾

وَ او قَالَ وویل فِرۡعَوۡنُ فرعون ٱئۡتُونِي راولئ ماته بِكُلِّ هر سَٰحِرٍ عَلِيمٍ پوه(او ماهر)جادوګر ﴿٧٩﴾

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ او(کله چې فرعون د موسی علیه السلام لاس ولیدو چې سپینې شغلې یې کولې،او د امساء څخه یې اژدها جوړه شوه نو خپلو خلکو ته ئې) حکم وکړو (چې:د ملک) ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ هر پوه(او ماهر)جادوګر ما ته راولئ(د موسی علیه السلام د مقابلې دپاره) ﴿٧٩﴾

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ ﴿٨٠﴾

فَلَمَّا نو كله چې: جَآءَ راغلل ٱلسَّحَرَةُ جادوګر قَالَ وويل لَهُم هغوی(جادوګرو) ته مُّوسَىٰٓ موسى عليه السلام چې: أَلْقُواْ وغورزوئ(ميدان ته) مَآ هغه (د جادو شيان لكه پړي وغيره چې:) أَنتُم تاسو يې(په ميدان كې د مقابلې دپاره) مُّلْقُونَ غورزونكې يئ ﴿٨٠﴾

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ نو كله چې (د ټول ملک تجربه كار او ماهر) جادوګر راغلل(او د موسى عليه السلام په مقابل كې په ميدان كې ودريدل نو!) قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ نو موسى عليه السلام ورته وويل چې: أَلْقُواْ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ تاسو وغورزوئ(ميدان كې) هغه(د جادو پړي وغيره) چې تاسو يې غورزونكې يئ(يعنې تاسو چې څما سره د مقابلې دپاره كوم د جادو شيان راوړي دي،ميدان ته يې راوغورزوئ) ﴿٨٠﴾

فَلَمَّآ أَلْقَوْاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُم بِهِ ٱلسِّحْرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبْطِلُهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٨١﴾

فَلَمَّآ نو كله چې: أَلْقَوْاْ هغوی(يعنې جادوګرو په ميدان كې د جادو شيان) وغورزول قَالَ مُوسَىٰ موسى عليه السلام(ورته)وويل مَا هغه څه جِئْتُم چې تاسو راوړي دي بِهِ هغه ٱلسِّحْرُۖ جادو دی(يعنې ما چې څه ستاسو څخه مخكې فرعون ته ښكاره كړي وو،هغه جادو نه وو،بلكې جادو دا دی كوم چې تاسو ښكاره كړو.) إِنَّ پرته د شک او شبهې څخه ٱللَّهَ الله تعالى سَيُبْطِلُهُۥٓ به باطل كړي دا(د جادو شيان او) إِنَّ پرته د شک څخه ٱللَّهَ الله تعالى لَا يُصْلِحُ نه كاميابوي عَمَلَ عمل(كار) ٱلْمُفْسِدِينَ د مفسيدينو(يعنې جادو فساد دی او جادوګر مفسيدين دي) ﴿٨١﴾

فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ نو کله چې هغوی(خپل د جادو شیان لکه پړي وغیره میدان کې)وغورزول قَالَ مُوسَىٰ نو موسی علیه السلام ورته وویل مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ دغه تاسو چې کوم شیان راوړي دي دا جادو دی(یعني ما چې مخکې فرعون او د هغه سردارانو ته څه ښکاره کړي وو،یعني د لاس سپینوالی او د امساء څخه اژدها جوړیدل،هغه جادو نه وو،جادو دا دی چې اوس تاسو ښکاره کړو.یعني دا د فرعون او د هغه د سردارانو د دې خبرې جواب و چې هغوی د موسی علیه السلام په لاس د الله تعالی معجزو ښکاره کولو ته جادو ویلی وو) إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓ بېشکه ډېر زر به الله تعالی ستاسو دغه جادو باطل کړي إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ بېشکه الله تعالی د مفسیدانو کار نه کامیابوي(یعني جادو فساد دی او تاسو مفسیدین یې او الله تعالی فساد کوونکې او باطل د حق په مقابل کې نه کامیابوي خصوصاً چې د باطل او فساد کوونکو تکر د الله تعالی د پیغمبر سره راشي ،او ډېر زر به ستاسو جادو ناکام شي.) ﴿۸۱﴾

وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿۸۲﴾

وَ او يُحِقُّ ریښتیا کوي ٱللَّهُ الله تعالی ٱلۡحَقَّ حق بِكَلِمَٰتِهِۦ په خپل حکم سره وَلَوۡ او اګر که كَرِهَ بدیې ګڼي ٱلۡمُجۡرِمُونَ مجرمان ﴿۸۲﴾

وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ(او موسی علیه السلام ورته وویلې چې:)الله تعالی حق ریښتیا او ښکاره کوي،اګر که

مجرمان (د حق ښكاره كول)نه خوښوي. ﴿۸۲﴾(چون دنيا د امتحان ځاى دى،په عامو حالاتو كې په ټولنه كې حق او باطل دواړه موجود وي،ليكن كله چې د حق او باطل ټكر او مقابله راشي په خاص ډول د الله تعالى د پيغمبر سره،نو الله تعالى خلكو ته حق ښكاره كوي او باطل شرمنده او رسوا كوي)

فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوۡمِهِۦ عَلَىٰ خَوۡفٍ مِّن فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِمۡ أَن يَفۡتِنَهُمۡۚ وَإِنَّ فِرۡعَوۡنَ لَعَالٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿۸۳﴾

فَمَآ ءَامَنَ نو ايمان رانوړو لِمُوسَىٰٓ په موسى عليه السلام إِلَّا مګر ذُرِّيَّةٌ يو څو ځوانانو مِّن قَوۡمِهِۦ د هغه عليه السلام د قوم څخه(ايمان راوړو،خو هغه هم) عَلَىٰ خَوۡفٍ په ويره مِّن فِرۡعَوۡنَ د فرعون نه وَمَلَإِيْهِمۡ او د هغو د سردارانو نه أَن يَفۡتِنَهُمۡۚ چې هغوى(يعني فرعون او سرداران) به تكليف ورسوي دوى ته(يعني بني اسرائلو ته) وَإِنَّ او بيشكه فِرۡعَوۡنَ فرعون لَعَالٍ متكبر(او سركشه)وو فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمكه كې وَإِنَّهُۥ او بېشكه هغه(يعني فرعون) و لَمِنَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ د حد څخه د تيريدونكو ځيني. ﴿۸۳﴾

، هغه د الله تعالى د طرف څخه معجزه وه چې د موسى عليه السلام په لاس يې ښكاره كړه،

فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوۡمِهِۦ ليكن پرته د موسى عليه السلام د قوم يعني بني اسرائيلو د څو ځوانانو څخه نور چا ايمان رانوړو(داسې نه وه چې د موسى عليه السلام قوم يعني بني اسرائل كافر وو،بلكې مسلمانان وو،د ابراهيم،اسحاق،يعقوب او يوسف عليه السلام امتيان وو،تقريباً شپږ لكهه كسان وو،خو د فرعونيانو د اوږدې

مودې غلامۍ بې زړه کړي وو،او دا جرءت او زړه پکې نه وو
چې:د فرعون د کفري حکومت په مقابل کې قیام وکړي او یا دفرعون
د ویرې څخه د موسی علیه السلام سره د فرعون په ضد ملګري
شي،که نه نو،د موسی علیه السلام په صداقت یې شک نه وو،خو بیا
هم یو څو ځوانانو سره د دې چې د فرعون د ظلم څخه ویریدل لیکن
بیا هم د موسی علیه السلام سره ملګري شو او خپل ایمان یې ښکاره
کړو.هغه هم!) عَلَىٰ خَوۡفٖ مِّن فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِمۡ أَن يَفۡتِنَهُمۡۚ د
فرعون او د هغو د سردارانو نه په ویره،چې دوی ته به تکلیف
ورسوي(او د دین څخه به یې واړوي،او د دوی ویره صحیح هم وه
ځکه چې:) وَإِنَّ فِرۡعَوۡنَ لَعَالٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ
بېشکه فرعون ډیر متکبر(زوړور،سرکشه او ظالم) و ،او بېشکه د
حد څخه د تجاوز کوونکو څخه و(ځکه چې و خو بنده او دعوه یې د
خدایۍ کړې وه) ﴿٨٣﴾

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوۡمِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسۡلِمِينَ
﴿٨٤﴾

وَ او قَالَ وویل مُوسَىٰ موسی علیه السلام يَٰقَوۡمِ ای زما قومه إِن
که چیرته كُنتُمۡ ءَامَنتُم تاسو ایمان لرئ بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې
فَعَلَيۡهِ نو په هغه«جل جلاله) باندې تَوَكَّلُوٓاْ توکل وکړئ(په هغه«جل
جلاله) باندې ځانونه وسپارئ) إِن که چیرته كُنتُم يئ تاسو
مُّسۡلِمِينَ فرمانبردار﴿٨٤﴾

وَقَالَ مُوسَىٰ او(موسی علیه السلام چې کله هغوی د ویرې او
اضطراب په حال کې ولیدل نو) ورته یې وویل چې: يَٰقَوۡمِ إِن كُنتُمۡ
ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوٓاْ ای زما قومه(ای خلکو) که تاسو(په ریښتیا

سره) په الله تعالی باندې ایمان لرئ،نو (بیا ډېر فکرونه مکوئ) او په هغه«جل جلاله» توکل وکړې(ځانونه پرې وسپارئ) إِن كُنتُم مُّسۡلِمِينَ که(واقعاً د الله تعالی)فرمانبردار یاستئ ﴿٨٤﴾

فَقَالُواْ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَا رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٥﴾

فَقَالُواْ نو هغوی وویل عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې تَوَكَّلۡنَا موږ توکل کړئ(موږ ځانونه سپارلي دي،او دعا یې وکړه چې!) رَبَّنَا ای زموږه ربه لَا تَجۡعَلۡنَا موږ مه ګرځوه(موږ مه جوړوه) فِتۡنَةٗ ازمایش(امتحان) لِّلۡقَوۡمِ دپاره د قوم ٱلظَّٰلِمِينَ د ظالمانو. ﴿٨٥﴾

فَقَالُواْ نو هغوی یعني د موسی علیه السلام قوم د موسی علیه السلام په جواب کې وویلې عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَا چې موږ په الله تعالی باندې توکل کړئ(او ځانونه مو وربانده سپارلي دي،او دعا یې وکړه چې!) رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ای زموږه ربه موږ د ظالمانو خلکو دپاره ازمایش(او امتحان) مه جوړوه(موږ د ظالمانو په زجر او شکنجو مه ازمایه) ﴿٨٥﴾

وَنَجِّنَا بِرَحۡمَتِكَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾

وَنَجِّنَا او موږ ته نجات(او خلاصی) راکړې بِرَحۡمَتِكَ په خپل رحمت سره مِنَ د ٱلۡقَوۡمِ قوم ٱلۡكَٰفِرِينَ د کافرانو څخه ﴿٨٦﴾

وَنَجِّنَا بِرَحۡمَتِكَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ او په خپل رحمت سره مونږ ته د کافرانو د قوم څخه خلاصی (او نجات) راکړي(يعني د فرعونيانو د غلامۍ او ظلمونو څخه ازادي او نجات راکړي) ﴿٨٦﴾

وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوۡمِكُمَا بِمِصۡرَ بُيُوتٗا وَٱجۡعَلُواْ بُيُوتَكُمۡ قِبۡلَةٗ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨٧﴾

وَأَوۡحَيۡنَآ او مونږ وحي وکړه إِلَىٰ مُوسَىٰ موسى«عليه السلام ته» وَأَخِيهِ او د هغه«عليه السلام»ورور ته أَن چي تَبَوَّءَا جوړ کړئ لِقَوۡمِكُمَا خپل قوم ته بِمِصۡرَ په مصر کي بُيُوتٗا کورونه وَٱجۡعَلُواْ او جوړ کړئ بُيُوتَكُمۡ کورونه خپل قِبۡلَةٗ قبله رو(د قبلې په طرف) وَأَقِيمُواْ او کوئ(ادا کوئ) ٱلصَّلَوٰةَۗ لمونځ وَبَشِّرِ او زيری ورکړه ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنانو ته ﴿٨٧﴾

وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ مونږ موسى«عليه السلام» او د هغه ورور هارون«عليه السلام» ته وحي وکړه أَن تَبَوَّءَا لِقَوۡمِكُمَا بِمِصۡرَ بُيُوتٗا چي:د خپل قوم دپاره په مصر کي کورونه جوړ کړئ وَٱجۡعَلُواْ بُيُوتَكُمۡ قِبۡلَةٗ او خپل کورونه قبلې ته مخامخ جوړ کړئ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۗ او لمونځ کوئ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ او(ای موسى«عليه السلام»)مؤمنانو ته زيری ورکړه(د فرعونيانو د ظلمونو او غلامی څخه د ازادی او نجات) ﴿٨٧﴾

معلوميږي چي د موسى عليه السلام په زمانه کي کعبه شريفه د بني اسرآئيلو قبله وه،ځکه چي بيت المقدس خو د موسى عليه السلام څخه زر کلونه وروسته سليمان عليه السلام جوړ کړو.

وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةٗ وَأَمۡوَٰلٗا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَۖ رَبَّنَا ٱطۡمِسۡ عَلَىٰٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ وَٱشۡدُدۡ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُواْ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٨٨﴾

وَ او قَالَ وویل مُوسَىٰ موسی«علیه السلام» رَبَّنَآ ای زمونږه ربه إِنَّكَ بیشکه ته ءَاتَيۡتَ تا ورکړي دي فِرۡعَوۡنَ فرعون وَ او مَلَأَهُۥ د هغه سردارانو ته زِينَةٗ زينت(شان او دبدبه) وَأَمۡوَٰلٗا او مالونه فِي ٱلۡحَيَوٰةِ په ژوند کې ٱلدُّنۡيَا د دنیا رَبَّنَا ای زمونږه ربه لِيُضِلُّواْ د دې پاره چې دوی خلک ګمراه کړي(واړوي) عَن سَبِيلِكَۖ ستا د لارې نه(یعني د خلکو د ګمراه کولو دپاره دې نه دي ورکړي خو دوی یې د خلکو د ګمراه کولو دپاره استعمالوي) رَبَّنَا ای زمونږه ربه ٱطۡمِسۡ تباه او برباد کړې عَلَىٰٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ مالونه د دوی وَٱشۡدُدۡ او سخت کړې عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ زړونه د دوی فَلَا يُؤۡمِنُواْ چې ایمان رانوړي حَتَّىٰ تر څو چې: يَرَوُاْ دوی وګورې ٱلۡعَذَابَ عذاب ٱلۡأَلِيمَ درد ناک. ﴿٨٨﴾

وَقَالَ مُوسَىٰ او(کله چې موسی«علیه السلام» ولیدل چې وعظ او نصیحت او د الله تعالی معجزو د فرعونیانو سخت زړونه نرم نه کړل او ضد او عناد یې ورځ په ورځ لا پسې زیاتیدو،بلآخره د دوی د ایمان راوړلو څخه بیخي نا امیده شو،نو دعاء یې وکړه او وئې ویل چې:) رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةٗ وَأَمۡوَٰلٗا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ای زمونږه ربه بیشکه په دنیایي ژوند کې زینت او مالونه فرعون او د هغه سردارانو ته هم تا ورکړي دی رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَۖ ای زمونږه ربه! د دې دپاره چې خلک ستا د لارې څخه ګمراه کړي (یعني ای زمونږه ربه! تاخو قدرت او دولت فرعونیانو ته د دې دپاره

نه دی ورکړئ چې ورباندې خلک ستا د لارې څخه واړوي،لیکن دوی په عوض د دې چې ستا ورکړئ دولت او قدرت په خیریه کارونو کې ولږوي او شکر وباسې،بلکې بر عکس خپل دولت او قدرت ستا د لارې څخه ستا د بندګانو د اړولو او منع کولو دپاره استعمالوي نو!) رَبَّنَا ٱطۡمِسۡ عَلَىٰٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ ای زمونږه ربه! د دوی مالونه تباه او برباد کړي وَٱشۡدُدۡ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُواْ او زړونه یې سخت کړي چې ایمان رانوړي حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ تر څو چې دردناک عذاب وویني. ﴿۸۸﴾

قَالَ قَدۡ أُجِيبَت دَّعۡوَتُكُمَا فَٱسۡتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿۸۹﴾

قَالَ (الله تعالی) وفرمایل: قَدۡ یقیناً أُجِيبَت قبوله شوه دَّعۡوَتُكُمَا ستاسو دواړو دعا فَٱسۡتَقِيمَا نو ثابت قدمه اوسئ وَلَا تَتَّبِعَآنِّ او پیروي مه کوئ سَبِيلَ د لارې ٱلَّذِينَ د هغو خلکو لَا يَعۡلَمُونَ چې نه پوهیږي. ﴿۸۹﴾

قَالَ قَدۡ أُجِيبَت دَّعۡوَتُكُمَا الله تعالی وفرمایل چې ستاسو دواړو دعا قبوله شوه(موسی علیه السلام به دعا کوله او هارون علیه السلام به امین ویلو ځکه دواړو ته نسبت شوئ دی) فَٱسۡتَقِيمَا او کلک اوسئ(یعنې ثابت قدمه اوسئ په خپل دین باندې او خلکو ته د دین دعوت ورکوئ) وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ او د هغو خلکو پیروي مه کوئ چې نه پوهیږي(یعنې د ناپوهانو په شان بې صبري مه کوئ او د دعا په قبلیدلو کې تادي مه کوئ.) ﴿۸۹﴾

موسی علیه السلام د څو لکهو بني اسرائیلو سره د مصر څخه ووتلو،خو کله چې فرعون خبر شو د ډېر لوی لښکر سره وروپسې روان شو،خو کله چې موسی علیه السلام او بني اسرائیل د قلزم بحر ته ورسیدل،بني اسرائیل ډېر وارخطا شول،ځکه د شاه د خوا څخه فرعونیان را په رسیدو وو،او مخکې بحر و،موسی علیه السلام ورته وویل مه ویرېږئ،د الله تعالی په حکم ئې بحر په امساء وواهه،دولس وچې لارې په کې جوړې شوې،اوبه لکه د غرونو په شان دواړو خواو ته ودریدلې،بني اسرائیل بحر ته داخیل شول او بلې غاړې ته په خیر او خیریت پورې وتل،فرعون او لښکر یې هم وروپسې شول،بحر ته ورداخل شول،خو چې منځ ته ورسیدل نو د دواړو خواوو څخه وربانډې غرونه-غرونه اوبه یوځای شوې، نو د غرقیدلو په حال کې یې وویل چې ما د موسی علیه السلام او بني اسرائیلو په رب باندې ایمان راوړی دی.آیت ته توجه وکړئ.

۞ وَ او جَٰوَزۡنَا تیر کړل مونږ. بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بني اسرائیل ٱلۡبَحۡرَ د بحر نه فَأَتۡبَعَهُمۡ او د دوی پسې شو(یعني بحر ته ورګډ شو) فِرۡعَوۡنُ فرعون وَجُنُودُهُۥ او د هغه لښکر بَغۡيٗا د ظلم وَعَدۡوًاۖ او تیرې (په نیت) حَتَّىٰٓ تر دې چې إِذَآ کله أَدۡرَكَهُ ٱلۡغَرَقُ هغه په غرقیدلو شو(د اوبو پواسطه نو!) قَالَ ویې ویل ءَامَنتُ زه ایمان راوړم أَنَّهُۥ چې لَآ نشته إِلَٰهَ لایق د عبادت إِلَّا مګر ٱلَّذِيٓ هغه ذات دی ءَامَنَتۡ چې ایمان راوړی بِهِۦ په هغه«جل جلاله» باندې بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ بني اسرائیلو وَ او أَنَا۠ زه یم مِنَ د ٱلۡمُسۡلِمِينَ اطاعت کوونکو څخه ﴿٩٠﴾

۞ وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَجُنُودُهُۥ بَغۡيٗا وَعَدۡوًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدۡرَكَهُ ٱلۡغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِيٓ ءَامَنَتۡ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿۹۰﴾
او مونږ بني اسرائیل د بحر څخه(روغ رمټ)تیر کړل،او فرعون او د هغه(مسلح او مجهز)لښکر وروپسې د ظلم او تیرې په نیت بحر ته ورګډ شو،(د دریاب اوبه الله تعالی بیرته یوځای کړي،نو) کله چې فرعون په غرقیدلو شو(په بحر کې د اوبو په واسطه)،نو وئي ویل چې زه ایمان راوړم ،په دې چې پرته د هغه ذات څخه چې بني اسرائیلو وربانديې ایمان راوړئ دی،بل هیڅوک د عبادت لایق نشته دی،او زه د اطاعت کوونکو او غاړه ایښودونکو څخه یم (هغه جل جلاله ته)

ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿۹۱﴾

ءَآلۡـَٰٔنَ (جواب ورکول شو) آیا اوس ؟(د مرګ په وخت کې ایمان راوړې؟) وَ حال دا چې: قَدۡ یقیناً عَصَيۡتَ تا نافرماني کوله قَبۡلُ مخکې (د دې څخه) وَكُنتَ او وې ته مِنَ د ٱلۡمُفۡسِدِينَ فساد کوونکو څخه ﴿۹۱﴾

ءَآلۡـَٰٔنَ (فرعون ته جواب ورکول شو) آیا اوس؟(د مرګه په وخت کې ایمان راوړې؟چې نه قبلیږي.) وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ په داسې حال کې چې د دې څخه مخکې دې نافرماني کوله(او ټول عمر دې د الله تعالی په دښمنۍ کې تیر کړئ) وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ او د فساد کوونکو

ځخه وي(یعنې ټول عمر دې په ځمکه کې فساد کړئ،پخپله هم ګمراه وې،او نور خلک دې هم ګمراه کول.) ﴿۹۱﴾

فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ﴿۹۲﴾

فَٱلۡيَوۡمَ نو نن به(نو اوس به) نُنَجِّيكَ مونږ نجات ورکړو بِبَدَنِكَ ستا(مړ) جسد ته لِتَكُونَ د دې دپاره چې شي ته لِمَنۡ د هغه چا دپاره خَلۡفَكَ چې ستا ځخه وروسته راځي ءَايَةٗۚ یوه نښه(د عبرت) وَإِنَّ او بېشکه كَثِيرٗا اکثره مِّنَ ٱلنَّاسِ د انسانانو ځخه عَنۡ ءَايَٰتِنَا زمونږ د آیاتونو نه لَغَٰفِلُونَ ریښتیا بې خبره دي ﴿۹۲﴾

فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ نو اوس به مونږ ستا (مړ) جسد ته نجات ورکړو(او محفوظ به یې کړو)د دې دپاره چې د هغو خلکو دپاره چې ستا ځخه وروسته(دنیا ته) راځي، یوه د عبرت نښه شي(او راتلوونکي انسانان درځخه عبرت واخلي.لکه چې همداسې وشول،یو څه وخت وروسته د بحر ځپو د فرعون جسد د بحر په غاړه وغورځولو،د وخت حکومت جسد ویوړو او په یو غر کې یې ورته ځای جوړ کړو او پکې یې محفوظ کېښودلو،خلک به یې د مختلفو ځایونو ځخه لیدلو ته د عبرت دپاره ورتلل،چې دا سلسله نسل په نسل تر اوسه پورې دوام لرې،فعلاً یې جسد په مصر کې د قاهرې په موزیم کې دی چې ډېر زیات خلک اوس هم ورځې او عبرت ورځخه اخلي) وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ او بېشکه اکثره انسانان زمونږ د آیاتونو ځخه بې خبره دي(یعنې مونږ انسانانو ته عبرتناک آیاتونه او نښې ورښیوو،لیکن د اکثرو حال داسې دی چې هر ځومره لویه نښانه او آیت وګورې خو بیا یې هم سترګې نه

خلاصیږي.یعني اکثره خلک دا دومره لویه نښانه ګوري،صرف تاریخي او ساینسي نظریې ورکوي،لیکن د عبرت او هدایت څخه خالي او تش ړانده او کاڼه بیرته راځي) ﴿۹۲﴾

وَلَقَدۡ بَوَّأۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ صِدۡقٖ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ فَمَا ٱخۡتَلَفُواْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿۹۳﴾

وَلَقَدۡ او بېشکه بَوَّأۡنَا ورکړو مونږ ځای د اوسیدلو بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بني اسرآئیلو ته مُبَوَّأَ صِدۡقٖ ډېر ښه ځای وَرَزَقۡنَٰهُم او رزق ورکړو مونږ دوی ته مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ د پاکو شیانو څخه فَمَا ٱخۡتَلَفُواْ او دوی اختلاف ونکړو حَتَّىٰ تر هغې پورې جَآءَ چې راغئ هُمُ دوی ته ٱلۡعِلۡمُۚ علم(په حقیقت د پوهیدلو) إِنَّ بېشکه رَبَّكَ رب ستا يَقۡضِي به فیصله وکړي بَيۡنَهُمۡ په منځ د دوی کې يَوۡمَ په ورځ ٱلۡقِيَٰمَةِ د قیامت فِيمَا په هغه څه کې كَانُواْ فِيهِ چې دوی په هغې کې يَخۡتَلِفُونَ اختلاف کولو ﴿۹۳﴾

وَلَقَدۡ او بېشکه(د فرعونیانو د غرقیدلو څخه وروسته) بَوَّأۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ صِدۡقٖ مونږ بني اسرآئیلو ته(په ځمکه کې)د اوسیدلو ډېر ښه ځای ورکړو وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ او د پاکو شیانو څخه مو رزق ورکړو فَمَا ٱخۡتَلَفُواْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُۚ بیا دوی(په خپلو منځونو کې)اختلاف ونکړو،مګر هغه وخت چې کله دوی ته علم راغئ و(مطلب دا دی چې وروسته دوی کوم اختلافات او نوي نوي مذهبونه پیدا کړل.د دې سبب دا نه و چې دوی په حقیقت نه پو هیدل،او دا هرڅه دوی په ناپوهۍ سره کول،بلکې دا هر څه دوی د پوهې سره د نفسي خواهشاتو،شهرت،دولت،رهبرۍ او قدرت دپاره

کول،لکه چې نن يې مونږ هم په مسلمانانو کې په سترګو ګورو.د الله تعالی د طرف څخه ورته په واضح ډول حق دين ښودل شوئ و چې دا حق دين دی،ليکن دوی د الله تعالی راليږل شوي هدايات او يو حق دين پريښودلو او زياتي مذهبي فرقي يې جوړي کړي،او په خپلو منځونو کې يې اختلافات شروع کړل) إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ بېشکه ستا رب به د قيامت په ورځ د دوی په منځ کې د هغي شي په باره کې فيصله وکړي په کوم کې چې دوی(په دنيا کې) اختلاف کولو. ﴿٩٣﴾

فَإِن كُنتَ فِي شَكّٖ مِّمَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ فَسۡـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقۡرَءُونَ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكَۚ لَقَدۡ جَآءَكَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ﴿٩٤﴾

فَإِن نو که چيرته كُنتَ يې ته فِي شَكّٖ په شک کې مِّمَّآ د هغه څه په باره کې أَنزَلۡنَآ چې مونږ نازل کړئ دی إِلَيۡكَ تا ته فَسۡـَٔلِ نو پوښتنه وکړه ٱلَّذِينَ د هغو (خلکو څخه) يَقۡرَءُونَ چې لولي هغوی ٱلۡكِتَٰبَ کتاب مِن قَبۡلِكَۚ مخکې د ستا څخه لَقَدۡ بېشکه جَآءَكَ راغلئ دی تا ته ٱلۡحَقُّ حق(قرآن) مِن رَّبِّكَ ستا د رب د طرف څخه فَلَا تَكُونَنَّ نو مه کيږه ته مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ د شک کوونکو ځيني. ﴿٩٤﴾

فَإِن كُنتَ فِي شَكّٖ او که ته په شک کې يې مِّمَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ د هغه(قران په باره کې) چې مونږ تا ته(د محمد«صلی الله عليه وسلم»پواسطه) درليږلئ دی(يعني که د قرآن په صداقت او حقانيت کې دې شک وي) فَسۡـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقۡرَءُونَ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكَۚ نو بيا د هغو خلکو څخه پوښتنه وکړه چې ستا څخه مخکې(يعني د قرآن څخه مخکينی آسماني کتاب،تورات يا انجيل) لولي(يعني ای د محمد«صلی

الله علیه وسلم» امتي!که د نبي علیه السلام په پیغمبرۍ او د قرآنکریم
د حقانیت په باره کې شک لري،نو بیا د قرآن څخه د مخکینیو
کتابونو تورات او انجیل د باانصافه او نیکو علماوو څخه پوښتنه
وکړه،یعني د قرآن څخه د مخه دنورو آسماني کتابونو پواسطه تحقیق
وکړه،نو درته به د لمر په شان معلومه شي چې:) لَقَدۡ جَآءَكَ ٱلۡحَقُّ
مِن رَّبِّكَ یقیناً ستا د رب د طرف څخه تا ته حق(قرآن) راغلئ(چې
په حقانیت او ریښتینولۍ کې ئې هیڅ شک نشته) فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ
ٱلۡمُمۡتَرِينَ نو د شک کوونکو څخه مه کیږه ﴿٩٤﴾

وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٩٥﴾

وَ او لَا مه تَكُونَنَّ کیږه ته مِنَ د ٱلَّذِينَ هغو(خلکو)ځیني
كَذَّبُواْ چې دروغ یې ویلي بِـَٔايَٰتِ په آیتونو باندې ٱللَّهِ د الله تعالی
فَتَكُونَ ګنې نو شې به مِنَ د ٱلۡخَٰسِرِينَ تاوانیانو ځینې ﴿٩٥﴾

وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ او د هغو خلکو ځیني مه کیږه
چې د الله تعالی د آیتونو تکذیب یې کړئ دی(یعني د یهودو او
نصرانیانو په شان مه کیږه،ځکه چې هغوی ته په تورات او انجیل
کې د قرآن او نبي علیه السلام پیشبیني او زیرې معلوم دي،ښه
پوهیږي چې نبي علیه السلام آخرزمان پیغمبر او قرآن د الله تعالی
حق او وروستنی کتاب دی،لیکن د ضد او دشمنۍ په سبب دروغ
وایي،حق پټوي،او دالله تعالی آیتونه دروغ ګڼي،نو که ته هم د کتابیانو
په شان د ضد او دښمنۍ لار ونیسې!) فَتَكُونَ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ نو ته به
(هم) د تاوانیانو د ډلې څخه شې(لکه یهود،نصرانیان و غیره) ﴿٩٥﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتۡ عَلَيۡهِمۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٩٦﴾

إِنَّ بېشکه ٱلَّذِينَ هغه(خلک) حَقَّتۡ چې ثابته شوې عَلَيۡهِمۡ په هغوی باندې كَلِمَتُ خبره رَبِّكَ ستا د رب«جل جلاله» لَا يُؤۡمِنُونَ هغوی ایمان نه راوړي. ﴿٩٦﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتۡ عَلَيۡهِمۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٩٦﴾
بېشکه هغه خلک چې په هغو باندې ستا د رب خبره ثابته شوې،هغوی(نور)ایمان نه راوړي(یعنې هغه خلک چې د ضد،دښمنۍ او نفسي خواهشاتو په سبب دوامداره ګناهونه کوي،نو د دوامداره ګناهونو په سبب یې په زړونو مهرونه لږېږي،او د مهرونو د لږېدلو نه وروسته داسې خلکو ته ایمان نه نصیب کیږي،ځکه چې په داسې زړونو نور نه تبلیغ اثر کوي او نه دعوت).

وَلَوۡ جَآءَتۡهُمۡ كُلُّ ءَايَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٩٧﴾

وَلَوۡ اګر که جَآءَتۡهُمۡ راشي دوی ته كُلُّ ءَايَةٍ هره نشانه حَتَّىٰ تر دې چې يَرَوُاْ دوی وګورې ٱلۡعَذَابَ عذاب ٱلۡأَلِيمَ دردناک ﴿٩٧﴾

وَلَوۡ جَآءَتۡهُمۡ كُلُّ ءَايَةٍ اګر که دوی ته هره نښه(او دلیل) راشي(خو بیا هم ایمان نه راوړي) حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ تر هغې پورې چې دردناکه عذاب وګورې(نو بیا ایمان راوړي،لکه فرعون،خو په هغې وخت کې بیا ایمان راوړل ورته هیڅ فایده نکوي) ﴿٩٧﴾

فَلَوۡلَا كَانَتۡ قَرۡيَةٌ ءَامَنَتۡ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوۡمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُواْ كَشَفۡنَا عَنۡهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ ﴿٩٨﴾

فَلَوۡ نو ولې لَا كَانَتۡ نشو قَرۡيَةٌ یو کلی(یو قوم) ءَامَنَتۡ چې ایمان یې راوړی وَی فَنَفَعَهَآ او ګټه کړې وه هغه (کلي یا قوم)ته إِيمَٰنُهَآ ایمان راوړلو د هغه (کلی یا قوم) إِلَّا پرته قَوۡمَ د قوم يُونُسَ د یونس علیه السلام څخه لَمَّآ کله چې ءَامَنُواْ هغوی ایمان راوړو كَشَفۡنَا (نو) لرې کړو مونږ عَنۡهُمۡ د هغوی څخه عَذَابَ عذاب ٱلۡخِزۡيِ رسوا کوونکۍ(شرمووونکۍ) فِي ٱلۡحَيَوٰةِ په ژوند کې ٱلدُّنۡيَا د دنیا وَمَتَّعۡنَٰهُمۡ او فایده ورکړه مونږ هغوی ته إِلَىٰ حِينٖ د یو وخت پورې. ﴿٩٨﴾

فَلَوۡلَا كَانَتۡ قَرۡيَةٌ نو ولې یو کلی(یا قوم داسې) نه وو ءَامَنَتۡ چې ایمان یې راوړی وو(مخکې د عذاب د راتلو څخه،لکه د نوح،هود،صالح او لوط علیهم السلام کلي یا قومونه) فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ چې ایمان راوړلو یې ورته ګټه کړې وه(او د الهي عذاب څخه بچ شوي وو) إِلَّا قَوۡمَ يُونُسَ پرته د یونس علیه السلام د کلی(او قوم) څخه(چې د درې ورځو مهلت ورکول شوی و،یعنې که په درې ورځو کې یې ایمان نه و راوړی، نو عذاب به ورباندې راغلی و،خو کله چې دوه ورځې پوره شوي په دریمه ورځ یونس علیه السلام د کلي څخه ووتلو، دوی پوه شو چې عذاب راتلوونکۍ دی،نو د دریمې ورځې د پوره کیدلو څخه مخکې ټول ځوانان،بوډاګان،ماشومان سره د مالونو یو لوی میدان ته لاړل،الله تعالی ته په ژړا او په زاریو شو،ټولو د زړه څخه توبه وویستله او ایمان یې راوړو،نو) لَمَّآ ءَامَنُواْ کله یې چې(توبه وویستله او) ایمان یې راوړو كَشَفۡنَا عَنۡهُمۡ عَذَابَ

ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا نو مونږ په دنیاوي ژوند کې د هغوی څخه د رسوایۍ(او شرموولو) عذاب لرې کړو وَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ او تر یو وخته پورې مو فایده ورکړه.(په دنیا کې) ﴿۹۸﴾

وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَأٓمَنَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ كُلُّهُمۡ جَمِيعًاۚ أَفَأَنتَ تُكۡرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿۹۹﴾

وَ او لَوۡ که شَآءَ غوښتلی رَبُّكَ رب ستا لَأٓمَنَ خامخا به ایمان راوړئ و مَن څوک فِي ٱلۡأَرۡضِ چې په ځمکه کې دي كُلُّهُمۡ جَمِيعًاۚ هغوی ټولو أَفَأَنتَ آیا ته تُكۡرِهُ مجبوروي ٱلنَّاسَ خلک حَتَّىٰ د دې پورې يَكُونُواْ چې شي هغوی مُؤۡمِنِينَ مؤمنان. ﴿۹۹﴾

وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ او که چیرته ستا رب غوښتلی لَأٓمَنَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ كُلُّهُمۡ جَمِيعًاۚ نو په ځمکه کې چې څومره خلک دي،ټولو به ایمان راوړئ وو أَفَأَنتَ تُكۡرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ نو آیا ته خلک تر هغې پورې مجبوروې يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ چې مؤمنان شي؟ (بلکې ستا کار خلکو ته ستا د رب پیغام رسول دي،او هدایت ورکول ستا د رب په اختیار کې دي) ﴿۹۹﴾

وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تُؤۡمِنَ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَجۡعَلُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿۱۰۰﴾

وَ او مَا كَانَ ممكن نه ده لِنَفْسٍ د هيڅ چا دپاره أَن چي تُؤْمِنَ
ايمان راوړي إِلَّا مګر بِإِذْنِ په اذن(او توفيق)سره ٱللَّهِۚ د الله
تعالی وَ او يَجْعَلُ هغه«جل جلاله» اچوي(مسلط کوي) ٱلرِّجْسَ
ګندګي(د کفر) عَلَى ٱلَّذِينَ په هغو خلکو باندې لَا يَعْقِلُونَ چې عقل
نه استعمالوي ﴿١٠٠﴾

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ او د هيڅ چا دپاره ممکن نه ده أَن تُؤْمِنَ چې ايمان
راوړي إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِۚ پرته د الله تعالی د اذن(او توفيق)څخه(يعني تر
څو پورې چې د الله تعالی عدالت او انصاف د چا د ايمان راوړلو
فيصله ونکړي او الله تعالی د بنده د ايمان راوړلو اراده پوره
نکړي،هيڅ څوک ايمان نشي راوړلی.) وَيَجْعَلُ ٱلرِّجْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ
او الله تعالی مسلط کوي(اچوي د کفر) نجاست(او ګندګي) په هغو
خلکو باندې لَا يَعْقِلُونَ چې عقلونه نه استعمالوي(يعني د الله تعالی
په آيتونو کې غور او فکر نکوي،خپلو ځانونو ته تکليف نه ورکوي
او په پټو سترګو د هر چا تقليد او پيروي کوي.) ﴿١٠٠﴾

قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَا تُغۡنِي ٱلۡأٓيَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٖ
لَّا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠١﴾

قُلِ (دوی ته) ووايه ٱنظُرُواْ تاسو وګورئ مَاذَا څه شی چې فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ په آسمانونو کې وَ او ٱلۡأَرۡضِۚ په ځمکه کې دي(د الله
تعالی آيتونه او نښې دي) وَمَا تُغۡنِي ليکن ګټه نکوي ٱلۡأٓيَٰتُ دا
آياتونه(نښې او دلايل) وَٱلنُّذُرُ او ويرول عَن قَوۡمٖ هغو خلکو ته
لَّا يُؤۡمِنُونَ چې ايمان نه راوړي ﴿١٠١﴾

هغه خلک چې د الله تعالی په وجود او وحدانیت یقین نکوي او یا شکمن دي،نو!

قُلِ ٱنظُرُواْ ورته ووایه چې وګورئ(یعني په غړیدلو سترګو د ټکنالوجي او ټیلیسکوپ په سترګو په غور او فکر سره چې:) مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ څه شی چې په آسمانونو او ځمکه کې دي(ټول د الله تعالی د وجود او وحدانیت آیتونه او نښې دي،د کائناتو په ټولو شیانو کې نظم،ډیزاین،هماهنګي،کنټرول و غیره د حال په ژبه وایي چې زموږ یو خالق دی،زموږ یو ډیزاینر دی،زموږ یو رازق دی،زموږ یو کنټرولر دی.....) وَمَا تُغۡنِي ٱلۡأٓيَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ لیکن دا آیاتونه او ویرول هغه چا ته ګټه نه رسوي چې ایمان نه راوړي.(یعني چې هر څومره معجزې،دلایل او د الله تعالی د قدرت نښې وګورې،خو چې د الله تعالی په وروستني کتاب قرآنکریم او وروستني پیغمبر محمد«صلی الله علیه وسلم»باندې ایمان رانوړي،او په بت پرستۍ یا نصرانیت یا یهودیت....باندې کلک ولاړ وي،هیڅ ګټه ورته نکوي،او نه به دالله تعالی د عذاب څخه خلاص شي) ﴿١٠١﴾

فَهَلۡ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثۡلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِهِمۡۚ قُلۡ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ﴿١٠٢﴾

فَهَلۡ نو آیا يَنتَظِرُونَ انتظار کوي دوی إِلَّا پرته مِثۡلَ په شان أَيَّامِ د(بدو)ورځو ٱلَّذِينَ د هغو خلکو خَلَوۡاْ چې تیر شوي دي هغوی مِن قَبۡلِهِمۡۚ مخکې د دوی څخه قُلۡ ورته ووایه فَٱنتَظِرُوٓاْ نو بیا تاسو انتظار کوئ إِنِّي بېشکه زه(هم) مَعَكُم ستاسو سره مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ د انتظار کوونکو څخه یم ﴿١٠٢﴾

فَهَلۡ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثۡلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِهِمۡۚ نو آيا اوس دوی پرته
د دې څخه نور د څه شي انتظار کوي چې همغه بدي ورځې وګورې
چې د دوی څخه مخکې تیرو شوو خلکو لیدلې دي(یعني دا خلک چې
د واضحه آیاتونو او دلایلو سره-سره بیا هم ایمان نه راوړي،نو دوی
خو بیا هماغسې عذاب غواړي او انتظار يې کوي کوم چې د دوی
څخه پخوا د نوح علیه السلام په قوم،عادیانو،ثمودیانو او فرعونیانو
باندې راغلي وو،لیکن د عذاب او هلاکت په وخت کې بیا ایمان
راوړل نه قبلیږي،نو ) قُلۡ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ورته
ووایه(چې ایمان نه راوړئ نو) بیا تاسو(هم د عذاب د راتلو) انتظار
کوئ (او)زه به هم ستاسو سره انتظار کوم ﴿١٠٢﴾

ثُمَّ نُنَجِّي رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كَذَٰلِكَ حَقًّا عَلَيۡنَا نُنجِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٣﴾

ثُمَّ بیا(کله چې عذاب راځي نو) نُنَجِّي مونږ نجات ورکوو رُسُلَنَا
خپلو پیغمبرانو ته وَٱلَّذِينَ او هغو خلکو ته ءَامَنُواْ چې ایمان يې
راوړئ وي كَذَٰلِكَ همدارنګه حَقًّا حق دی عَلَيۡنَا په مونږ باندې
نُنجِ چې نجات(خلاصئ)ورکړو ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنانو ته. ﴿١٠٣﴾

ثُمَّ نُنَجِّي رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كَذَٰلِكَ حَقًّا عَلَيۡنَا نُنجِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٣﴾
بیا(کله چې داسې وخت راشي یعني عذاب راشي نو!) مونږ خپلو
پیغمبرانو او هغو کسانو ته نجات ورکوو چې:ایمان يې راوړئ
وي.زمونږ همدا کړنلاره ده،په مونږ باندې دا حق دی چې مؤمنانو ته
نجات(او خلاصئ)ورکړو.

| |
|---|
| قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي شَكّٖ مِّن دِينِي فَلَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِنۡ أَعۡبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُمۡۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٤﴾ |

ای پیغمبره«صلی الله علیه وسلم»خلکو ته!

| |
|---|
| قُلۡ ووایه چې: يَٰٓأَيُّهَا ای ٱلنَّاسُ خلکو إِن که كُنتُمۡ یئ تاسو فِي شَكّٖ په شک کې مِّن دِينِي زما د دین (په باره کې) فَلَآ أَعۡبُدُ نو زه نه کوم عبادت ٱلَّذِينَ د هغو (معبودانو او خدایانو) تَعۡبُدُونَ چې تاسو یې عبادت کوئ مِن دُونِ پرته د ٱللَّهِ الله تعالی څخه وَ او لَٰكِنۡ لیکن أَعۡبُدُ زه عبادت کوم ٱللَّهَ د الله تعالی ٱلَّذِي هغه ذات يَتَوَفَّىٰكُمۡۖ چې تاسو مړه کوي وَ او أُمِرۡتُ ما ته حکم شوئ دی أَنۡ چې أَكُونَ زه شم مِنَ د ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنانو ځینې. ﴿١٠٤﴾ |

| |
|---|
| قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي شَكّٖ مِّن دِينِي (ای پیغمبر«صلی الله علیه وسلم»مشرکانو او د حق دین څخه منکرانو ته!) ووایه چې:ای خلکو که چیرته تاسو زما د دین(اسلام)په باره کې په شک کې یئ فَلَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ نو تاسو چې د الله تعالی څخه پرته د کومو(خدایانو او معبودانو)بندګې(او عبادت) کوئ،زه د هغوی بندګې(او عبادت) نه کوم. وَلَٰكِنۡ أَعۡبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُمۡۖ بلکې زه یوازې د هغه الله تعالی بندګي کوم چې ستاسو مرګ د هغه«جل جلاله» په قبضه(او اختیار)کی وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ او ما ته حکم شوئ دی چې د مؤمنانو ځینې شم ﴿١٠٤﴾ |

| |
|---|
| وَأَنۡ أَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٠٥﴾ |

وَ او(ماته حکم شوئ دى) أَنۡ چې أَقِمۡ سم کړه(برابر کړه)
وَجۡهَكَ مخ خپل لِلدِّينِ حَنِيفًا د شرک څخه پاک د توحيد دين ته
وَلَا تَكُونَنَّ او ته مه کيږه مِنَ د ٱلۡمُشۡرِكِينَ د مشرکانو ځينې.
﴿١٠٥﴾

وَأَنۡ أَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا او (ما ته حکم شوئ دى) چې خپل مخ د شرک څخه پاک د توحيد دين ته سم(اوبرابر) کړه وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ او د مشرکانو ځينې مه کيږه. ﴿١٠٥﴾

وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٦﴾

وَلَا تَدۡعُ او اواز مه کوه(د مرستې دپاره) مِن دُونِ پرته د ٱللَّهِ الله تعالى څخه مَا هغو(خدايانو او معبودانو)ته لَا يَنفَعُكَ چې نه تا ته ګټه درسولاى شي وَلَا يَضُرُّكَۖ او نه تا ته ضرر درسولاى شي فَإِن خو كه چيرته فَعَلۡتَ ته داسې وکړې فَإِنَّكَ نو بېشکه ته به إِذٗا په دغه وخت کې مِّنَ د ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمانو څخه يې ﴿١٠٦﴾

وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ او (حکم راته شوئ دى چې:) پرته د الله تعالى څخه هغو(خدايانو او معبودانو ته چې خلکو په خپله په خدايئ نيولي دي لکه بتان،اور،لمر او انسانان)چې نه فايده درسولاى شي او نه ضرر،ورته د مرستې دپاره اوازونه(او سوالونه)مه کوه(چې:اَى فلانکيه! ما ته دولت رکړه،ماته ځوى

راکړه،دا دا تکليفونه رانه لرې کړه ......) فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ او که(فرضاً)ته داسې وکړې نو پرته د شک او شبهې څخه ته به په دغه وخت کې د ظالمانو څخينې يې. ﴿١٠٦﴾

وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يُرِدۡكَ بِخَيۡرٖ فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهِۦۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾

وَ او إِن که يَمۡسَسۡكَ دروړسوي تا ته ٱللَّهُ الله تعالى بِضُرّٖ څه ضرر فَلَا نو نشته كَاشِفَ هيڅ لرې کوونکئ لَهُۥٓ د هغه(ضرر ستا څخه) إِلَّا پرته د هُوَۖ هغه«جل جلاله»څخه وَ او إِن که يُرِدۡكَ هغه«جل جله» اراده وکړي تا ته بِخَيۡرٖ د څه خير(او ښيګڼې د رسولو) فَلَا نو نشته رَآدَّ هيڅ منع کوونکئ لِفَضۡلِهِۦۚ د هغه«جل جلاله» فضل(او مهرباني) ته يُصِيبُ هغه«جل جلاله» رسوي بِهِۦ هغه(فضل او مهرباني) مَن چا ته يَشَآءُ چې هغه«جل جلاله» غواړي مِنۡ د عِبَادِهِۦۚ بندګانو خپلو څخينې وَ او هُوَ هغه «جل جلاله» ٱلۡغَفُورُ غفور (او) ٱلرَّحِيمُ رحيم دى. ﴿١٠٧﴾

وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ او که الله تعالى تا په کوم مصيبت کې واچوي نو پرته د هغه«جل جلاله»څخه بل څوک نشته چې دا مصيبت درځينې لرې کړي وَإِن يُرِدۡكَ بِخَيۡرٖ فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهِۦۚ او که هغه«جل جلاله تا ته کومه د خير(او ښيګڼې) اراده وفرمايي،نو هيڅوک داسې نشته چې د هغه د فضل(او رحم) مخه ونيسي يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ او د هغه«جل جلاله»چې د خپلو بندګانو څخه هر چا ته خوښه شي،خپل فضل او رحم ورباندې کوي.(يعنې د

هر چا اعمال چې د الله تعالی په عدالت او انصاف کې د رحم مستحق شي،الله تعالی وربانديْ رحم کوي) وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ او هغه«جل جلاله» بښوونکې او رحم کوونکې دی. ﴿۱۰۷﴾

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِوَكِيلٖ ﴿۱۰۸﴾

قُلۡ ته ووایه يَٰٓأَيُّهَا ای ٱلنَّاسُ خلکو قَدۡ یقیناً جَآءَكُمُ راغلې تاسو ته ٱلۡحَقُّ حق(دین) مِن رَّبِّكُمۡۖ ستاسو د رب د طرف څخه فَمَنِ نو څوک چې ٱهۡتَدَىٰ هدایت قبلوي فَإِنَّمَا بېشکه حقیقت دا دی چې يَهۡتَدِي هغه هدایت قبلوي لِنَفۡسِهِۦۖ د خپل ځان دپاره وَ او مَن څوک چې ضَلَّ گمراه کیږي فَإِنَّمَا نو بېشکه حقیقت دا دی چې يَضِلُّ هغه گمراه کیږي(هغه گمراهي قبلوي) عَلَيۡهَاۖ خپل ځان ته وَ او(ورته ووایه چې) مَآ نه یم أَنَا۠ زه عَلَيۡكُم په تاسو باندې بِوَكِيلٖ نگران(او ساتونکی) ﴿۱۰۸﴾

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ خلکو ته ووایه چې:ای خلکو بېشکه تاسو ته ستاسو د رب د طرف څخه حق او ریښتینی دین راغلې دی، فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖنو څوک چې د حق(دین یعني قران او سنتو) هدایت او لارښودني قبلوي،حقیقت دا دی چې د خپل ځان دپاره هدایت قبلوي(فایده او گټه یې پخپله همده ته ده،او جنت به یې ځای شي) وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۖ او څوک چې گمراه کیږي(د حق دین څخه) حقیقت دا دی چې (یوازې)خپل ځان گمراه کوي(بل چا ته هیڅ ضرر نشي رسولی،نقصان او تاوان یې خپل کیږی،دوزخ به یې د اوسیدلو ځای شي) وَ مَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِوَكِيلٖ او (ورته ووایه) چې زه په تاسو نگران او ساتونکی نه یم(چې تاسو

په زوره ایمان راوړلو او د دین منلو ته مجبور کړم،په ما خو تاسو ته
د الله تعالی پیغام رسول دي،نور تاسو ته الله تعالی عقلونه هم درکړي
او اختیار هم،کټه هم تاسو ته ده او تاوان هم تاسو ته دی.) ﴿١٠٨﴾

وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَٱصۡبِرۡ حَتَّىٰ يَحۡكُمَ ٱللَّهُۚ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿١٠٩﴾

وَ او ٱتَّبِعۡ ته پیروي کوه(تابعداري کوه) مَا د هغه څه يُوحَىٰٓ
چې وحې کیږي إِلَيۡكَ تا ته وَٱصۡبِرۡ او صبر وکړه حَتَّىٰ تر څو
چې يَحۡكُمَ فیصله وکړي ٱللَّهُ الله تعالی وَ او هُوَ هغه«جل
جلاله» خَيۡرُ بهتر ٱلۡحَٰكِمِينَ فیصله کوونکۍ دی. ﴿١٠٩﴾

وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ او(ای پیغمبر «صلی الله علیه وسلم» ته د هغه
څه پیروي کوه چې تا ته یې وحې کیږي وَٱصۡبِرۡ حَتَّىٰ يَحۡكُمَ ٱللَّهُۚ او
صبر کوه(په تکلیفونو باندې) تر هغې چې الله تعالی فیصله وکړي.
وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ او(بېشکه چې:) هغه «جل جلاله» بهترین فیصله
کوونکۍ دي. ﴿١٠٩﴾

بارک الله لی ولکم فی القرآن العظیم و نفعنی و ایاکم
بالآیات و الذکر الحکیم.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د هود سورت مکي دی پرته د ۱۲،۱۷او ۱۱۴ آیتونو څخه چي مدني دي.۱۲۳ آیتونه او لس رکوع لرې،په تلاوت کي یولسم او په نزول کي ۵۲ سورت دی،او د یونس د سورت څخه وروسته نازل شوئ دی.

| |
|---|
| الٓرۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ﴿١﴾ |

| |
|---|
| الٓرۚ د دې په مطلب او معنی الله تعالی پوهیږي كِتَٰبٌ (دا هغه)کتاب دی أُحۡكِمَتۡ چي محکم(او محفوظ شوي دي) ءَايَٰتُهُۥ آیتونه د ده ثُمَّ او فُصِّلَتۡ په مفصل ډول واضح بیان شوي دي مِن د لَّدُنۡ طرف نه حَكِيمٍ د حکیم (او) خَبِيرٍ باخبره (الله تعالی) ﴿١﴾ |

| |
|---|
| الٓرۚ د دې حروفو په معني او مطلب الله تعالی پوهیږي كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ دا(قرآنکریم هغه)کتاب دی،چي آیاتونه یې محکم(او محفوظ)شوي دي(یعنې د الفاظو او معنی په اعتبار د فصاحت او بلاغت په اعتبار،لنډه دا چي د هر اړخه بالکل پوره او مکمل دي،هره خبره ئې آخره او هر قانون ئې د قیامت پورې دي،نه ترمیم او تغیر ته ضرورت لرې،او نه په کي څوک تغیر راوستلی شي ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ او د حکیم او خبیر(الله تعالی) د طرف څخه په پوره تفصیل سره په واضحه توګه بیان شوي دي(یعني د قیامت پورې چې:د ژوند په هر اړخ کي د انسانانو ټولو مشکلات او ضرورتونه دي،د ټولو حل،او مکمل قوانین په قرآنکریم کې د الله تعالی د طرف څخه په تفصیل او واضح ډول بیان شوي دي،لیکن |

متاسفانه چې انسانانو د الله تعالی رالیږل شوئ قانون پریښئ دی،او په خپلو انساني جوړو شوو قوانینو عمل کوي،د اغیارو څه ګیله،په موجوده وخت کې وګورئ! په ټوله دنیا کې نه چیرته اسلامي نظام شته او نه په یو ملک کې چا د اسلام قانون نافذ کړئ،نو څنګه به د الله بندګان په ځمکه کې خوشاله شي،قانون د طاغوت مني،او خوشالي او جنت د الله تعالی څخه غواړي. ﴿۱﴾

أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ ﴿۲﴾

او د دې محکم او مفصل کتاب لوی مقصد دا دی:

أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ چې عبادت(او بندګې) مه کوئ إِلَّا پرته ٱللَّهَ د الله تعالی څخه (د بل چا) إِنَّنِي (ای پیغمبره «صلی الله علیه وسلم»خلکو ته ووایه چې:) بېشکه زه لَكُم تاسو ته مِّنۡهُ د هغه«جل جلاله»د طرف څخه نَذِيرٞ ویرونکئ وَ او بَشِيرٞ زیری درکوونکئ یم ﴿۲﴾

أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ (د دې مفصل او محکم کتاب د نزول لوی مقصد دا دی چې:) تاسو پرته د الله تعالی څخه د بل چا عبادت(او بندګې) مه کوئ إِنَّنِي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ (ای پیغمبره «صلی الله علیه وسلم»خلکو ته ووایه چې:) بېشکه زه د هغه«جل جلاله» د طرف نه تاسو ته ویروونکئ یم(یعني تاسو د الله تعالی د عذاب،قیامت،حساب او دوزخ څخه ویروم) او زیری درکوونکئ(هم) یم(یعني د الله تعالی په نعمتونو او جنت زیری درکوم) ﴿۲﴾

وَأَنِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُمَتِّعۡكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى وَيُؤۡتِ كُلَّ ذِي فَضۡلٖ فَضۡلَهُۥۖ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ كَبِيرٍ ﴿٣﴾

وَ او أَنِ دا چې ٱسۡتَغۡفِرُواْ تاسو ببننه وغواړئ رَبَّكُمۡ د خپل رب نه ثُمَّ او تُوبُوٓاْ توبه وباسئ إِلَيۡهِ هغه«جل جلاله» ته(نو!) يُمَتِّعۡكُم هغه«جل جلاله»به درکړي تاسو ته مَّتَٰعًا حَسَنًا د ژوند ښه وسايل إِلَىٰٓ أَجَلٖ د يو وخت مُّسَمّٗى معلوم(مقرر) پورې وَيُؤۡتِ او وربه کړي كُلَّ هر ذِي فَضۡلٖ صاحب د فضل ته (د فضل مستحق) ته فَضۡلَهُۥ د هغه(برخه)فضل وَإِن او که چيرته تَوَلَّوۡاْ تاسو مخ واړوئ فَإِنِّيٓ نو پرته د شکه زه أَخَافُ ويريږم عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې عَذَابَ د عذاب يَوۡمٖ د ورځې كَبِيرٍ لويې ځينې ﴿٣﴾

وَأَنِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ او دا چې! د خپل رب څخه ببننه وغواړئ،او د هغه«جل جلاله»طرف ته راوګرځئ يُمَتِّعۡكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى نو هغه «جل جلاله»به د يو ټاکلي او مقرر وخت پورې د ژوند ښه وسايل درکړي وَيُؤۡتِ كُلَّ ذِي فَضۡلٖ فَضۡلَهُۥۖ او هر د فضل مستحق ته به د هغه برخه فضل عطا کړي(يعنې د هرچا اعمال چې د الله تعالى په عدالت او انصاف کې د الله تعالى د فضل او رحم مستحق شي،نو الله تعالى به ضرور خپل فضل او رحم ورباندې کوي) وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ كَبِيرٍ او که چيرته مخ واړوئ(يعنې ببننه ونه غواړئ او توبه ونه باسئ) نو زه په تاسو باندې د يوې لويې ورځې د عذاب څخه ويريږم(يعنې د قيامت د هيبتناکې ورځې د عذاب څخه) ﴿٣﴾

إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿٤﴾

إِلَى ٱللَّهِ الله تعالى ته مَرۡجِعُكُمۡۖ ورګرځيدل دي ستاسو(الله تعالى ته ورتلل دي ستاسو) وَ او هُوَ هغه«جل جلاله» عَلَىٰ په كُلِّ هر شَيۡءٖ شي قَدِيرٌ قادر دى(او الله تعالى په هر كار باندې قادر دى) ﴿٤﴾

إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡۖ الله تعالى ته ستاسو ورتلل دي(د حساب او فيصلې دپاره) وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ او هغه «جل جلاله» په هر شي(او د هر كار په كولو) قادر دى(يعنې هغه «جل جلاله» ته دا ډېر آسان كار دى چې:دوباره ستاسو خواره واره اتومونه سره يو ځاى كړي،او پس د مرګه مو بيا ژوندي كړي) ﴿٤﴾

أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ صُدُورَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ أَلَا حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٥﴾

منافقانو به په ښکاره پيغمبر عليه السلام او صحابه كرامو(رضى الله عنهم) ته خوږې او ښې خبرې كولې ليكن په زړه كې به يې ورسره بغض او كينه وه،نو دوى به په خپلو كې يو بل ته سينې ورتاوولې، ځانونه به يې يو بل ته ورګرول،او سرونه به يې سره نږدې كول،او خپلې جامې(يا ښادرونه)به يې سرونو سرونو راكشول تر څو چې ونه پيژندل شي او بيا به يې خپلې د منافقت خبرې د پيغمبر عليه السلام او مسلمانانو په خلاف سره كولې.آيت ته توجه وكړئ!

أَلَآ خبردار إِنَّهُمۡ بېشکه دوی يَثۡنُونَ کږوي(قاتوي) صُدُورَهُمۡ
سينې خپلې(يو بل ته، او يوبل ته سرونه او غوږونه نږدې کوي)
لِيَسۡتَخۡفُواْ د دې دپاره چې دوی ځانونه پټ کړي مِنۡهُۚ د هغه«صلی
الله عليه وسلم» څخه أَلَا خبر دار حِينَ کله چې يَسۡتَغۡشُونَ
دوی ځانونه پټوي ثِيَابَهُمۡ په جامو خپلو(يعنې جامې يا څادرونه په
سر راکشوي،او بيا د مسلمانانو په ضد د منافقت خبرې کوي، خو)
يَعۡلَمُ هغه«جل جلاله» پوهيږي مَا په هغه څه يُسِرُّونَ چې دوی
يې پټوي وَمَا او په هغه څه يُعۡلِنُونَۚ چې دوی يې ښکاره کوي
إِنَّهُۥ بېشکه چې هغه«جل جلاله» عَلِيمُۢ پوه دی بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ د
سينو په رازونو باندې(د زړونو په خبرو باندې) ﴿٥﴾

أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ صُدُورَهُمۡ خبردار هغه خلک چې هغوی (يو بل
ته)خپلې سينې تاووی(او کږوي،او او خپلې جامې يا څادرونه په
سرونو راکشوي) لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ د دې دپاره چې د هغه«صلی الله
عليه وسلم»څخه ځانونه پټ کړي(او بيا نو د هغه عليه السلام او
اسلام په ضد د منافقت خبرې کوي،ليکن!) أَلَا حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ
خبردار!په هغه وخت کې چې دوی په خپلو جامو ځانونه پټوي(او
سرونه او غوږونه سره نږدې،او پټې د منافقت خبرې کوي،نو په
همدې وخت کې هم) يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ الله تعالی د دوی په هغو خبرو
پوهيږي چې دوی يې پټې کوي(يوبل ته په غوږونو کې) وَمَا يُعۡلِنُونَۚ
او په هغو (خبرو هم الله تعالی پوهيږي)چې دوی يې ښکاره
کوي(يعنې چې په ښکاره يې پيغمبر عليه السلام ته کوي،ځکه چې:)
إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ بيشکه هغه «جل جلاله» د سينو په پټو
رازونو پوهيږي ﴿٥﴾